# جنګلاوه

## محمدآصف عمر

«نېکمرغۍ ته تر رسېدو د هغې ساتل ګران دي. ځکه خو دوام نه کوي» په شاته سیټ کې د چادري کړې ښځې د خبرو همدا معنا وه. د سپینو جامو او تور واسکټ سړي کټ کټ وخندل. ځو میاشتې مخکې به یې په تروه لهجه ځواب ورکړی وای. مګر اوس حالات بدل وو. په روانه اونۍ کې خو کنځا هم ورباندې بده نه لګېدله. غټه تنه یې په چوکۍ سمه ولګوله. موټر یې ګېر ته واچاوه. غټ مخ یې آینې ته جګ کړ. ننوتې خوله یې وخوځېدله. ویې ویل:

– یانې د بنګلې جوړولو نه یې ساتل سخت دي؟ بل چېرته ونه وایې کنه نو!

شاته دوه همزولې نجونې موسکۍ شوې. له څنګه یې د ښځې غږ ووت:

– هه! تا خو جنګ ته پرېده.

سړي په زوره زوره وخندل. ښځې مخ بلې خواته واړاوه. وبنګېدله:

– وی الا! مست دی مست.

په سړي د هغې غږ او حرکات هماغسې خواږه لګېدل لکه ۲۵ کاله مخکې چې یې نوی واده کړی و. ویې ویل:

– ایله مې بخت بیداره شوی. د ټول ژوند ارمان مې پوره کېږي کنه نو، ظالمې.

ښځې چادرې په سر سمه کړه. جدي غږ یې جګ شو:

– اله سړیه خیر دې وي خیر! صبر وکه! پوره خو شي کنه. بیا وارېږه!

– پوره نو څنګه وي؟ اینشالا امدا هفته ده. د طانه بازو او کتره بازو مخونه تور تور تور! ههههه.

سړي په منګوله لنډ شناوي وېښتان شاته ټېلوهل. ښځې وویل:

– امې، د تېلو خړوسکه بوی دی.

وړو نجونو هم پزې ونیولې. سړي غټې ګردې سرمې کشې کړې. بوی یې ونه موند. ویې نه ښودله. د حیثیت خبره وه. د ښینښې تڼۍ یې کېکاږله. د سهار تازه هوا ولګېدله. په آینې پسې ځوړند تعویذ ته یې ګوتې ور وړې. په نریو شونډو او غټ تندي یې ولګولې. ماشي سراچه د چاودېدلو دېوالونو په کنډو او کپره کوځه کې نرمه بهېدله. بې پرتوګه ماشوم د خاورو د تو[illegible] جوړول پرېښودل. له دېوال سره جو[illegible]:

– وی خدایه! تانه جارشمه! مانه خانمجانه خیرنه ام ښه ده.

چېرته لېرې آسمان وغورېد. سړي شترنګ وڅرخاوه چې ماشوم ونه وهي. په خندا یې وویل:

– وه لېونۍ! اوس خو خدای تاته ام اولاد درکړی کنه نو.

– وی صبر وکه! تر اوسه لا چېرته دی.

دوئ په بله کوڅه وګرځېدل. یو نیم پوخ او د روښانه رنګونو کورپکې د ژوند تفاوت ښود. په تندي به یې ماشاالله لیکل شوي وو. وړو هلکانو د لرګیو په تختو کرکېټ کاوه. څښور ځوان یې سیل ته ولاړ و. په موټر کې سړي سر ته ټکان ورکړ:

– تو نالت! اول غټ برېتونه بدماشي وه، اوس د شیشکو څښې دي.

د ماشي سراچې په رسېدو هلکانو لوبه ودروله. څښور ځوان ناري کړې:

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کریم اوستاذه ستړی مشې!

کریم ورته په موسکا له ښیبنې منګوله وښودله. لنډه شناوی ږیره یې ورپېډله:

– ستړی مشې، ستړی مشې! خدای به دې زر ورک کي ښه! ههههه

ځوان وانه ورېډل. د ښځې دا کارونه نه خوښېدل. وبنګېډله (وی الا توبه!) کریم جدي شو:

– څه شی توبه؟ خبره یې؟ چرس وهي، پوډر وهي، قمار، غلا، زنا، بچه بازي، وایمه هر بد کوي. او ورځ په ورځ ډېرېږي نالتیان. څه ما ام ورته د تبایۍ تخم کرلی دی. ههههه.

ښځې غبرجګ کړ:

– وی الا سرېه! ایله خدای خوشالي راکوي. په غم یې مه اړوه!

– نه کنه نو! هر کله بدي په نېکي زورورېږي. دا ځل به سرچپه وي. ما نېکي ته دارې پیدا کړي دارې.

هغې مخ واړاوه. خړ سپي په چاودېدلي دېوال باندې تورې پیشو پسې غپل. ښځې وویل:

– وی چې دارې لري نېکي نشوه نو.

– داده اوښیاره. نو بدي به څنګه د منځه ورو؟

ښځې لنډ ځواب ورکړ:

– په نېکي.

له کټ کټ خندا سره د کریم سوروري اوږې ولړزېدلې. ویې ویل:

– یاني چې ظالم دې ډبوي ته قوربان قوربان وایه! چې ستړی کېده یخې اوبه ام ورکوه! بیا نو اغه خپله مري. ههههه.

ښځې له اسویلي سره مخ واړاوه. په خړ څادر کې تاو سپینږیری پیتاوي ته ناست و. کریم غږ کړ:

– بوډا څنګه یې بوډا؟

سپینږیري ځمکې ته لاس کړ. لکه تیږه چې لټوي. په موټر پسې یې نارې کړې:

– بوډا دې پلار دی. کوپ خولیه! غېږه راسره نیسې؟ ستا ددده...

کریم له خندا شین واوښت. یوه اونۍ کېدله چې ننوتې خوله یې له خوشحالۍ څخه نه راټولېدله. آن له هاغو سره یې ټوکې کولې چې مخکې نه غږېده. خبره داوه چې هغه ورځ یې ښځه دایې ته تللې وه. هغې ورته په دوو اونیو کې د ماشوم د پیدا کېدو وویل. ده کرۍ ورځ د خوښۍ اوښکې تویولې. اوس د کره نېټې د معلومولو لپاره ډاکټرې ته روان و. د غرونو د پاسه په تورو وریځو کې د تالندې کرېږې ورېږې کرښې وځغلېدلې. خو دلته آسمان برګ و. موټر د کلي یوبرابر سرک ته ووت. تر ټایرونو لاندې یې کرېږ وغرچېد. کریم په اکسلرېټر پښه کېکاږله. په سرک راچنګو ونو شین تونل جوړ کړی و. تر هغو لاندې تګ خاص خوند ورکاوه. له کانتینري بازارګي تېر شو. پټیو ته ووت. نري شمال د غنمو بوټي نځول. د شنو پټیو بوی خوږ لګېده. یوه مرغۍ د غنمو له منځه نېغه هوا ته جګه شوه. بېرته لکه مرمۍ ننوتله. ورو نجونو سپین پټنګان شمېرل. چې په جنګ به شول له دوئ څخه به حساب ګډوډ شو. موټر په نمجن سرک تېز روان و. نابېره یې په خښنو تیږو ټوپونه ووهل. ښځې چیغه کړه:

– وی الا وی! ودروه! وایمه ودروه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم بریک ته پښه واچوله. ښځه کېوتله. خېټه یې نیولې وه. د ویالې په غاړه تر اینځر لاندې کړه کېناستله. هاخوا په جبه زارې ځمکې کې هلکانو وریان پیول. کریم ګوډ ګوډ مېرمنې ته ورغی. په زړه کې ترې ګیله من و، چې مشکل په سمه نه، په قهر حلوي.
خو راروانه خوشحالي یې نه خرابوله. د هغې د خندولو هڅه یې وکړه:
– وایمه منمه دې، منمه دې. توره دې کړې کنه نو. پښې دې مچي کمه؟ ههههه.
نجونو د موټر په کړکۍ کې پخوهل. ښځې مخ اړولی و. د چادري له جګېدو او ټیټېدو څخه معلومېدله چې په غصه ده. یودم راوګرځېدله. غږ یې کړ:
– مانه ویلې، آ؟ بخت لرې. ساتلی یې نشې. خدای که دې ارمان پوره که!
د کریم په مغزو کې کړنګ شو. موسکا یې له شونډو والوتله. یو قدم شاته لاړ. د زړه په مستانه باغ کې یې د خوښۍ شور د غم په انګازو بدل شو. د غرونو دپاسه برېښنا له پل او پول سره د آسمان ټټر وڅیره. د کریم نرۍ شونډې وربږدېدلې. ویې ویل:
– کنځا وکه کنځا! خو دا مه وایه!
ښځه غلې شوه. چوپتیا وغځېدله. آن د مرغیو یکړه اوازونه او د وریانو نازکې رمباړې هم نه راتللې. کریم سر جګ کړ. د ښځې سترګې په ده کې وې. اوښکې یې ځلېدلې. دی د زړه په زور موسکی شو. لاس یې وغځاوه:
– راځه تېز نه ځمه. خو ډاکټره نهو پورې وي. چې ورسېږو کنه نو.
ښځه له ځایه ونه خوځېدله. سوړ اسویلی یې وکړ. غریو نیولی غږ یې ووت:
– ما اسې خبره وکړه. په قاره ومه.
د کریم زړه لاډک شو. د نمجنو سترګو د پټولو لپاره یې سر ښکته واچاوه. په غټه ګرده پزه کې وبنګېد:
– پروا نکوي.
ښځې یې اوږد لاس ونیو. بل لاس یې په ځمکه ولګاوه. جګه شوه. خو سترګې یې له مېړه څخه نه اړولې. ویې ویل:
– چې ښځه ګرانه وي سړی یې هره ګونا ښښي. زه ګرانه نه یمه.
کریم کټ کټ وخندل. موټر ته ننوت. شېبه پس په پاخه سرک نرم وڅرخېد. لمر د وربځو د ټاپو تر شا پټ شو. شمال یخ لګېد. موټر تر غونډۍ تاو شو. دښته او کروندې یې شاته پرېښودلې. له رنګارنګه پخو کورونو، سرایونو، دکانونو او چوکونو تېر شو. هرڅومره چې د ښار منځ ته ننوته ګڼه ګوڼه زیاتېدله او د شمال یخني کمېدله. د دنګو مارکېټونو په منځ کې روان و. اته منزله ودانۍ ته ورسېد. کریم د دویم منزل لوحې ته وکتل «دوکتور جمیله نسایي او ولادي متخصصه» د سرک دواړو خواوو ته یې نظر واچاوه. د ګوړې، تازه میوو، ترکاریو، کباړي بوټونو او د نقلي ګاڼو کراچۍ اوږه په اوږه ولاړې وې. د موټرسایکل ترڅنګ یې تش ځای وموند. شترېنګ یې وڅرخاوه. کیلي یې جېب ته کړه، ووت. له پوخ لښتي واوښت. خوسا بوی جګ شو. پزه یې مونجه کړه. په نژدې کراچۍ کې د شورنخودو له دېګ څخه تاوده تېوونه ختل. ګوډ ګوډ ورغی. په زړه کې یې وویل «چې راووتلمه یو قاب خو وهمه کنه نو» د ځوړندې شونډې ځوان د مشتري راتګ ته تازه شو. ده په موټر د پام کولو وویل. هغه شونډه ورپوله:
– دېش روپۍ کېږي ماما. سرای کې په سات پنځوس اخلي.
– ههههه، زه تش پورته کېږم بېرته وځمه. خیر دی. شل دې شوې کنه نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې د کریم خندانه او ځواکمنه څېره یې خوښه شوه. په موسکا یې سر وخوځاوه. ده د لاس ساعت ته وکتل. پاو باندې اته وې. له موټره راوتې مېرمن یې له لاسه ونیوله. نجونې هم ورپسې شوې. د زینې سر ته ورسېد. د ښځو شور یې غوږ ته راغی. سر یې د هلېز ته ننوېست. ژر شاته شو. وپسېد:

– سم غوبل دی. ولاکه نوبت راشي. څه وکو کنه نو؟

ښځې اوړې واچولې. ده نا ببره هغه په لاسو کې لکه ماشوم جګه کړه. ښځې وویل:

– وی، دا څه کوې؟ شرم دی. خوشې!

کریم د هلېز ته ننوت. نارې یې کړې:

– اله لاره وکئ لاره! ډېره پاذابه ده کنه نو. لرې شه خورې! ړنده یې؟

مېرمنو ځانونه راټول کړل. کریم یې په منځ کې ګوډ ګوډ تېرېده. ښځه درنده وه. چېچې معیوبې پښې یې برېښ کاوه. د معاینه خانې مخې ته موظف چاغکي هلک په شک کتل. کریم دروازه په اوږه ټېلو هله. د ننه یې ښځه نرمه خوشې کړه. سا یې سوزېدله. په اوږدې چوکۍ کېناست. زنګون یې کېکاږه. د سترګو له کونجه یې ښځه لیدله چې یو قرار ګوري. وپسېد:

– د غسې غورې دې کنه نو.

هغې له نجونو سره پخوهل. د دوا بوی و. کریم پرده خلاصه کړه. معاینه خانه لکه ورغوی پاکه وه. دوه الماري، غټ مېز او څلور چوکۍ له آسماني تختو جوړې وې. لکه ښیښه ځلېدلې. د مېز په سر یې قلم او کاغذ ولید. خو ډاکټره نه وه. نظر یې چپ لاس ته د سپینو تختو دېوال ته لاړ. د دروازې په ځای کې سپینه پرده خوځېدله. د ښځو بنګ بنګ و. سر یې مېرمنې ته تاو کړ. وپسېد:

– مریضه ورسره ده.

سترګې یې ددې کوټې دېوالونو ته جګې کړې. غټو غټو رسمونو د مور په نس کې د ماشوم حالتونه ښودل «سر ښکته پښې پورته، سر پورته پښې ښکته، په لنډو او مایل» کریم نه پوهېده چې کوم حالت سم دی. د ننه پرده کشه شوه. ډاکټره د مېز څنګ ته ودرېدله. تک تور پیکې یې په تک سپین مخ څپره وهلې وه. سپینې نرۍ دستکشې یې د خزلو ټیم کې وغورځولې. مریضې ته یې نسخه ورکړه. هغه تېزه ووتله. کریم ښځه له متې ونیوله. د ډاکټرې څنګ ته یې په چوکۍ کېنوله. د عطرو بوی یې په دماغو خوږ ولګېد. بېرته خپل ځای ته لاړ. ډاکټرې ورپسې په قهر کتل. سر یې ولړزاوه. ویې پوښتل:

– ته چا د ننه پرېښودلې؟

کریم مخ وګرځاوه. تر نریو برېتونو لاندې یې په نریو شونډو نرمه موسکا خوره وه. ویې ویل:

– ښځه مې نشوه راتللی کنه نو. زموږ کار جوړ دی. یوازې د زېږېدو ورځ مالوموو، وځو.

پرده یې خلاصه ونیوله. په اوږدې چوکۍ کېناست. ډاکټرې په سوړ اسویلي ښځې ته کړ:

– دلته خو چادرې جګه که!

هغې ګرد مخ لڅ کړ. وړې سترګې یې وسولولې. وړه پزه یې په ګوتو کشه کړه. ډاکټره یې د اننګو تورو چاپونو ته ځیر شوه. د هغې په پړسېدلې خېټه یې لاس وواهه. تکې سرې شونډې یې وخوځېدلې:

– کور کې ګرځې که نه؟

کریم له لېرې غبږ کړ:

– نه ډاکټر صیب. پیاله څه ده پیاله؟ اغه نه وینځي. پینځه خورزې لرمه. یوه افته یوه وي، یوه افته بله.

ډاکټرې جدي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– پرېږده خپله کار وکي! ډېره ناسته ورته ښه نده. یوازې دروند شی دې نه پورته کوي، خلاص.
ښځې سر وښوره. ډېلې شونډې یې وریږدولې:
– وی، نه نه. پینځه ویشت کاله پس مې خدای اولاد پاتې کړی. شوکر! شوکر!
ډاکټرې یې د خېټې ځینې ځایونه کېکاږل. سر یې ولړزاوه. ویې پوښتل:
– ښه دا اولباري دی؟
ښځې ورې سترګې ښکته واچولې. ګرد مخ یې وخوځاوه. ډاکټرې سر وړاندې کړ. وپسېدله:
– مخکې دې حمل نه اخېسته څنګه؟
– وی، ولې نه. نه ټینګېده. زیارتونه، پنډ پنډ دوا. په تیره یې اړوه نو. دا وار غیبي خدای مهربانه شو. شوکر! شوکر!
ډاکټرې نجونو ته وکتل. کریم له هماغه ځایه غږ کړ:
– دا مې وربېرې دي. وسیمه او هاجره. موږ ته بختورې شوې دي کنه نو. میرحمزه خدای راکه. ههههه.
ډاکټره بیا پوه نه شوه. سر یې له ولاړ پیکي سره ولړزاوه. ویې پوښتل:
– میرحمزه څوک دی؟
ښځې خپلې پړسېدلې خېټې ته اشاره وکړه. ډاکټرې پخوهل. ویې ویل:
– تاسې پې وختي نوم ایښی. جالبه ده. ډېره جالبه ده. څه پوه شوئ چې الک دی؟
– وی، زموږ چې الک وي کانګې کوو، تروه ډېر خورو، د غوښې بوی بدلګېږي.
ډاکټرې نرۍ منظمې وروځې بره کش کړې. د مېز له جعبې یې نوې دستکشې واخېستلې. ویې پوښتل:
– نوم دې څه دی؟
– بي بي نازیه.
– څو کلنه یې؟
هغه غلې شوه. ډاکټرې یې تار تار سپینو وېښتانو ته وکتل. کریم غږ کړ:
– د پینځه څلوېښتو او پنځوسو منځ کې ده.
نازیې سر وړاندې کړ. ویې ویل:
– ای ډاکټر صیب! میرحمزه پخوا غوندې نه خوځېږي. چې دا ولې؟
– پروا نه کوي! اخېره مرحله کې امداسې وي.
ډاکټرې دستکشې په لاس کړې. نازیه یې دننه وبلله. کریم پېښې په ځمکه وټپولې. صبر یې نه کېده. کوز او بر وګرځېد. شېبه پس پرده خلاصه شوه. ډاکټره راووتله. کریم ګوډ ګوډ ورغی. په موسکا یې وپوښتل:
– ډاکټر صیب! میرحمزه مې د خیره کله پیدا کېږي کنه نو؟
– ستاسې خو کار جوړ دی. ولې وارخطا یې؟
کریم له شرمه سور واوښت. نرۍ شونډې یې وریږدلې:
– موږ خو نادیده یو کنه نو. په دې زړښت کې خدای اول بچي راکړی. کور ورته جوړومه. خلاص کړی مې دی. یوازې درې ورځې کار پکې شته. ما ویلې چې بچی مې په نوي کور کې پیدا شي د خیره.
هغه د فیس لپاره د تور واسکټ جیبونه لټول. د ډاکټرې جګ غږ ودراوه:
– پام پام پام! په کور کې نه، زېږنتون کې به ولادت کوي.
د کریم له څېرې موسکا وتښتېدله. ویې پوښتل:
– ولې؟ څه خبره ده؟ الته دایه شته کنه نو.
ډاکټرې سر ولړزاوه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دا یه مایه پرېږده! دا ماشوم سم کار غواړي. ام ډېر غټ دی ام سرچپه. سر پورته پښې کته.

د کریم سا اخېستل تېز شول. نازیه چابکه راووتله. ورېږ سترګې یې وازې نیولې وې. غږ یې کړ:

– وی، الا خیر کې! ما خو ویلې چې مه وارېږه سړیه! ته خو...

ډاکټرې مخ هغې ته کړ:

– او ته تروري! چې دا په لمنې دې اوبه راغلې ځان زېږنتون ته رسوه!

بېرته راتاوه شوه. کاغذ یې هک پک ولاړ کریم ته ونیو. تکې سرې شونډې یې ورپېدلې:

– دا التهورکه! دستي یې املیاتخانې ته ننباسي.

نازیې په دواړو ورغوو غومبرو ته شرک ورکړ. غږ یې کړ:

– وی‌ی! املیات؟ اوس؟

ډاکټرې سر وخوځاوه. ویې ویل:

– سبا غرمې پورې وخت شته. خو چې زر وشي ښه دی. ماشوم ضایع کېږي.

په کریم سر وګرځېد. رنګ یې تک سپین اوښتی و. په سینه کې یې فشار احساس کړ. ککره یې وځړېده. نازیې د نهیلۍ زګېروي کول. کریم سرې سترګې جګې کړې. په رېږدېږدونکو شونډو یې وویل:

– بې غمه اوسه! زه به نه یمه، میرحمزه به وي. پویه شوې؟ راځه چې ځو!

ooooooooooo

په سرک ګڼه ګوڼه وه. نازیې په شاته سیټ کې سر ځوړند نیولی و. نجونې هم غونجې ناستې وې. د کریم سا تنګه تنګه کېدله. ښیبنه یې ښکته کړه چې په اسانۍ نفس واخلي. د بازار شور و. تعویذ ته یې وکتل. ورشخه ګیله من و. خو بیا یې هم ګوتې ور وړې. په شونډو او تندي یې ولګولې. د شورنخودو بوی یې په پزه ولګېد. له دېګ شخه هما غسې تپونه ختل. ده ترې مخ وګرځاوه. موټر یې چالان کړ. ځوان لاس وغځاوه. په موسکا یې ځوړنده شونډه وخوځوله:

– ای ماما! پوره ورځ دې تېره کړه. دېش روپۍ راکه‌نو!

کریم ټېلو اهه:

– لرې که مرادار لاس دې! دباندې یې ونیسه!

ځوان حیران شو. کریم شلګون په ورغوي ورکېکاږه. مخ یې وګرځاوه. ځوان جدي وویل:

– دا کمې دي دا.

کریم برک وهل:

– ځه ورک شه! موټر خو ستا په اوږه ولاړ نه و. د دولت سرک دی.

د خلکو سترګې ور واوښتلې. ځوان په غصه شا واړوله. کریم وښنګېد:

– د مخې غله دي. نشته کنه‌نو، داسې پاچا نشته چې د ټولو سرونه پرې کې.

نازیې په اندېښنه وکتل. کریم بېرته پخواني حالت ته په اوښتو و. هاغه وخت چې د اولاد طمع یې نه وه. ژوند ورته بې معنا ښکارېده. ټوکې ټکالې او مجلسونه وربانديې بد لګېدل. سیخ به خپل کار ته روان و. په مسجد کې به یې ځادر په سر کش کړ. غلی به ناست و. یوه ورځ یو سپینږیري د پوډري زوی له لاسه سر ټکاوه. ویل یې پیسې راشخه په زوره اخلي. د کور سامان خرڅوي. خلکو ملامت کړ چې یو زوی لارې ته نه شي راوستلی. ده د مخالفت د عادت له مخې د سړي ننګه وکړه. دا ځل نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسجد ورسره ودرېد. د غرور احساس ورغی. وروسته یې د همدې خبرې لمن ونیوله. مجلسونو ته زړور ته. تل به یې موضوع له کلي څخه د نا اهله ځوانانو ورک کول وو. د دغه کار لپاره د ځوانانو د ډلې په جوړولو لګیا شو. ژوند یې بېرته معنا پیدا کړه. خو دا معنا له کرکې زېږېدلې وه. اوس یې بیا خندا په غصه بدله شوې وه. نجونې له ډاره د نازېې په تخرګ ننوتې وې. کریم شترنګ تاو کړ. پرله پسې یې هارنونه کول. خو خلک لکه کاڼه چې وي. دی له قهره وپشېد. نېکټایي والا ته یې له بښینې څخه غږ کړ:

– ای ای غرونډي والا! سړی یې که غویې؟ لاره پرېده!

سړي د سر په زنګولو افسوس څرګند کړ. څنګ ته شو. د اردو صاحب منصب د موټر مخې ته راغی. لاسونه یې خوځول. کریم په جنګ ور ووت:

– ای ای! څه خبره ده کنه نو؟ اخوا ورک شه!

صاحب منصب د احتیاج له موسکا سره نژدې راغی. په ټیټ غږ یې وویل:

– وبښه وروره! یو کومک وکه!

کریم په زړه کې وویل «سوالګر دی خدای وهلی. د زړه سوي دپاره یې دا دریشي اغوستې ده» غوښتل یې په دا مخ یې ووهي. مګر له بښېرو یې وېرېده. سړي له متې ونیو، چې له موټره یې لېرې بوځي. کریم لاس کش کړ. سړي ورمېږ کوږ ونیو. ویې ویل:

– ته خو ګورې چې صیب منصب یمه. په میاشت کې یو وار کورته راځمه. ښځه مې د مکتب ماوېنه ده. ټوله ورځ الته وي. درې کلنه لور لرو. د اغې ساتلو ته نشو رسېدلی. غټان خو پرېده!

د کریم بیره وه. تاو شو چې موټر کې کېني. سړي بیا له متې ونیو. ویې ویل:

– ای د قسم حق نلرې، دغې وړې سره مو غوښې تویې کړې غوښې. هره ورځ خو یې مکتب ته نشي وړلی. او کورکې یې یوازې څنګه پرېږدې؟ ښځه مې ونیوله چې ویې ساتي. دسې مریضه شوه چې نږدې مړه وه.

د ترکارۍ والا غږ کړ:

– ای ماما! موټر لرې که! مخه دې نیولې.

د صاحب منصب پاک خریلی مخ تک سور واوښت. غاښونه یې وچیچل:

– خو له بنده که احمقه! یوه دیقه صبر نه کېږي! ټکه راپرېوتله.

کریم پوه شو چې صاحب منصب خو دی، خو زاري یې عجیبې وې. ورو ورو ورسره روان شو. سړي خبرې بیا وغځولې:

– دا ټول یوې خواته که! ښځه مې مریضه ده. دوا خورې. دا خو د نس ماشوم ته تاوان لري. ښه که ما یو به راشي؟

کریم چورت واهه «ښځه ښځه ډېره یادوي. شرمېږي ام نه. چې بد اخلاقه نه وي» د صاحب منصب سرې شونډې وریږېدې:

– بیا به ټول عمر ماشوم ام ځورېږي موږ ام. تاته خو مالومه ده چې اولاد څونه خوږ وي.

د کریم په تندي کې خط پیدا شو «دا ماته زور ښیي چې بې اولاده یمه که څنګه؟» سړي خبرې وغځولې:

– څوک مې موشکل نه ویني. لګیا دي، ګونا لري او ګونا لري. دین خو نه وایي چې کړاو ثواب دی، آرامي ګونا. خدای پاک خپله وایي ما مسلمان ته ام دا دونیا ورکړې ام اغه. دا څه مانا؟ ای! غټ ام ندی. نوی یې حمل اخیستی. قسم خورمه!

د کریم زړه تنګ شو. د سرک په منځ کې ودرېد. ویې ویل:

– نو دا ماته ولې وایې کنه نو؟ زما خپله مریض پاذاب دی. زېږنتون ته یې باید ورسومه.

– ای خیر دی. ډاکټرې ته دونه ووایه چې ښځه مې د نس ماشوم نه خلاصه کي! بیا ځه! څونه پیسې چې راځي تیاریمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کریم ماغزه ورته وخوټېدل:

– زه ډاکټرې ته ووايمه؟ زه ستا نوکريمه؟

– نه، خدای دې نکي! ډاکټره ستا خبره مني کنه. خپلوانه دې نده څه؟

د کریم سترګې له حیرانتیا راووتلې. غږ یې جګ کړ:

– چا درته ویلي؟

– هه، زه سترګې نه لرمه؟ اغه یو ازې خپلوان سړي د ننه پرېدي.

کریم کړپ کړپ ور وکتلې. یودم یې شا واړوله، لاړ. د صاحب منصب لاسونه وځړېدل. مړاوی تر لښتي واوښت. د دېوال بېخ ته په دوو پښو کېناست. مخ یې په لاسونو پټ کړ. کریم شترینګ وڅرخاوه. سترګې یې د روانو خلکو له منځه په هغه ولګېدلې. خپله بې وسي یې مخ ته ودرېدله. موټر یې څنډې ته کړ. ورروان شو. دواړه په زینه تېز وختل. کریم هاغه کاغذ چې ډاکټرې د زېږېتون لپاره ورکړی و، لکه بېرغ خوځاوه. ناري یې وهلې «لاره وکئ! لاره وکئ!» ښځې له «وی وی» غږونو سره څنګ ته شوې. کریم د دروازې هلک ته وویل:

– ډاکټرې غوښتي یو. تش دا کاغذ ګوري بېرته وځو.

د هلک ځواب ته یې ونه کتل، ننوت. ډاکټرې د مېز شاته په ولاړو کوم کاغذ کوت. هکه حیرانه شوه. پیکی یې ولړزاوه:

– اله اله وځئ! تېز! دننه مریضه ناسته ده.

کریم ګوډ ګوډ وړاندې ورغی. ویې ویل:

– یوه دیقه ډاکترصیب! د مرګ او ژوند خبره ده کنه نو. دا وینې؟ زما د ماما زوی دی. ښځه یې د مکتب مودیره ده. دغه تېر کال یې دوه واره د ځان وژلو کوشش وکه. د خدای فضل و، مور خبر شولو. پرې مو نښودله.

صاحب منصب په حیرانتیا کریم ته وکتل. ډاکټرې بیا سر ولړزاوه. ویې پوښتل:

– ولې؟ لېونۍ شوې وه؟

– نه، حمل یې اخېستی و کنه نو. بچیانو نه یې توره تېښته ده. چې حامله داره ښځه ووینې سپکه وری یې کې. ملامته نده. کال په کال یو راوړي. د بچیو ایساب تې ورک دی. تېر کال یې یو راوړ. څه دیدنی یې ونه لیدلې.

صاحب منصب سترګې ښکته واچولې چې ډاکټره یې په دروغو پوه نه شي. هغې وویل:

– دغه موشکل دی کنه. مور چې وایو دوه کاله وقفه وکئ، دغسې باسواده یې نه مني. د بې سوادو نه څه ګیله؟

– ډاکترصیب! اوس بیا حامله داره ده کنه نو. ابله ورځ یې یو موتی دوا خوړلې وه. دا غریب وېرېږي چې بل ځل مړه نشي. لس بچي به څوک ساتي؟ خپله په کال کې دوه واره کور ته راځي. که وظیفه پرېدي خاورې به خوري؟ او زما ماما، وی وی سړی بد ښکاري کنه نو. یو احمق سړی دی. نورو بچیانو ته یې ځمکه ورکړې ده. ده ته وایي تاسې تنخا لرئ. او خذمت یې ام په ده دی.

صاحب منصب په قهر وکتل چې پلار ته مې کنځا مه کوه. ډاکټرې غږ د سیسه کارانه ټیټ کړ. وپسېدله:

– صیبی شو. چاته مه وایئ! زه به یې چاره وکمه. ځئ نو!

دواړو ډېره زیاته مننه وکړه. دباندې صاحب منصب وپوښتل چې ډاکټره دې څه کېږي. کریم رښتیا وویل. صاحب منصب کړس کړس وخندل. دده له تور ټلیفون څخه یې ځان ته زنګ وواهه چې شمېره یې واخلي. کریم تېز موټر ته وخوت. نازیه په قهره وه چې خوشې وخت تېروي. کریم موټر ګېر ته واچاوه. شترنګ یې وڅرخاوه. هارنونه یې کول. تېز روان شو. نرۍ شونډې یې ورپېدلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اغه سړي سره مې کومک وکه. بچي يې ډېر دي. ساتلې يې نشي. غواړي د ګېډې ماشوم وغورځوي.

موټر په مرکزي واټ ورګډ شو. نازيې سر وزنګاوه. ويې ويل:

– وی، خدايه تا نه جار شمه نو. موږ پسې مرو، خلک تې پاذاب دي. دا څنګه کار دی؟

هغې سلګۍ ووهلې. د کريم سينه هم تنګه شوه. له هوا يې ډکه او تشه کړه. غږ يې ووت:

– کاش چې په منډه وای. په ټنډه ده مېرا ثمړي کنه نو.

د سرک جمپ ته ورسېدل. مخکيني ټايرونه يې اوښتي وو چې مسلح کس لاره بنده کړه. کريم له ښيښې سر واېست. ناري يې کړې چې لاره پرېږده زموږ بيړه ده. مسلح کس د وهلو ګواښ وکړ. ده غوښتل ور ووځي. نازيې کلک ونيو. خلکو ترپخې ويالې او پلې لارې هاخوا لويې فولادي دروازې ته کتل. د ساتونکو ګرده غرفه يې هم لرله. دننه پينځه منزله فولادي ودانۍ ښکارېدله. زينه ډوله بامونه يې په لرګينو کټارو راتاو وو. په سرک کې چادري کړې سوالګرې د ماشي سراچې ښيښې ته لاس اوږد کړ:

– خير وکه تروري! د بچي غم ونه ګورې! الله دې هر موشکل درباندې اسانه کې!

نازيې تر امين امين ويلو وروسته د مېږه پراخه اوږه وخوځوله. سوالګرې د نريو ګوتو تنکی لاس مخکې ښيښې ته ونيو. کريم لا هماغسې له قهره پشېده. له سوالګرې يې وپوښتل:

– دا لاره يې ولې بنده کړه؟

– اجي صيب رسول وځي.

– چې وځي وځي دې کنه نو. خلک به کار لري؟

سوالګرې څه ونه ويل. نازيې وپوښتل:

– دا څوک دی؟

– اجي رسول؟ اغه وطن چوک کې زما ځمکې پسې چې کلک نښتی کنه نو.

هغه زوړ لسګون د نجلۍ په ورغوي کې کېښود. سوالګرې تر تګ مخکې سر کړکۍ ته نژدې کړ. وپسېدله:

– ای ماما! که پيسې درکوي ځمکه ورکه! امدسې يې درنه اخلي ګوره.

کريم ورپسې کاږه وکتل. شاته د موټرو اوږده ليکه وه. دروازه خلاصه شوه. تور لنډکروزر او د ساتونکو تور پيک آپ تېز راووتل. په سرک وځغاستل. لاره خوشې شوه. د نازيې غږ بيا راغی:

– وی، سړيه سوالګرې رښتيا ويلې.

کريم غاښونه وچيچل. سل ځله يې ورته ويلي وو «چې پيسې پيدا کم مارکېټ پکې جوړومه. کړوسيانو پورې مې بس دی» خو هغې باور نه کاوه. په اکسلرېټر يې پښه کېکاږله. شېبه پس ماشي سراچه د موټرو په سېل کې له وطن چوک څخه واوښتله. نازيې د مارکېټونو په منځ کې ميدانۍ ته کتل. همدا ددوئ ځمکه وه. خلکو پکې موټران درولي وو. په څنډو کې يې تر ګوډو ماتو کراچيو لاندې د تشناب کاغذونه ښکارېدل. يو سړی متيازو ته ناست و. هغې وويل:

– وی، موږ ته ددغې ځمکې څه ګټه؟ خوشې پرته ده.

د کريم ورته ماغزه وايشېدل. قهرجنې سترګې يې آينې ته جګې کړې چې ويې رټي. ښځې يودم چيغه کړه «وی، وی، وی.» ډنګر سپينږيری د سرک په منځ کې، لکه نشه، کوږ او وږ کېده. بل موټر په څنګ ډېکه ورکړه. سپينږيری وار شو. کريم بريک ته پښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچوله. موټر ځای په ځای ودرېد. خو بیا هم سپینږیری ولګېد. سپینه خولی یې په بانټ وکولېدله. د موټر د څراغ ټوټې په سرک تویې شوې. کریم تېز ووت. د سړي ګنجی سر یې له ځمکې جګ کړ. ویې ښوراوه:

– ای کاکا! کاکا! اورې؟ اورې؟

رنګ یې سپین اوښتی و. د سترګو تور یې نه ښکارېده. ستوني یې خورس کاوه. کریم په موټر پسې وکتل. تښتېدلی و. خلک راټول شول. موټرانو هارنونه کول. نازیې له ښیښې کتل. نجونې له ډاره د هغې په تخرګ ننوتې وې. کریم له خلکو وپوښتل:

– شفاخانه چېرته ده؟ کومک وکئ کنه نو!

دریشي کړي ځوان غږ کړ:

– اغه خلاص دی، مړی. ای چېرته دي؟ دا وخت کې بیا نه پولیس پیدا کېږي نه ترافیک.

خلک په کریم برګ برګ کېدل. چا کم عقل باله، چا ړوند، چا لېونی. د هغه په تندي خولې وځلېدلې. سر یې ښخې کار پرېښی و. دوو تنو سپینږیری واخیست او منډه یې کړه. کریم د موټر دروازه خلاصه کړه. دریشي کړي ځوان یې مخه ونیوله:

– چېرته تښتې خان صیب!

کریم هم برګ شو. ټېل یې واهه:

– او لرې! تا پورې څه چې نېغ نېغ کېږې کنه نو؟ زه یې موټر کې شفاخانې ته بیایمه.

ځوان غاښونه وچیچل. دروازه یې په زوره پورې کړه. ویې ویل:

– شفاخانې مفاخانې ته نشې تللی! پوه شوې؟ څه مخکې شه! حوزې ته ځو.

کریم یې ټېلواهه. نژدې په شا لوېدلی و. څو تنه نور هم له ځوان سره ملګري شول. نازیه له موټره ووتله. غږونه یې کول چې مه یې وهئ. نجونو ژړل. کریم تک زېړ اوښتی و. د لاس په اشاره یې نازیه په موټر کې کېناستو ته وبلله. خپله د ځوانانو مخ ته ګوډ ګوډ روان و. پوهېده چې پولیس یې بندي کوي. څو چې رښتیا او دروغ ثابتېږي ورځې اوړي. ښځه او بچی به څنګه شي؟ حوزه لېرې نه وه. لوی لوی دېوالونه یې زندان ته ورته وو. کریم یو دم په ګوډه پښه تېز خوشې شو. ځوانان ورپسې وو. هغه د دروازې په خوله کې صاحب منصب ته ژر ژر لګیا شو:

– ډګروال صیب! دا الکان مې پرې ننښودل چې ښځې ته لاس واچوي. اوس ما وهي کنه نو. پام کوئ تومانچې ورسره دي.

عسکرو سمدلاسه په ځوانانو وسلې ونیولې. هغوئ پوښتنه کوله چې څه خبره ده. دوئ سر ترپښو تلاشي کړل. یو هم تومانچه نه لرله. کله چې یې مخ وګرځاوه، کریم نه و. دریشي کړي ځوان اصلي کیسه وکړه. صاحب منصب د موټر د پلېټ نمبر وغوښت. ځوان نه درلود. د سراچې ماشي رنګ او د چپې خوا مات څراغ یې مهمې نښې وبللې. هلته کریم تېز شترېنګ ته کېناست. موټر د ټایرونو له خرپس سره منډه واخیستله. نازیې غږ کړ:

– وی، څه خبره وشوه؟ چېرته ځو؟

– زېږنتون ته.

– اغه سړی څنګه شو؟

– او ته غلې کنه نو!

غټه لاری د سرک په منځ کې روانه وه. کریم په هارن ورغوی وټپاوه. خو هغه څنګ ته نه شوه. شاته د پېښې ځای ته د پولیسو رینجر راورسېد. خلکو دده په لور ګوته ونیوله. رینجر د تندي څراغونه ولګول. نارې یې جوړې کړې. په باډی کې ولاړ پولیس ده ته د درېدو اشاره کوله. هوایي ډزې یې وکړې. پلې خلکو سرونه ټېټ کړل. کریم لا وارخطا شو. په هارن یې ورغوی کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیو. لارۍ څنډې ته شوه. ده په اکسلرېټر پښه کېکاږله. د عقب آینه یې د سپیني کرولا له هغې سره ولګېدله. ډرېور په زوره کنځا وکړه. کریم وهم نه کتل. چوک ته ورسېد. ترافیکو د دېخوا موټران درولي وو. دی په پلې لار واوښت. غوښتل یې ځان راتلونکي چوک ته ورسوي. له هاغه ځایه سرک سیخ زېږېتون ته غځېده. خو د بل لاس روانو موټرو لاره نه ورکوله. ده د تېرېدو هڅه وکړه. موټرانو بریکونه ونیول. ګډوډي شوه. د خلکو چیغې وختلې. د چوک له هاخوا پولیسو له وسلو سره منډې وهلې.
کریم شاته وکتل. رینجر هم په پلې لار پورته شو. ده شترینګ ښی خواته وګرځاوه. مخه خلاصه وه. تر څو رینجر له ګڼې ګونې ځان وېسته کریم بل سرک ته ورسېد. چپ لاس ته تاو شو. راتلونکي چوک ته له رسېدو سره یې غوښتل د زېږېتون په لور وګرځي. هلته یې د پولیسو بل رینجر ولید. چاره نه وه. مخامخ سرک ته تېر شو. موټر یې د خپل کلي «زرین کلا» په لور سم کړ. له سرایونو او کورونو تېر شو. کرونډو ته ووت. ورپسې د ښته راغله. شاته د پولیسو رینجر نه معلومېده. غونډۍ ته ورسېد. په سرک تلاشي وه. کریم وارخطا شو. ډنګر ببرسرې سپینږیرې په پټیو کې خوشې و. نارې یې وهلې «جنګلاوه، جنګلاوه» خیرنه چپنه یې شمال رپوله. عسکرو په خندا ټوپکان خوځول او غږونه یې کول:
– ای شېرو ودرېږه! جنګلاوه، جنګلاوه...
نجونې د لېونی په لیدو تازه شوې. نازیې هم له ښیښې سیل کاوه. نرۍ هاجرې وپوښتل:
– ای کاکا! جنګلاوه څه ته وایي؟
کریم اوږې واچولې چې نه پوهېږم. سترګې یې په عسکرو کې وې. ډارېده چې ویې نه نیسي. تېز ورڅخه تېر شو. هغوئ د درولو کوشش هم ونه کړ. ده ایله اوس ستړیا احساس کړه. اوږې یې ځوړندې شوې. پرله پسې یې نفس اخېسته. نازیې وپوښتل:
– وی، اغه سړی څنګه شو؟ زما سودا ده.
– نه پوهېږمه کنه نو. ناحقه په ما تاوان شو.
– وی، خدایه، زیږېتون به څنګه شي؟
کریم بریک ته پښه یوړه. زړې ښځې د پټي په پوله وابنه رېبل. سست شوي موټر ته یې وکتل. کریم مخ نازیې ته وګرځاوه:
– ډېره پاذابه یې؟ ما شوم خو...
– وی، نه پوهېږمه. ځان مې خوږېږي.
– ته ودرې! شازمان یا دلاور راواخلو. بېرته ځو. که ما ونیسي اغه به درسره وي.
ooooooooo
د ښار په پینځه منزله فولادي ودانۍ کې د لوی سالون دروازه خلاصه شوه. د منځني عمر پخلیګر په سپیني خولۍ او سپین پېشبند کې د چایو پتنوس راوړ. نیم سالون په وطني قالینو فرش و. فولادي تو شکو له همرنګه پردو سره د هوسایۍ فضا جوړوله. پخلیګر د ویمې نیمې برخې ته لاړ. چېرته چې مېلمه په فولادي کوچ ناست و. پتنوس یې نرم د مېز په ښیښه کېښود. سور چاغ سپینږیري پاڅېد. ویې ویل:
– ته نو خلاص یې قوربان.
پخلیګر په پوره ادب لاس په ټټر کېښود. شا یې واړوله، ووت. سپینږیري تور نرۍ پکول په سر کېکاږه. لویې فولادي الماري ته ودرېد. هلته زینتي لوښي او د نرۍ د عجایبو نمونې په خورا ذوق درول شوې وې. د شا په هندارو کې انعکاس بېله ښکلا ورکوله. دوه د وچو میوو طلایي مېوه دانۍ یې را واخېستلې. کلسرې نېکټایي داره مېلمه ژر په پښو ودرېد. ویې ویل:
– اجي صیب ګوناګاره دې کړو. ماته وایه! زه یې کومه کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي دواړه مېوه دانۍ کېښودې. لکه واوره تکه سپینه او ګرد کۍ ډېره یې وخوځېدله:

– ریس صیب! کېنه! کېنه قوربان! ته مې د ډېر موهم کار دپاره غوښتی یې.

د ریس له پستې موسکا سره د زنې کنده کشه شوه. چې په رښتیا خوښ و که نه، یو خدای ته معلومه وه. ریسان ځکه ریسان دي چې خپل واقعي احساسات پټولی شي. حاجي یې ځنګ ته په کوچ کېناست. د شهادت غوښنه ګوته یې جګه کړه:

– دا مې قانون دی قوربان، کار چې خپله کولی شمه بل چا ته نه وایمه. لټان مې بدې شي.

ریس ګنجی سر وښوراوه. ویې ویل:

– خوشې خو د اجي رسول نوم د خلکو په خولو کې ندی.

دواړو وخندل. حاجي رسول د میوه دانیو سرپوښونه لېرې کړل. د بازار تر ټولو اعلی مېوه پکې پرته وه. که بادام و، که پیسته، که چهارمغز، که کاجو، هرې یوې ویل اول ما وخوره! ریس دوه بادامه خولې ته واچول. کړکیو ته یې لاس ونیو:

– د پي وي سي کمال ګوره! د موټرو غږ بېخي شته نه. او په دا سرک څونه رش دی.

د حاجي غږ ووت:

– اورام په سختۍ اخلي قوربان. او د بانک کارتونه ندي؟ اغه ام پي وي سي نه جوړ دي.

ریس وروځې بره کش کړې. د طلایي کرښو سپینه چاینکه یې واخېستله. خېټور ګیلاسونه یې ډک کړل. حاجي د بادامو څو دانې په خوله ومنډلې. د چای غړپ یې وکړ. تک سپین برېتونه او تکې سرې شونډې یې ورپېدلې:

– ډاکټران وایي مغزي مېوې د بدن غوړ کموي.

ریس پیسته پاکه کړه. ویې ویل:

– زه بیا په ایڅ شي لپ[1] نه یمه صیب. هو، خو کمه خورمه. فضل د خدای دی نه خېټه لرمه، نه فشار.

د حاجي له سترګو برېښېده چې فکر یې بل چېرته دی. موقع ته ګوري چې اصلي خبرې ته راشي. ګرده ډېره یې ورپېدله:

– زه لاس نشمه نیولی میراث.

ریس ژر غبرګه کړه:

– دره وال یې کنه. زما پلار ګوره! او اغه نذیر کاکا پېژنې کنه؟ اغه ګوره!

حاجي لنډ لنډ سر خوځاوه. په ډکه خوله یې وویل:

– رښتیا دي قوربان! ای د ببرک کارونه چېرته رسېدلي؟ د صرافۍ د مارکېټ.

د ریس سترګې په یو ټکي کې ودرېدلې. خو شخوند وهلو ته یې دوام ورکړ. پرته له سر جګولو یې وویل:

– د ښاروال په مېز پراته دي.

حاجي سر ته ټکان ورکړ:

– ویې ځنډوه قوربان!

ریس موسکی شو. د چای غړپ یې وکړ. مخ یې جاجي ته واړاوه:

– دا ښاروال ځوان دی. د پرمختګ هوا یې ککره پړسولې ده. چې کله یې هوا ووځي بیا به ګورو.

د حاجي نظر زېږ شو. خو په آرامه یې وویل:

---

[1] لپ = بند و واز

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په یو ښاروال بدلېدو ټوله ښاروالي بدله شوه؟ ناممکنه ده قوربان.

ریس لږ وړاندې شو. د کریستالي قندیل رڼا یې په کل سر کې انعکاس کاوه. د دوستۍ په پاریې د حاجي پوست لاس ونیو. په ښویه مخ کې یې کندې والا زنه ورپېدله:

– اجي صیب! راځه رښتیا ووایو! ستا تر اوسه د مارکېټ ځای ندی مالوم. او...

حاجي یې په خبره کې ولوېد:

– مالوم دی قوربان.

ریس ورځیر شو. حاجي سر وخوځاوه:

– هو، اغه د وطن چوک میداني ښیمه. د صرافۍ سرای ته نږدې ام دی.

ریس کږې وکتلې. په نازیې وویل:

– اجي صیب نووو. اغه خو ستا ندی کنه.

– زما یې وبوله قوربان.

ریس سترګې مېوه دانۍ ته کړې. ویې ویل:

– ښه ځه، قواله خو نشته. چې وشوه بیا اریضه کېږي. اریضه به ګرځي ګو چې ښاروال ته ورسېږي. ببرک به وخته امر اخېستی وي. ښاروال غواړي د صرافۍ زوړ سرای زر چپه کي. چې سرک تېر کي.

د حاجي رسول رنګ تک سور واوښت. بیا یې هم په نیولي غږ وویل:

– دا کارونه ماته پرېده! ته یې مدا وځنډوه!

– اجي صیب! زه...

– هرڅنګه چې کېږي ویې ځنډوه قوربان!

ریس نرمه موسکا وکړه. په مېوه دانې کې د مېوو په خوښولو لګیا شو. ویې ویل:

– اجي صیب! بل شی جوړ که! یوازې د صرافۍ مارکېټ کې خو ګټه نده.

حاجي رسول یو قرار ورکتل. تا به ویل اوس به یې په ګنجي سر په سپېړه ووهي. بیا یې هم په نرم غږ، خو په کلکه وویل:

– د صرافۍ مارکېټ باید زما وي قوربان! ما قسم کړی دی.

ریس پرته له سرپورته کولو غږ واېست:

– خبر یمه صیب. ببرک ام قسم کړی دی.

حاجي په وړو سږمو کې وپشېد. ګرد کی بدن یې وپړسېد. ریس ته له ډیکې ورکولو سره یې چیغه کړه:

– بد یې کړي دي. ببرک ببرک! ته اوس ما سره یې که ببرک خبیث سره؟

د ریس رنګ پک والوت. ایله پوه شو چې چېرته زور وي هلته نه منطق چلېږي نه چالاکي. د زارۍ په دود یې وویل:

– په خدای که کېږي. زه به بیا ام پینځو ورځو پورې کوشش وکمه.

حاجي په هماغسې جګ غږ وویل:

– پینځه کمې دي، پینځه.

د ریس غوږېدل اوس په چونګېدو بل شوي وو. د لاسونو ورغوي یې په ناامېدۍ راواړول. په ستوني کې ډوب غږ یې ووت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه اجي صيب! زه يو وړوکی د ملکيتونو ريس يمه. ښاروال چې راباندې امر وکي بايد اجرا يې کمه. او ببرک تمامه ورځ وزيرانو سره ډوډۍ خوري. ته خپله فکر وکه!

حاجي د هغه تندی په ګوته چوخ کړ. غاښونه يې وچيچل:

– ته چې څه کولی شې پاچا يې نشي کولی پاچا.

ريس د نهيلۍ له امله مخ واړاوه. د حاجي آرام غږ ووت:

– لس زره ډالر نور در کومه. پوی شوې؟

د ريس رنګ سپين اوښتی و. سترګې يې بې واره تاوېدلې. سر يې ښوراوه، پاڅېد. کندې والا زنه يې ورپېدله:

– اجي صيب! زما امدونه زور رسېږي. مړ مې که، نور نه کېږي. خپه کېږه مه!

هغه خدای پاماني وکړه. حاجي رسول له قهره ډکېده او تشېده. په مخ يې لاسونه کش کړل. پوټکی يې تک سور و اوښت. سپين غټ ټليفون يې د واسکټ له باندينې جېبه را واخېست. زنګ يې وواهه. ويې ويل:

– جباره! سالون ته راشه! يوازې!

شېبه پس جګ غبرګ ځوان له ډبلو برېتو سره په دروازه تېز ننوت. په جړ غږ يې وپوښتل:

– څه خبره شوه؟

د حاجي سا سوزېدله. غاښونه يې وچيچل. تکه سپينه ګردکۍ ږيره يې وخوځېدله:

– ببرک يې جېبونه پمپ کړي. مړسترګی ځان باسي.

جبار سر وښنډه. ويې ويل:

– دولتي مامور دی کنه. خپل او پردی نه پېژني. چاچې ورته سره او شنه وښودل امغه پسې ځي.

– لس مې پې واچولې. نه نه. د ابا يې په سوکړکو غاښونه ووتل، زوی يې ډالر نه اخلي.

حاجي شا واړوله روان شو. کړکۍ ته ودرېد. مخامخ ټيټ بام ښکارېده. پوخ سړي په جالۍ ښورولو کوترې الوزولې. ده وويل:

– د زرين کلا شازمان ته زنګ ووهه! وايه خسر مې سبا مازيګره پورې پيسې غواړي!

د جبار وروځې ورغلې. غږ يې کړ:

– ما امدا اوس خبرې وکړې. يوه افته وخت دې ورکړی. هېر دې شوه؟ ايله درې ورځې تېرې دي.

– دلايل پرېده قوربان! بيا زنګ ووهه! سبا د مازيګر پينځه بجې ورته وښيه!

جبار د شهادت په ګوته غټ برېتونه کېمنډل، چې نيغ ولاړ تارونه يې سملي. ويې ويل:

– اغه نور وخت غواړي. ته وايي سبا. زما يې په کال شک دی چې پيدا يې کي.

حاجي له کړکۍ را وګرځېد. تروې يې وکتلې. ويې ويل:

– پيدا دي.

جبار ورځير شو. حاجي وروځې واچولې:

– د ورور ځمکه يې نده؟ د وطن چوک ميدانی د کريم اوستاذ دی کنه. اغه به راکي.

د جبار تندی پراخه او خوله وازه شوه:

–آ، ښه ښه. ته نو ښه يو ځای نيسې، ولې بل ځای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي په شونډو کې نرۍ موسکا وکړه. د جبار څېره جدي شوه. ویې ویل:
– چل ښه چل دی. خو کریم اوستاذ د دولت نه پټ دی.
د حاجي په تندي کې ګونجې پیدا شوې. جبار خبره وغځوله:
– شازمان د امدې دپاره نور وخت غوښت کنه. ویلې ورېندار مې بې املیاته بچی نشي راوړلی. کریم اوستاذ شفاخانې ته بیوله، سرې یې وهلی. بیا تښتېدلی دی.
د حاجي د تندي ګونجې آوارې شوې. په چټکو ګامونو وړاندې ورغی. ویې ویل:
– دا خو اجیبه کار شوی قوربان. اوس نو کریم اوستاذ په لاس راغی.
جبار ورځیر شو. حاجي روښانه کړه:
– اولباري خو ډېر ګران وي قوربان. بیا په دغه عمر کې. که املیات یې وځنډوو مجبور به شي چې ځمکه راکې.
د جبار وروځې سره ورغلې. حاجي دوام ورکړ:
– یو کس دې د پولیسو جامې واغوندي. بل دې د کریم اوستاذ کور څاري قوربان. کله چې یې ښځه شفاخانې ته روانه کړه پولیس به یې ونیسي. دلته به ته راپیدا شې. کریم ته به ووایې چې اجي رسول په دغه دغه شرط کومک کوي.
جبار سترګې او شونډې کېکاږلې. جړ غږ یې ووت:
– دواړه زبردسته چلونه دي اجي صیب. یو نه یو خو چلېږي.
– بې غمه اوسه قوربان! د تېښتې لاره نلري. دریم چل دغو دواړو نه ښه دی.
جبار په وازو سترګو یو قرار کتل. د حاجي لکه واوره تکه سپینه ږیره ورپېدله:
– زرین کلا کې جنګ کېږي قوربان.
د جبار تندی لا پراخه شو. ژر یې وپوښتل:
– کله؟ کله؟
حاجي د بلې خوا کړکۍ ته په تګ کې ځواب ورکړ:
– نن سبا کې. ګوره د خولې نه دې ونه وځي قوربان! څو نورو ځایونو کې ام حمله کېږي.
جبار په خپل ځای کې وڅرخېده. ویې ویل:
– دا نو بېله خبره ده. جنګلاوه، جنګلاوه. هههههههه.
حاجي هم له خندا شین شو. وبنګېد «جنګلاوه» په حویلۍ کې یې تر لویې څېرې لاندې سپینو موټرو ته کتل. ټولو د ډبې شکل درلود. هېڅ ډول نښې یې نه لرلې. غږ یې ووت:
– ته نو دوه امبولانسه زرین کلا ته تیار بوځه! زه ام درځمه.
جبار تېز تېز سر وخوځاوه. دروازه په زوره خلاصه شوه. سره او سپینه ښځه سالون ته راغله. له بوټونو سره په تو شکو وختله. وړوکي ګاچ ټیکري یې یو ازې نیمه غاړه پټه کړې وه. په پراخه سینه یې د سروزرو دروند امېل پروت و. په پېړو پېړو مړوندونو کې یې د سرو بې شمېره بنګړي شرنګېدل. په جبار یې چیغه کړه:
– تاته ما وویلې زر راووځه ډاکټرې ته ځمه! ته بیا ورک شوې. خدای دې ورک که!
جبار سر ښکته واچاوه. حاجي ور روان شو. په نرمه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته ساړه وخوره لورې! جبار...
– نه اغا، دا مرستګي هر وخت امداسې کوي.
جبار وبنګېد:
– اوس درتلمه. د اجي صیب راسره کار و.
ښځې یې پلار ته تروې تروې وکتلې. حاجي موسکی شو. زوم ته یې امر وکړ:
– الکه! اول دا کار وکه! بیا به زرین کلا ته لاړ شې!
جبار په اطاعت سر وخوځاوه. حاجي له سالونه ووت. جبار غاښونه وچیچل. ښځې ته یې مخ کړ:
– د اجي صیب لیاظ دی. بل وار تړوپېر ونکې! زه بچي لرمه. ته یې راوړې که نه رواړې بلا مې درپسې.
مېرمن یې یودم چیغه کړه:
– وی، ځوانیمرګ شې! اغه ښځه دې نده خوشې کړې؟ ته ودرې اغا ته مې ووایمه!
هغه په حاجي پسې روانه شوه. جبار له متې ونیوله. سرمې یې وپړسولې:
– څه فرق کوي؟ خوشې کړې مې ده که نده، بچي خو لرمه.
ښځې یې د ځان خلاصولو هڅې کولې. ده ټېلو هله:
– ځه مخکې شه! تا کې بچي څنګه جوړ شي؟ ټولې مرداري وازدې دي.

ooooooooo

کریم یوه کوڅه په بلې پسې اړوله. د ماسپښین لمر او تېز تګ یې په غټ تندي د خولو زېم اېستی و. کله کله به یې له قهره شونډې کیکاږلې. په پزه کې به وبنګېد. له کلي دباندې باغ ته ننوت. د دېوال په اوږدو د توتانو او زردالو یخ سیوري ته روان شو. په کونج کې د خامو دېوالونو اوږدې کوټې ته لاړ. نیمه له وچو شاخونو ډکه وه. په پاتې برخه کې لس تنه ځوانان په شکېدلې پلاستیکي فرش راټول وو. غلي غلي غږېدل. کریم په شخ ناست ببر رېږي ځوان برګ شو:
– وه الکه نورعلي! څه دې که، موټر دې څه که؟ پینځو دیقو ته مې درکړی و. یو سات شو کنه نو. ته څنګه سړی یې؟
هغه د سر په کړولو راکړولو له غټ ورمېږ څخه ټک واېست. په کوچیانه لهجه یې وویل:
– اوس راځې. ای ته کېنه! چې د زرین کلا عیشقي کیسې واورې!
ټولو پخوهل. د کریم تندي خط وکړ. په دوو پښو کېناست. دوه میاشتې کېدلې چې له دوئ سره ناست نه و. د نوي کور جوړول یې پلمه کول. په اصل کې د امیدوارې ښځې ساتنه ورته تر هر څه مهمه وه. اوس د نورعلي لهجه بدله برېښېده. په رمزونو کې غږېده. د جالۍ خولۍ والا هلک د بنجخو[2] په ډېرۍ ډډه ولګوله. د وچکو د ماتېدو کرپس وخوت. غږېې کړ:
– خبر شوې؟ د زمان کاکا لور تښتېدلې. الک مالوم ندی.
تنکي ځوان خپله څو تاره رېږه کشوله. په لنډه نرۍ لښته یې فرش ته شرک ورکړ. ویې ویل:
– ولې کلک یې الا ګله؟ الک څنګه مالوم ندی؟ ویمه پټه کړې یې ده.
موضوع جالبه وه. کریم پلتۍ ووهله. ویې ویل:
– ما نه ویلې؟ دېشونه چې لګوي، ډرامې چې ګوري، دغه به یې حال وي کنه نو.

---

[2] بنجخه = وهل شوی څانګه چې ګني لښتي ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنکي ځوان غبرګ کړ:

– نه.

نورعلي ورباندې برګ وهل:

– څه شی نه؟

تنکی ځوان هم برګ شو:

– زه وایمه نه. چې څوک خپله خراب نه وي دا یې نشي خرابولی. ډېرامې خو خلکو ته ښه لاره ښیي.

کریم لیدل چې دده په نشت کې خپلسري پیدا شوې ده. آن دا وړوکی هلک جرئت کوي چې دده خبره رد کړي. دا کار ورباندې ښه ونه لګېد. د نورعلي غږ ووت:

– دا د کمونستانو خبرې پرېده مرداره!

تنکی ځوان تک سور واوښت. سا یې تېزه تېزه شوه. ویې ویل:

– کمونست دې اغه پلار دی. بېړا!

د نورعلي پلنې سږمې د کوچه مار د غاړې په شان ارتې شوې. هلک یې له مټې ونیو. په یو ټکان یې ځان ته راتاو کړ. ببره بږیره یې ورپېدله:

– ای د بېړا زو! پلار ته کنځا مکوه! خمیره کومه دې!

تنکی ځوان په ملنډو په سږمو کې وپشېد. کریم د نورعلي په اوږه لاس کېښود. ویې ویل:

– ته مه په قار ېږه!

مخ یې نورو ته واړاوه:

– ما ویلې که داسې حال وي ایڅ کار به ونکړ کنه نو. ګورئ مانه پس نورعلي ستاسې مشر دی. د مشر اطاعت واجب دی. پوه شوئ؟ د دېش به درته ووایمه. زه ښار کې یو اشنا لرمه. ډېر اوښیار سړی دی. لوی عالم دی عالم. ام یې پوهنتون ویلی، ام مدرسه. او څلورکونجه دونیا یې ام لیدلې ده. اغه ویلې دا دېشونه، دا ډرامې چې څوک جوړوي خپله یې نه ګوري نه. دلته یې رالېږي چې موږ بې لارې کي. دا دی وګورئ! زمان کاکا یې خوند ولیده.

کریم د تنکي ځوان سترګو ته وکتل. هغه مخالفت پرېښود. دی خوشحاله شو. نورعلي مخ تاو کړ. ویې پوښتل:

– دا درته صفاجان اغا ویلي؟

کریم حیران شو. غټه زنه یې ورپېدله:

– ته صفاجان اغا پېژنې؟

نورعلي په موسکا فرش وګراوه. کریم پروسږکال د ښار په یو هوټل کې له صفاجان اغا سره مخامخ شو. ډېر له خلک ورپسې وو. شنه چپنه یې په سپینو جامو اغوستې وه. تر ښویه لونګۍ لاندې یې سپین وېښتان په څټ پراته وو. سپینې اوږدې ږیرې یې غنمرنګې څېره لا نوراني کوله. تکې شنې تسبیح یې وې. د غټو دانو ټکهار یې د سړي پام اړاوه. د ډوډۍ پیسې هم هغه ورکړې. ډېرې هوښیارې خبرې یې کولې. د هغه له برکته پوه شو چې د زرین کلا د خلکو زیاتره کارونه په دین برابر نه دي. کریم یې خوښ شو. غوښتل یې هره هفته ورسره کېني. خو ده ایله په میاشت کې وخت پیدا کاوه. وروستی ناسته یې دوه میاشتې مخکې وشوه. هغه ویده و. ده مازیګر بیا سر ورښکاره کړ. لا هم پاڅېدلی نه و. د ماسپښین لمونځ یې وخوړ. دی یې په ایمانداری شکي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې پاڅېد ويې ويل چې خدای تعالی په خوب کې په بېلا بېلو جنتونو ګرځاوه. کريم په خپل شک پښېمانه شو. صفاجان اغا ويل چې وروسته يې بل خوب هم وليد. په زرين کلا کې د غوايي په شان غټې چينجی ګرځي. د خلکو ماغزه خوري. د ژغورلو يې څوک نه شته. د خوب تعبير يې داسې کاوه چې هلته ابليس کېوتی دی. د خلکو لږ پاتې ايمان هم له منځه وړي. د هغوئ په حالت يې تورې غټې سترګې ډنډ شوې. کريم ورته د وضعيت د بدلولو ډاډ ورکړ. د کلي د پاکو ځوانانو او نورعلي په هکله يې وويل. شايد وروسته له هغې ورځې يې له نورعلي سره تماس نيولی وي. الله ګل جالۍ خوله په سر کشه راکشه کړه. غږ يې جګ شو:

– کريم اوستاذه! زه ويمه شبنامې کې به وليکو چې دېشونه لرې کئ! دی يې نه مني.

کريم له چورتونو راووت. نورعلي تندی تريو کړ. په کوچيانه لهجه يې وويل:

– موږ به کور په کور ګرځو نو. يو ازې دېشونه خو ندي کنه. ولې کلی نه نيسو؟ چې د مخې پاک شي.

الله ګل غږ کړ:

– اربکيان دې پرېدي؟

– اربکيان باسو.

د نرۍ ږيرې والا ځوان ګونډې ووهلې. په قهر شو:

– دا څه شی کوئ؟ موږ خپل کلی سمو و. نور چا سره کار نلرو، هو.

کريم په آرامه غږ واېست:

– دوست محمده روکی! بل ډول نه کېږي کنه نو.

ځوان لږ پښه نيولی شو. ويې پو ښتل:

– ای کريم اوستاذه! د اربکيانو زور نه لرو کنه. دولت ورسره ولاړ دی، هو.

– دوعا کوئ چې ميرحمزه مې په خير پيدا شي! بيا نو تاسې به اول مظايرې وکئ! چې زه ملک شومه اربکيان دستي باسمه. بيا نو د کلي پاکول شرو کوو. وخت لګي. د نن سبا خبره نده.

د نورعلي غږ ووت:

– دونه انتظار نشو کولی. اربکيان نن سبا کې وهو.

د ټولو سترګې ور واوښتلې. کريم حيران شو چې ده څه ګډې وډې شروع کړي دي. نورعلي د سر په کږولو راکږولو له ورمېږ څخه ټک واېست. ويې ويل:

– يو سلو شل کسه په کلي کې لرمه يو سلو شل کسه. نورې لارې مې ام کتلي.

د کريم وروځې بره کش شوې. تر دوه مياشتې مخکې پورې ده ايله شل کسه پيدا کړي وو. نورعلي په ربښتيا توره کړې. کريم ته د کلي په زور نيول خوب او خيال برېښېده. که داسې شوي وای ناروا وې به ژر ورکې شوې وې. هلته به يو ازې ښه او ديندار ه خلک اوسېدل. چې هغوئ پوه شوي وای دا ټول دده له برکته دي، دعاګانې به يې کړې وې. خدای پاک به قبولې کړې وې. ډېر اولادونه به يې ورکړي وو. کريم د لاس سور ساعت ته وکتل. نازيه ډېر وخت يو ازې پاتې وه. ډارېده چې د ماشوم د زېږون حمله ورباندې راغلې نه اوسي. ژر په پښو ودرېد. نورعلي ورته بيا د کېناستو اشاره وکړه. ويې ويل:

– اصلي خبره پاتې ده.

دا وخت د دروازې غنګس شو. څوک باغ ته ننوت. کريم وارخطا شو. وپسېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خبره بدله کئ! خبره بدله کئ!
نورعلي موسکی شو. پلنه پزه یې په پاسنۍ شونډه پرېوتله. په زغرده یې وویل:
– خپل کسان دي.
ډله ځوانان کوټې ته ننوتل. کاږه واږه کېناستل. کوټه ډکه شوه. اکثره پکې پېژندل شوي قماربازان، چرسیان او پوډریان وو. د
کریم ماغزه سرچپه شول. دا هاغه کسان وو چې ده ورڅخه کلي پاکوه. نورعلي ته یې کړ:
– ته راووځه!
له کوټې څخه لېرې یې په هغه برک وهل:
– دا دې څه کړي؟ ماغزه دې شته؟ ټولو ته جواب ورکه. امدا اوس کنه نو!
دوست محمد او تنکی ځوان هم ورسېدل. نورعلي موسکی شو. په آرامه یې وویل:
– کریم اوستاذه! موږ پې خپل کار کوو.
– نه کنه نو. داغ په ککړه لته نه پاکېږي.
نورعلي هماغسې موسکی موسکی کېده. سر یې کوږ او وږ کړ. له ورمېږ څخه یې ټک وخوت. شونډې یې وخوځېدلې:
– صفاجان اغا وایي د نېک کار دپاره هرڅه روا دي.
کریم چورتي شو. نورعلي وویل:
– دا کسان خو زموږ لاس کې دي. چې کار وشو بیا چې هر څه پې کوو کولی شو.
کریم غلی و. له یوې خوا دده خپل زړه و. هغه ته دا کار سم نه ښکارېده. له بلې خوا صفاجان اغا و. ده باور درلود چې هغه هېڅکله
غلطه خبره نه کوي. دوست محمد یې مخې ته ودرېد. دده غټ لاس یې په خپلو نریو ورغوو کې ونیو. ویې پوښتل:
– اوستاذه! ته څنګه؟ راسره یې که نه؟
د دوست محمد نرم چلند په ده خوږ لګېده. کله نا کله یې وربانده د زوی مینه راتلله. خو دا پوښتنه یې ښه ونه لګېدله. سترګې
یې تېرې شوې. ویې ویل:
– دا څنګه سوال دی کنه نو؟ ما راټول کړي یئ، ما دا لاره درښودلې...
دوست محمد موسکی شو:
– نه، پوی نشوې. د کلي نیول یادومه، هو.
کریم وروځې بره کش کړې. ویې ویل:
– ښه ښه. دا اسې خبره ده کنه نو. په تش لاس یې څنګه نیسې؟
د نورعلي غږ ووت:
– وسله مې پیدا کړې ده.
دا بل خبر و چې د کریم په تندي کې یې خط جوړ کړ. د خپلې ناخبرۍ له امله ناراحته و. فکر یې کاوه چې له همدې کبله یې هلکان
خبرې ته ارزښت نه ورکوي. چورت یې واهه چې څنګه خپل پخوانی موقف بېرته ترلاسه کړي. ټول یې ځواب ته منتظر وو. ده ژر
وویل:
– زه خود درسره یمه کنه نو. بې ما کېږي؟ خو زه اوس مریض لرمه. ډېر سخت دی. موټر پسې راغلمه. شفاخانې ته یې بیایمه.
د دوست محمد نرۍ رېبره ورپېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ولې؟ ورونه خو دې شته.

– زنانه مې ده کنه نو. بل چا سره يې نشمه لېږلی. ښه ځه ای نورعلي! ما ويلې ماته به د ټولو کسانو نومونه راکې! بل به د وسلو شمېر او ځای ام وښيې! زه به بيا وګورمه چې څه وکو؟

دوست محمد يې لاس خوشې کړ. شاته لاړ. کريم ور وکتل چې خفه شوی نه اوسي. نورعلي بيا له غټ ورمېږ څخه ټکونه واېستل. ويې ويل:

– بې غمه اوسه!

کريم په زغرده سر وخوځاوه:

– صيبي شو. موټر! موټر!

نورعلي وويل:

– رابه شي.

کريم له قهره تک سور واوښت. د لاس ساعت ته يې ګوته ونيوله. غږ يې جګ کړ:

– پينځه لس ديقې خو زما دلته وشوې کنه نو. چې پوپېږد لې، بيا به دې ناخېسته.

– ما ويلې...

– اوس چېرته دی کنه نو؟

نورعلي کږې ور وکتلې. ويې ويل:

– پيتاوي کلي ته مې لېږلی. درځي. قيامت خو ندی.

– دی کنه نو. په ما قيامت دی.

نورعلي له ګيلې ډکې سترګې نورو ته واړولې. کريم روان شو. په دروازه کې يې مخ وګرځاوه. غږ يې کړ:

– نور نه پوېږمه. لسو ديقو کې بايد موټر ماته راورسېږي کنه نو!

ټولو سرونه وښورول. کريم ووت. نورعلي غاښونه وچيچل، وبنګېد:

– ودې خوره!

مخ يې نورو ته کړ:

– دا چا مشر که؟ ښځونک!

oooooooooo

برګ سپي د سپېدارو له قطاره لښتي ته غاړه اوږده کړه. ژبه يې تېزه تېزه په خړو اوبو منډله. بوچ غوږونه يې څک نيولي وو. سترګې يې ګرځولې چې انسانان را نه شي. په غرونو باران شوی و. په خوړ کې اوبه ډېرې وې. تر نري پله لاندې يې څپې آن د استنادي دېوال سر ته رسېدلې. پاس دوه تنه له کوڅې راووتل. يو رنګ ږيرې، يو رنګ پېکي او نصواري جامې يې وې. جبه زارې ځمکې ته ننوتل. په فرش شوو تيږو روان شول. د مازيګر مخامخلمر يې سترګې برېښولې. په سپېدارو کې يې برګ سپی وليد. دواړو د عادت له مخې تيږه واره کړه. سپی په تېښته کې وکورنجېد. هغوئ نري پله ته ورسېدل. د جبې پل يې باله. موسسې جوړ کړی و. بانډه ګۍ يې له لوی کلي سره نښلوله. جګ قدي سګرېټ کش کړ. د لوګي له امله يې تېغې سترګې تنګې شوې. په کټارې يې لاس کېښود. شاته په ونو پټې بانډه ګۍ ته يې وکتل. هلته هلکانو تر توت لاندې په انګيا وو کې خوسی کاوه. ده له کورونو هاخوا لوړو ته د لاس اشاره وکړه. په برابر غږ يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– باڼده وال دې وايي نو. دا ډډې، دا غونډۍ سراسر زموږ دي. ته يې ايساب کوه! څو جريبه کېږي؟ اسې خو نده. امير عبدالرحمان خان ام د ډېورېنډ خط امضا کړی و. څوک يې ورسره منې؟

ټيټ قدي غټې مخ ته جيټکه ورکړه. اوږده زنه يې وخوځېدله. په جګ غږ يې وويل:

– آ؟ نه اورمه نه. د اوبو شور دی. لږ رېز ورکه! جومات کې خو ناست نه يې جومات کې؟

جګ قدي کړې وکتلې. له ځان سره وبنګېد:

– يو خو کمقل سړی به هره خبره دوه ځلي کوي.

ټيټ قدي بيا غوږ وړاندې کړ:

– څه شی څه شی؟ په زوره په زوره!

جګ قدي صبر وکړ چې له پله تېر شي. مخامخ کو څه ډوله لاره وه. دی چپې خواته د غنمو د پټي په دېوال واوښت. په پوله روان شو. ګرده تيږه يې په قهر په پښه خوړ ته وغورځوله. اوبه والوتلې. شونډې يې ورپېدلې:

– کريم لالا ته وايو، چې ډډې او غونډۍ خو په لاندې پټيو پسې تړلې ندي. موږ خپل حق اخلو. په زور وي که په رضا.

شاته ټيټ قدي سر وڅنډه. ويې ويل:

– خبره سمه کوه! دوښمني مه جوړوه دوښمني!

– ما سمه خبره کوله. باڼده وال نيغ شوه. زه به يې ام خوښ شمه ښه. ته ګوره چې څنګه تې حق اخلمه؟

– باور مې نشي چې دا ماشين دې بور شي بور.

د جګ قدي په سترګو کې قهر وځلېد:

– څنګه نه کېږي وا؟ اغه نوم پې ام زموږ د نيکه دی. سليم غونډۍ. سليم څوک و؟ اوښياره.

– نه کنه. کريم لالا وايي اغه بېل وخت و. تولې باڼده ګۍ د دامان د يو پټي غنم نه کول. باڼده وال مجبوره وه مجبوره. دوښمني يې لرله. پسته د وروسانو وخت کې د دامان ويا له ډکه شوه. چا پاکه نکړه پاکه.

– هرشی چې و. لاندې ځمکه يې بدله کړې وه. پاس شاړه نه. زه دا وايمه. چين سل کاله پس هانک کانګ وګټه. موږ تې کم يو؟

ټيټ قدي بيا سر وڅنډه:

– ځه دا ستا خبره صيي! اريضه کېږي، محکمه، کته، پورته. زموږ خو نن سبا کې په کار ده نن سبا کې.

– او چپ شه! په خبره پوييږې نه، کړته کړته.

ټيټ قدي مخ واړاوه. د خوړ هاخوا په سپينو تږو کې توري وزې تيتې وې. هلک په غونډۍ ناست و. شپېلۍ يې وهله. تا به ويل د نقاشۍ تابلو وينم. جګ قدي سيګرېټ ښه کش کړ. خوله يې د آسمان په لور ونيوله. لوګی يې پو کړ. په هوا کې بابنې وزرونه خواره کړي وو. په آرامه يې لاندې په ښکار پسې کتل. ده ژوره سا واخېستله. بېرته روان شو. مخ يې ورور ته کړ:

– ای! زر زر راځه چې کريم لالا بل ډول په قار دی!

ټيټ قدي سر وښوراوه:

– هر څوک د ځان غم کې دی د ځان.

دواړو له خښتې تيږې پښې واړولې. جګ قدي وويل:

– خدای دې يې بچی په خير پيدا کي! کريم لالا ورسره ډېر بدل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تازه دی تازه. لکه زاړه ګاډي ته چې نوی اینجن جګ کې. خو سخت شوی ام دی. پرون یې چای کې خورما نه وه خورما.

جګ قدي ککره یوې او بلې اوږې ته وزنګوله. ویې ویل:

– خورما نه وه ای. وی، وی، وی...

– کېنه وی، وی، وی! مېلمه ومه.

– پوهېږمه. تاسې یې دایمي مېلمانه یئ.

– څنګه سې؟

– دغسې. ټول کور دې پې چلېږي. هر وخت یې پیسې درکړې ندي؟

– چا؟ تا ندي اخیستي تا؟

– هو، په کال کې یو وار. اغه مې ام بېرته ورکړي. ته خو لکه بلدي شارو.

ټیټ قدی برګ شو:

– نر غوندې! مشر ورور مې دی. په مال کې یې حق لرمه حق.

– هه، چېرته یې لیکلي چې ورور د ورور په مال کې حق لري؟ پلار خو دې ندی سنډا.

خوږ ښی خواته تاوېده. ځای پراخه و. اوبو دومره شور نه کاوه. د کمره په سر د جرې بوټی، لکه د پېغلې وېښتان، تر استنادي دېواله ځوړند و. دواړه ترې لېرې تاو شول، چې جامې یې په اغزو کې ونه نښلي. جګ قدي ماشین شوې ږیره وګروله. سپینې پینځه منزله ودانۍ ته یې ګوته ونیوله. سوړ اسوېلی یې وکړ:

– خدای نه جار شمه نو. موږ ته ګوره، جبار ته ګوره! بل وطن نه راغلی. دا یې د مېلې ځای دی. کور به یې څنګه سې وي؟

– څه شی؟ توره دې لالا وهي مړی، دې اودلا وهي. خسر ورته جوړ کړی. دده ماشین جام و جام.

جګ قدي یو قرار ودانۍ ته کتل. ویې ویل:

– امغه یې اوښیاري ده. ما او تا به داسې خسر پیدا کړی و کنه. زموږ خو تاریخي اثار دي. ته پې پیسې لګوه چې تخریب نشي. دوئ داسې ځای ته ورسېدل چې کورونه د خوړ په ژۍ اباد وو. له یو نیم څخه د تناره لوګی خوت. مړې د خام دېوال له بېخه د خاورې اېستل ودرول. دوئ لاندې خیز کړ. د استنادي دېوال په سر یې په احتیاط قدمونه اخېستل. د خوړ هاخوا شنه پټي وو. مخامخ په غټ پله یو یو موټر تېرېده. شاته یې د بابا کلا برجونه ښکارېدل. هغه د دوئ اولین نیکه «زرین بابا» جوړه کړې وه. د کلا نېکبختي دا وه چې خلک یې په ویش نه جوړېدل. که نه پیړۍ مخکې به ورانه وه. اوس پکې له بل کلي راغلي حربکیان اوسېدل. ټیټ قدي وویل:

– ای شازمانه! کریم لالا ته ونه وایو کریم لالا ته؟

شاه زمان ټېغې سترګې برګې کړې:

– په زوره ځان رسوا کوو؟

ټیټ قدی ودرېد. اوږده زنه یې وخوځېدله:

– نه، اغه ورته نه وایو. یو ازې پیسې تې غواړو. که رایې کې آ؟

– بېرته یې ورکولی شې؟

– ولې نه؟ ټول عمر خو به پنچر نه یو پنچر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه زمان هم ودرېد چې لاندې خوړ ته ونه لوېږي. مخ يې راوګرځاوه. ويې ويل:
– زه خو ستا په دا مردار تندي کې دونه طالې نه وينمه. او کريم لالا چې يې ولري ام نه يې درکوي.
– ګور ته يې وړي؟ ټانکۍ خو يې ډکه ده. موټر لري، پوخ کور لري. د ښار ځمکه يې خښه خزانه ده خښه خزانه.
شاه زمان بيا مخته په احتياط روان شو. غږ يې راغی:
– ماته يې ويلې څه چې وې په کور مې ولګولې.
– دروغ وايي. لس منزله مارکېټونه يې په ټېکه نيولي وه لس منزله. دونه يې پيدا کړي چې چې چې...
شاه زمان سر وخوځاوه. بيا ودرېد. ويې ويل:
– زما ورته خوله نه خلاصېږي. ويمه که خبر شي چې موږ څه کوو، دا وروري به ام راسره وشکوي.
– او نه يې شکوي. ته خو شې وېرېږې.
– ښه ځه، که وو ايي دونه ډېرې پيسې څه کوئ؟ رښتيا ويلی شې؟
ټيټ قدي ژوره سا واخېستله. خام دېوال ته له سپېږې ورکولو سره يې وويل:
– کشکې مې خپل ميستري توب کوه. لږه وه که ډېره، ارامه خو ومه. ناحقه مې ستا خبره ومنله ستا خبره.
شاه زمان سوړ اسويلی وکړ:
– څوک پوېيده؟ زه ام د تاريخ ماليم ومه. ايزت مې و. ماليم صيب ته ځای پرېدئ! ماليم صيب دلته کېنه!
هغه سګرېټ په خوله کې پرېښود. د چارمغز په نيالګي پسې يې ځان کلک کړ. له استنادي دېوال څخه لارې ته جګ شو. ټيټ قدي پر پله څه وليدل. وارخطا شو. غږ يې کړ:
– ای ای ای! اجي رسول، اجي رسول.
د شاه زمان رنګ پک وتښتېد. سګرېټ يې له خولې ولوېد. هلته تور لنډکروزر ودرېد. شاته يې د باډيګاردانو موټر بريک ونيو. د حربکيانو قوماندان د مريد په شان ورمنډه کړه. د لنډکروزر توره ښيښه نرمه کېوتله. چاغ سورمخی حاجي رسول ښکاره شو. تورنرۍ پکول يې شاته ټېلواهه. غوښن لاس يې راوابست. قوماندان کلک ونيو. حاجي رسول څه وويل. قوماندان په سينه لاس کېښود. له شاتني موټر څخه جګ ډنګر وسله وال کېوت. دلته شاه زمان په تنګه کو څه ننوت. ټيټ قدي ته يې غږ کړ:
– دلاوره! څه ته ولاړ يې؟ زر کوه ورک شه! پښې باسه!
دلاور ورپسې شو. په بامونو د خوشايو ډېرې ښکارېدلې. تود او خوسا بوی يې لګېده. ماشومانو په خاورو کې لوبې کولې. مخامخ په خامو خښتو بار خر راغی. سپېره سړی ورپسې و. چرګان په خلاصه دروازه ننوتل. دوئ او ماشومان دېوال ته جوخت شول چې خر تېر شي. سړي د چای ست وکړ. خو دوئ تېز روان وو. هغه ورپسې حيران وکتل. د شا لمنې يې په دېوال خړې شوې وې. دوئ په يوه شېبه کې د کوڅې پای ته ورسېدل. نابېره يې له نژدې څخه غږ واورېد:
– ودرېږئ!
دواړو شټوهل. د حاجي رسول جګ ډنګر وسله وال و. شاه زمان د روغبړ لاس وغځاوه. په مصنوعي موسکا يې وويل:
– ميرګله څنګه يې؟
ميرګل منډه اخېستې وه. سا يې سوزېدله. ورغوی يې ورکېکاږه. تورې ببرې وروځې يې واچولې:
– ترورزيانو! بس اجي صيب مو غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوئ دروغجنه خوشحالي وکړه. ورسره روان شول. میرګل تر چانتې لاندې تولې شوې خړې جامې کشې کړې. ویې ویل:
– بس زه ستاسې د ماښلې نه خبریمه. خدای منئ که نه؟ په ما کټمټ کانه شوې وه. بس زما په ځمکه نه پوره کېدله، کشر ورور مې په ښار کې خپله ځمکه اجي صیب ته ورکړه. بس عجیبه ځای و. اجي صیب پکې جیګه پلازا ودروله. اوس چې ورته ګورمه ویمه ورور مې زما دپاره څونه تاوان کړی. بس زه به یې نیکي ایځکله پوره نه کمه نو.
شاه زمان سګرېټ ولګاوه. ویې پوښتل:
– که دې قرض خلاص کړی نه وای؟
– بس زه به اوس نه ومه تروورزیه. اجي صیب په خپله خبره ولاړ دی. که ښه خبره وي که بده.
ورونو تر سترګو لاندې سره وکتل. درېواړه سرک ته ووتل. کرېړ له هر قدم سره غژس کاوه. کلیوالو د حاجي رسول له کس سره د دوئ په لیدو نظر تم کاوه. دلاور مخ میرګل ته کړ. غټه اوږده زنه یې وخوځېدله:
– ته خو اوس اجي صیب سره یې اجي صیب سره.
– هو کنه. څه مې کړي وه؟ بس ناکام و تروورزیه ناکام. بچي ورږي، جیبونه تش. خولې یې په خاورو موښلې. بس حیران دریان ومه چې څه وکمه. بیا اجي صیب دې خیر ویسي. نوکری کې یې ونیولمه. بس ماش بد ندی، اخوا دېخوا ام کېږي.
کانکرېټي سرک مخامخ دروازې ته تللی و. خو دوئ په پخې موازي لارې وخوځېدل. دواړو خواوو ته یې منظم نیالګي ولاړ وو. پاڼې یې پلاستیکي بربښېدلې. دلاور یوې ته لاس کړ. ذره دوړه یې په ګوته ونه لیدله. درنده چوپتیا خوره وه. لکه بله دنیا چې وي. د دواړو ورونو سترګې په دروازې کې وې. شاه زمان شېبه په شېبه لوګی کاوه. دلاور لاړې تېرې کړې. ویې پوښتل:
– اجي صیب سره څه کار کوې؟
– بس رنګارنګ کارونه دي. ای ماته اوس مالومېږي. پیسې ګټل اسانه ندي. خطرې به تېروې. د اجي صیب ژوند ام ګوړه نده. بس ماته چې وواییې په اور ورشه ورځمه. امغسې یې راسره کړې دي. بچي مې ښه اغوندي، ښه یې خوري. نور څه غواړمه؟
دلاور له شاه زمان سره سترګه په سترګه شو. مخ یې میرګل ته کړ:
– ای ورته ووایه چې موږ ته ام نوکري راکي! ورو ورو به یې قرض خلاص کو خلاص.
– نه تروورزیه، اسې نه مني. بس اول به قرض خلاصوې! ای سګرېټ دې بند که!
د دوئ له رسېدو سره د غبرګ بدن ساتونکي لکه پېری راپیدا شو. د چوکیدارانو له ګردې کوټې څخه بل تن چاته زنګ وواهه. وروسته یې د ننوتلو اجازه ورکړه. دننه په لس متره کې بل د پنجرې دېوال و. له هغه څخه تېرېدو هم اجازه غوښتله. پوخ سرک مخامخ پینځه منزله ودانۍ ته غځېده. دواړو خواوو ته یې قیچي شوي بوټي وو. د هغوئ تر شا د بېلابېلو مېوو ځان ځان ته باغچې ښکارېدلې. د رنګارنګو مرغیو غږونه راتلل. میرګل وپسېد:
– تروورزیه! بس ماته مخکې ایجازه نشته. اجي صیب اوغه شیشه خانه کې دی.
دوئ ته پنجره خلاصه شوه. د ګلانو په منځ کې د رنګه ماهیانو له ډنډ څخه تېر شول. د ښیښنو کوټې ته ننوتل. هوا توده وه. حاجي رسول په کوچ ناست و. دواړو ته یې لاس وغځاوه. شاته یې په طلایي چوکاټ کې د قرآن کریم سورتونه ځړېدل. جبار په څرخېدونکې چوکۍ کې مخه پاکوله. دوئ مخامخ په کوچ کېناستل. حاجي د مڼو او اینځرو ډکه مېوه دانۍ ټېلوهله. ویې ویل:
– وخورئ قوربان! خپل کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو ورونو يو قرار ده ته کتل. دلاور اوتومات منې ته لاس کړ. پرته له سترګو رپولو يې چکوهله. حاجي غټ اينځر خولې ته کړ. تور پکول يې شاته ټېلواهه. سور تندی يې وځلېد. کنده پکې وه. ويې ويل:

– دا اين د ډاکټر نجيب د وختونو داغ دی قوربان. يو ندی دوه دي. يو چا سره مې مامېله وه. ډېر يې وځورولمه. اخېر مې ويلې که سبا پورې دې پيسې رانکړې وژنمه دی. اغه ته ټوکه ښکارېدله. په خپل زور مغروره و. د غونډی دپاسه يې ځاتته کلا لرله. پينځه زامن يې وه. هر يو لکه دېو. سبا شپه ور واوښتلمه قوربان. ما سره نو درې تکړه کسان دي. په سد راتللو ته مې پرې نښودل. په څو ديقو کې مې پينځه واړه وغځوله. لس چنده مال مې تې واخېسته، لاړم. بيا مې سر ګرځېده. بېخي غورځېدلمه. ډاکټر ته يې بوتلمه. ويلې د سر هډوکی دې مات دی. وينه دننه تللې. جنګ کې ګرم ومه. نه ومه پوېېدلی. ځواني وه نو.

شاه زمان غږ کړ:

– تا خو سم د شا اشرف هوتک غوندې توره کړې اجي صيب. اغه تورکان او روسان مات کړي وه.

حاجي موسکی شو:

– ښه تاسې څه وکړه قوربان؟

دلاور شخ پېخ ناست و. په ټول بدن کې يې يوازې دوه غړي خوځېدل- ښي لاس او خوله. شاه زمان ټېغې سترګې ورپولې. لاړې يې تېرې کړې. غږ يې واېست:

– ای اجي صيب! د بانډه ګۍ شاته غونډۍ زموږ ده. د اغې خط به درکمه.

حاجي له خندا سره ککره وښنډله:

– نه قوربان. زه په اغې څه وکمه؟

دلاور يو قرار شخوند واهه. شاه زمان وويل:

– اغه سلګونه جريبه ده. ته کولی شې...

– زما نده په کار.

شاه زمان سترګې ځمکې ته واړولې. مړاوی غږ يې ووت:

– چې اسې ده بيا نو څه به زموږ ځمکه شي. او څه به نغدې برابرې کو.

– زما قانون کې څه څه نشته قوربان. ټولې ټولې دي. او زه پيسې په خپل لاس اخلمه.

دلاور شخوند وهل لا تېز کړ. د شاه زمان رنګ بدل شو. ويې ويل:

– ټولې نشو پيدا کولی اجي صيب. په خدای که ايڅ لاره وي.

حاجي په ملا نېغ شو. په کاغذي دسمال يې خوله پاکه کړه. په سور مخ کې يې تکه سپينه ګردکۍ ږيره وخوځېدله:

– لاره نشته؟ ته ودرې بله کيسه درته وکمه قوربان. زه به دوه ويشت درويشت کلن ومه. ډنګر پنګر لکه لرګی. د کارمل وخت و. سهار وختي په کلي کې جنګ ونښته. ګرز او ګروز و قوربان. څه به يې اوږدومه. د کومې خوا نه زموږ په کور دتوپ نالتي مرمۍ ولګېدله. پلار مې، مور مې، واړه ورونه، خويندې مې، ټول شهيدان شوه. يو په ما ايڅ بلا ونه لګېدله. چيغې مې وهلې. ټول کلی خبر شو. چا کومک ونکه. تره چې تره دی ای! ورور يې مړ و ورور. او زامن يې ام زما انډيوالان وه. نه نه نه، ځانونه يې وباسل خلاص. زه يوازې مړو ته ناست ومه. روسان راغله. راته يې کتل کتل کتل. په خدای چې د اغو کافرو راباندې زړه وسو. ايڅ يې ونه ويلې. بېرته ووتله. په يوازې ځان مې باغچه کې اته قبره وباسل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حاجي غږ ډېر شو. ژوره سا یې واخیستله. د شاه زمان او دلاور خوله وازه وه. لکه افسانوي کیسه چې اوري. خو دا نه معلومېدله چې د جبار غوږ دی که نه. په څرخېدونکې چوکۍ کې یې منه‌پاکوله. د حاجي ږیره بیا ورپېدله. تېټ غږ یې ووت:
– پوه شومه چې سخته راشي نه خپل شته، نه کلیوال، نه اندېوال. زړه مې تېر تور شو. ما ویلې داسې ځای ته لاړ شمه چې یو ونه ګورمه. ښار ته مې نیت وکه. خو یوه روپۍ راسره نه وه. حیران پاتې ومه. ښه څه وکمه، څه وکمه؟ په کورونو وګرځېدلمه. راډیوې، بیلچې، تبرونه، کولنګان، هر شي چې خرڅېدل، په خره مې بار کړه. بازار کې راته ښې پیسې شوې. امغه نن دې حال ته ورسېدلمه. لارې هر وخت شته قوربان. بینا سترګې غواړي.
دلاور په شخوند کې اوږده زنه ورپوله:
– بیا دې تره ونه لیده تره؟
حاجي داسې مخ واړاوه لکه د هغه نوم چې بېخي اورېدل نه غواړي. غږ یې ووت:
– اغه ته خدای جزا ورکړه. سرطان شو. زامنو ته یې ما جزا ورکړه. ټوله ځمکه مې تې ونیوله.
شاه زمان لاړې تېرې کړې. ویې ویل:
– آغه دی په تا خپله تېر شوي. لږ راسره ګوزاره وکه اجي صیب!
– ای قوربان! په دوستۍ کې چې سر وغواړئ سر، نه یې درېغومه. پولیسو نه مې خلاص نه کړئ؟ ګوره کنه! خو په ایساب کې یوه روپۍ نه پرېدمه. او څوک چې په نېټه ونه درېږي ګونا یې خپله ده. دا زما قانون دی.
د شاه زمان په مخ خولې راغلې. مړاوی شو. شونډې یې ورپېدلې:
– وه اجي صیب! د کومه یې کو؟
حاجي تېرې وکتلې. ویې ویل:
– د کریم اوستاذ ځمکه چې ښار کې ده. د ټول قرض سر باسي.
شاه زمان سترګې ښکته واچولې. مړاوی غږ یې ووت:
– اغه زموږ د کار نه ندی خبر.
– خبر یې که قوربان! اغه ځمکه خو شې پرته ده. جوړولی یې نشي. او زما یې مخه بنده کړې ده.
شاه زمان وبنګېد:
– اغه پې ډېره ګرانه ده. د آینده دپاره یې ټولې سترګې امدې ته دي. زه به بیا ام ورته ووایمه.
میرګل د پنجرې له شا څخه لیدل چې دواړه ورونه حاجي ته سر خوځوي. په پای کې په پښنو ودرېدل. خدای پاماني یې وکړه، ووتل. دی هم پاڅېد چې بدرګه یې کړي. دلته جبار غټ برېتونه د شهادت په ګوته کېکاږل. جګ غږ یې ووت:
– اجي صیب! تاته د خلکو ټول رګونه مالوم دي.
– زه روشنفیکر یمه قوربان.
جبار پوه نه شو. حاجي روښانه کړه:
– چاته چې د خلکو د زور او کمزورۍ مالومات وي، او د پرمختګ دپاره تې کار واخلي، اغه ته روشنفیکر وایي قوربان.
جبار بیا وروځې بره کش کړې. حاجي سر وخوځاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هو قوربان هو. روشنفيکران درې رقمه دي. ساده ګان، چالاکان او هوښياران. ساده ګان د وطن د پرمختګ غم کوي. چالاکان د خپل قدرت او معاش د پرمختګ. هوښياران ما غوندې خپل بيزنس ته پرمختګ ورکوي.

جبار د سر په ښورولو تائيد کړه. جړ غږ يې واېست:

– ما ويلې کريم اوستاذ سر زوری دی. که ځمکه ورنکي، ورونو سره يې ګوزاره کوو، که څنګه؟

د حاجي سترګې شخې شوې. جدي غږ يې ووت:

– خپل قانون به کله ام نه ماتوې قوربان!

– نو چې دا دوه مړه وي اغه ځمکه د لاسه نه ځي؟

حاجي غوښنه ګوته جګه کړه:

– يوې خبرې ته ښه غوږ شه قوربان! پيسې او جايداد دسې وبوله لکه کشتۍ. او قانون لکه قطب نما. کشتۍ ډېره موهمه ده. خو قطب نما ته نه رسي. دا درته په اغه ورکه دونيا کې لاره ښيي. وايي په دې ځه خپل منزل ته رسېږې. که قانون دې مات که، لکه قطب نما چې ورکه کې. يوه لاره به دې سل شي. حيران به يې چې په کومه لاړ شې؟ اتمن ډوبېږې. هو، قانون دې نه خوښېږي؟ بدل يې که! خو ماتوه يې مه قوربان! زه چې څه لرمه، د امدې برکت دی. ځه نو قوربان! چې کريم اوستاذ ښځه بو نه ځي.

ooooooooo

د ماښام لړه وه. کريم په کوټه کې ګرځېده. سور او شين کېده. نازيه دېوال ته تکيه ناسته وه. په ګرد مخ يې د حامله دارۍ تور چاپونه لا تور ښکارېدل. ژړ ژړ يې سا اخېستله. ويې ويل:

– غټوالي ته دې ګوره! او ماشومان دې غولوي ماشومان.

کريم غاښونه وچيچل. په منډه ورغی. په شونډو يې ګوته ورکېکاږله:

– چپ! چپ! چپ! ډېره وټنګېدلې. دلاور دی. وهمه دې کنه نو!

هغې يې لاس ټېلو اهه:

– وی لرې! تا نو بل څه شی ياد دي؟ وهلو ته تيار يې. چې دونه سړی وې کار به دې سم کاوه.

د کريم د مخ رګونه وپړسېدل. په زنه کې يې ډيکه ورکړه. وپسېد:

– ای ای! ويمه خوله بنده که کنه نو! ولې راباندې هر څه تبا کوې؟

– وی تبا تبا نارې مه وهه! ته څه شی لرې؟

کريم ټول رېږدېده. ډارېده چې له کنټروله ونه وځي. تېز ووت. وزه له دالانه وتښتېدله. دلاور په حويلۍ کې د موټر بانټ جګ کړی و. د موبايل د څراغ رڼا ته يې يو يو فيوز کوت. غږ يې کړ:

– لالا! ته راشه سلف ووهه سلف!

کريم په دروازه سر ننوېست. کيلي يې تاوه کړه. موټر چالان نه شو. سوړ اسويلی يې وخوت. وزې يې شاته لمنه کشه کړه. هغه په قهر وګرځېد. غاښونه يې وچيچل. وزه يې په کشولو او سپېړو په انار پسې وتړله. د حويلۍ په کونج کې يې د مرغانچې دروازه هم ټېلو هله. دلاور غږ کړ:

– نو تا چرسي ته ولې ورکوه؟ چې خوړ ته يې ندی غورځولی شوکر وباسه خوړ ته!

کريم برګ وهل:

– ويمه نورعلي ورکړی. ته بيا ګډ يې. که نه يې شې کولی سم ووايه! چې د شامامد کاکا زوی راولمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه، اغه دونه نه پوېږي. پروېزی راوله. دلته جومات کې به وي جومات کې.

نازیې له کړکۍ څخه غږ کړ:

– که لاړې، مولاصیب باندې تاویذونه ام وکه!

د هغې په غږ کې قهر نه و. کریم د هوسایۍ احساس وکړ. له اوسپنیزې جیګرې دروازې ووت. په لویه کوڅه کې دوه نا اشنا کسان روان شول. دی ورپسې و. په نریو جامو کې یې یخ کېده. د واسکټ په نه اغوستلو پښېمانه و. چرچرکان چرېدل. د مسجد د څراغ رڼا کوڅه اوږده او تیاره ښودله. نااشنا کسان تېر شول. دی ننوت. نااشنا کسان ودرېدل. شاته یې وکتل. د ننه څراغونو د مسجد حویلۍ روښانه کړې وه. په چمن کې ډله ډله ځوانان غږېدل. څو تنو د دېوال بېخ ته په ویالې کې مخ او لاس کاوه. خو پروېز نه و. کریم په درندو ګامونو برنډې ته وخوت. د ننه په کوټې کې یې نظر وګرځاوه. سپینږیرو د محراب مخې ته اوږده لیکه جوړه کړې وه. شونډې یې خوځېدلې. کریم هاغه یو ته ودرېد چې خوله یې کړه وه. خلکو ویل ګوزڼ وهلی دی. ده وپوښتل:

– وهاب کاکا! پروېز چېرته دی؟ موټر مې نه چالانېږي.

وهاب بره ور وکتل. شونډې یې هماغسې په سورتونو خوځېدلې. سر یې وښنډه. کریم وپسېد:

– بېخي کلي کې نشته؟

وهاب د سر ښنډل تکرار کړل. کریم بیا خپل بخت ملامت باله. برنډې ته ووت. په لاره کې له امام سره مخ شو. سپین لستوڼي یې بډوهلي وو. په سپین څادر یې غټه توره رېږه وچوله. کریم په ټیټ غږ وویل:

– تاویذونه راته وکه!

– څه د پاره؟

– یو د نظر. بل چې اولاد مې په خیر پیدا شي.

روان سپینږیري توره لونګۍ په سر کېکاږله. د امام په غوږ کې وبنګېد:

– مولاصیب! مونځ قضا کېږي.

– دادی ملک صیب، دستي. راځئ ورونو! درېږو.

امام ژر ژر لستوڼي کش کړل. مخ یې کریم ته واړاوه. غږ یې ټیټ کړ:

– پس د مانځه نه.

هغه مخ ته شو. سپینږیري پاڅېدل. شاته قطارونه ځوانانو او ماشومانو ډک کړل. کریم هم پایڅې بډوهلې. نیت وتړل شو. امام الله اکبر ناري کړې. په شاتنیو قطارونو کې خبرې او خوځېدل بند شول. د کریم تلوار و. دلاور باید په بل مستري پسې ولېږي، او خپله له نازیې سره واوسي. خلکو ویل امیدواره چې ماښام یوازې پاتې شي کافرپېریان ورباند کېني. ښځه بې سده کېږي او ماشوم ضایع کوي. په ټول لمانځه کې یې فکر هغې ته و. خو دده له بده طالعه تر سلام ګرځولو وروسته ملک پاڅېد. د تورې لونګۍ شمله یې شاته ټېلوهله. ستونی یې صاف کړ. کریم نظر په خلکو وځغلاوه. اوس پوه شو چې ولې هغوئ تر لمانځه مخکې د کلي په وضعه غږېدل. ملک وویل:

– ورونو! یوه خبره مې کوله. نن سبا دا حالات راته ښه نه ښکاري. او، ما ویلې کلی نامه خدا څلور جوماته دی. یو سړی به کوم سر ته ورسېږي. او، بل دلته چې دی، ټول یا لرې یا نزدې خپلوان یو. د هر یو بې ایزتي، د هر یو شرم د ټولو شرم دی. او، نو راځئ دا وړې وړې خبرې پټې نه کو! په ګډه یې حل کو! او، دلته...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم په زړه کې وویل«بیا شاوخوا تاوېږي، اصلي خبرې ته نه راځي» ده غوښتل بحث لنډ کړي. ویې ویل:
– ملک صیب! ته غلا ته وړه خبره وایې؟ قتل ته وړه خبره وایې؟ زنا ته، پوډریانو ته. ای مېړوخې وتښتېدلې مېړوخې کنه نو.
څو تنو ځوانانو پخ وهل. ملک وویل:
– هو هو، زه امدې ته راځمه. او، ورونو...
کریم یې بیا خبرې پرې کړې:
– دا په خبرو نه کېږي کنه نو.
په مسجد کې زوړ شو. یو ځوان غږ کړ:
– کریم اوستاذ ربښتیا وایي.
ملک لاس جګ کړ:
– ای ګورئ! اسې نده چې دا خبرې یوازې زموږ کلي کې دي. ټوله دونیا کې شته. او، که نه وې نو قانون به ام ورته نه و. او، دا نااهله کسان چې دي، څوک دي؟ زموږ خپل دي. د چا زوی دی، د چا ورور دی، د چا بل، د چابل. او، که نااهله دي زموږ د لاسه دي. موږ سم ندي غټ کړي. په خوشې خبره مو وهلي دي. خوږه خبره مو نده کړې. سمه لاره مو نده ښودلې. او، اوس اغوئ ته ښه او بد یو شی ښکاري. زه ویمه دا مرض به ورک کوو. په مشوره، په...
کریم لیدل چې ملک د پخوا په شان په خبرو ځان خلاصوي. غږ یې کړ:
– ښه، ته څه وایې چې پوډري ته وو ایې پوډر مه وهه اغه یې پرېدي؟ یا غل غلا پرېدي؟ ای! مونږ څه شی دی مونږ کنه نو؟ سخت دی؟ نه. کومه دی؟ نیم جومات ډک ندی.
ډېرو د کریم خبره تاید کړه. ملک شونډې کېکاږلې. لاس یې جګ کړ:
–صبي شو، صبي شو. غوږ ونیسئ! تاسې نو دسې مه کوئ چې د هرچا هره خبره ومنئ! او، ګورئ! دا دونیا دوه مخه ده. یوه خوا خوشالۍ دي. بله خوا سختۍ. او، زه ګورمه، کلي کې اغه خلک ډېر شوي چې نګه سختۍویني. هرچېرته پسپس پسپس. او، خلک د ژونده بې زاره کې. او، چې بې زاره شوه بیا هر کار کوي. امدسې نده؟
کریم فکر وکړ چې ملک دلیل نه لري. ځکه تورونه لګوي. غټ لاس یې پورته کړ. ویې ویل:
– ای ای! ای خبره کومه. ځه ته وو ایه! کلي کې کوم ښه کار شوی چې سړي یې یاد کي کنه نو؟
– ولې په سرک مو کرېږ وانه چوه؟ او، د لیسې امر مو وانه خېسته؟ او، ټولې بدۍ مو ختمې نکړې؟ امدا سړکال، سړکال.
کریم په لوړ غږ وپوښتل:
– ښه، دا وایه چې ناروا ورسره ختمه شوه که نه؟
ملک موسکی شو. ویې ویل:
– یو دم خو نه کېږي، وه د خدای نېکبخته.
کریم نه پرېښود:
– ای ملک صیب ای! په شمه دېګ مه پخوه! سم غټ غټ لرګي تې لاندې که کنه نو!
ملک سر وښنډه. ویې پوښتل:
– نو ته څه وایي چې ټول وریته کو؟ دا اینسانان...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم د ښي لاس د پنجې په خوځولو هغه صبر کولو ته وباله. ویې ویل:

– یوه پوښتنه، یوه پوښتنه. چې لاس دې د جوړېدو نه وي. او مرض یې ام بدن کې تیتېږي. څه کوې؟ پرې کوې یې که نه؟

د خلکو زوږ شو. ملک ځواب نه درلود. تاو راتاو شو. وروسته یې ګوته په ګوابښ وخوځوله. ویې ویل:

– ای چې زه ملک یمه، اېځوک د چا د وژلو څه، د چا د رټلو واک نلري رټلو. او، پوه شوې؟

کریم په ګونډو شو. ناستو خلکو ته یې مخ کړ. نرۍ شونډې یې وخوځولې:

– امدا ده چې خبره ورانه ده کنه نو. دا څنګه چل دی؟ اغوئ زموږ بچي په نشو اړوي. زموږ په ناموس لپ ندي. په شپه کې چې په لاس ورشو ام مو شکوي، ام مو وژني. موږ یې د مخنیوي واک نلرو؟ ملک صیب! ته زموږ پلو یې که د اغوئ پلو؟

ځوانانو هررر وخندل. ملک تک سور شو. ویې ویل:

– ای کریمه ای! دا ته وایې ته؟ او، که څوک خبر نه وي، زه خو یمه. دا کلی چا خراب که؟ تا. تا الکان بې لارې کړه. هرچېرته نېغ نېغ شوه. او، دولت د بل کلي اربکیان راولېږل. لکه د مور مېږونه راته کوڅو کې ګرځي. او، چې نور دې څه ورانی په زړه کې دی؟ مګر پام کوه! زه دې وینمه. ځان رابانديې مه خرابوه!

کریم غېټ سر کوږ کړ. ننوتې خوله یې وخوځېدله:

– ملک صیب! تور مه لګوه کنه نو! هر څوک سترګې لري.

ملک غږلوړ کړ:

– غم دادی چې نه یې لري. که نه، لیدلي به یې وه چې ته خو بچي نلرې. او، د نورو بچي کندې ته غورځوې.

په شاته قطار کې چا پخوهل. د کریم له چټک پاڅېدو سره چوپه چوپتیا شوه. رنګ یې تک سور اوښتی و. سترګې یې د ملک په څېره کې خښې وې. ننوتې خوله یې رېږدېدله. وینه یې شېبه په شېبه په جوش راتلله. یودم یې شا واړوله. تېز ووت. څو تنه ځوانان هم ورپسې شول. یو سپینږیري غږ کړ:

– ښه دې وکړه ملک صیب! ده سره امدسې ښایي.

کریم د مسجد د دروازې مخ ته په کوڅه کې ودرېد. زړه یې ډک و. سا یې تېزه تېزه اخېستله. ځوانانو ته یې مخ کړ:

– مشر امداسې وي؟ ماته به ام نن سبا کې خدای اولاد راکې کنه نو. مخ به یې تور شي.

ځوانانو سرونه وخوځول. خو ده په خپل بخت باور نه درلود. ستونی یې تنګ تنګ شو. چرچرکانو چیغې وهلې. تابه ویل په دوئ کې هم کومه پېښه شوې ده. په کریم بدې لګېدلې. لکه په مغزو کې چې یې ستنې وهي. نرۍ شونډې یې ورپولې:

– ای! ما بده خبره وکړه؟ څوک غواړي چې اولاد یې پوډري شي؟آ؟

ځوانان غلي وو. کریم خپله لنډه رېږه په موټي کې کلکه ونیوله. ویې ویل:

– ای! په خدای چې دا کلی ښه ونه څنډې کنه نو، داح، که سم شي.

امام تعویذونه راوړل. ویې ویل:

– هه واخله! په متې پسې دې وتړې! الله پاک به خیر کي. کریم اوستاذه! خفه کېږه مه! ورونه ام غوصه کوي.

کریم پنځوسی له جېبه واېست. ګردې سرمې یې له قهره وپړسېدلې. ویې ویل:

– ماغزه مې ورته سرچپه شوه مولاصیب. خو ما ویلې مشر دی. پرې مې ښوده کنه نو.

– ښه دې وکړه. الله تبارک تعالی به یې اجر درکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام پیسي په واسکټ ومنډلې، روان شو. خو د کریم غصه نه کمېدله. ساړه اسویلي یې کول. ډنګر دوست محمد له مټې ونیو. له خلکو څخه د لېرې کېدو په ترڅ کې وپسېد:

– ری مه وهه اوستاذه! سبا به که خیر وي، هر څه سم شي، هو.

د دوست محمد په خوا خوږی د کریم سترګې نمجنې شوې. تعویذونه یې د تخرګ په جېب ننوېستل. په ډک ستوني یې وویل:

– هه، سبا به ټکه راپرېوځي څه؟

دوست محمد شاوخوا وکتل. کاغذ یې غلي په لاس ورکړ. خپله له نورو ځوانانو سره په تیارې کې ورک شو. په کاغذ کې لیکل شوي وو «قدرمنو ورونو! کلي پرېږدئ! چې ژوبل نشئ» کریم په زړه کې خوشحاله شو. لږترلږه د غو زحمتونو خو یې نتیجه ورکړې وه. روزل شویو کسانو یې په کلي حمله کوله. ښه دا وه چې دا هر څه هغوئ په خپله کول. دی نازیې ته وزګار و. مګر له دې سره سره یې اندېښنه هم وه، چې پر ته له ده به کار خراب شي.

ooooooooooo

د کریم یوه پښه په کوټه او بله یې د دلاور څنګ ته په حویلۍ کې وه. شپه چې هر څو مره پخېدله، د ده حوصله کمېدله. بل مستري یې پیدا نه کړ. خو دلاور لا هم کار نه پرېښود. د هغه له هر غږ سره د کریم امید پیدا کېده چې موټر به جوړ شوی وي. خو دلاور به یا ځان ته په قهر و، یا به په ټلیفون کې له خپلې مېرمنې سره غږېده. د کریم ورته غوښي زیږېدل، چې په خوشې خبرو وخت ضایع کوي. په حویلۍ کې کوز او برو ګرځېد. نازیه کړکۍ کې ولاړه وه. ویې ویل:

– وی، خدای دې تبا کي! که اغه صیب منصب ماطل کړی نه وي، سړی به دې ولې واهه؟

د کریم ایله اوس پام شو. په زړه کې یې تېر شول «کاش چې امغه وخت مې ډګروال صیب ته ټلیفون کړی وای. که پولیسو نه یې خلاص کړی ومه» شمېره یې په وړوکي تور ټلیفون کې پیدا کړه. زنګ یې وواهه. ټوله کیسه یې ورته وکړه. هغه وویل:

– دا چې دې مخکې ویلي وو. زه د غه دیقه خپلې وظیفې ته راورسېدلمه. دادی بېرته حرکت کومه. سهار پینځو پورې رسېږمه. اول شفاخانې کې اغه سپینږیری ګورمه. که روغ و ښه تر ښه. که نه، کلي ته درځمه. خپل موټر کې دې راولمه.

نازیې خبرې اورېدلې. پېړې شونډې یې کېکاږلې. سوړ اسویلی یې وکړ. د کریم مړاوی غږ ووت:

– نه ډګروال صیب، بیا ناوخته کېږي کنه نو.

– توکل په خدای! ډاکټرې خو ویلي سبا غرمې پورې وخت شته. ته تر اغو خپل کوشش وکه! زه ام درځمه.

کریم ډکې سترګې نازیې ته واړولې. هغه له کړکۍ څخه لاړه. دلاور وایکم پطرول بېرته وتاړه. غږ یې کړ:

– سلف وو هه لالا سلف!

کریم له سوړ اسویلي سره موټر ته ننوت. کیلي یې تاوه کړه. د ماشین غرهار وخوت. دا غږ ورباندې دومره خوږ ولګېد تا به ویل د نجات د پرښتې غږ دی. ایله یې غږي سست شول. نازیه بیا کړکۍ ته راغله. ساعت لس باندې دوولس بجې ښودلې. دلاور ځان ته په قهر و چې ولې یې اول د وایکم پطرول شکېدلي سیم ته پام نه شو. له موټره ووت. غوږ لاسونه یې په لته وسولول. کریم ښځې ته نژدې ورغی. ویې ویل:

– ځان تیار که!

د شاله خوا یې د دلاور غږ واورېد:

– نیمه شپه کې تګ خطرناکه دی. آبله شپه یې سړی د موټرسکیل دپاره وژلی و آبله شپه.

– نه، زما مخې ته دې راشي کنه نو. په موټر یې خمیره کومه که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په بل غم وانه وړې بل غم.
– نه...
نازيې غږ کړ:
– وې رښتيا وايي. سهار نژدې دی. لږ به صبر وکو چې څه کېږي؟
د دلاور کورته بيړه وه. تېز ووت. شېبه پس کريم کوټې ته راغی. د نارنج تازه بوی يې احساس کړ. نازيه سمه تخته ملاسته وه. په خېټه يې لاس واهه. ګرد مخ يې له درده ګونجې شو. ژر ژر يې سا واخېستله. لکه ستومانه چې وي. کريم پښېمانه شو چې ولې يې د هغې په خوله دلاور پرېښود. که تګ ته ضرورت پيدا شي؟ په قاب کې يې د زېښنل شوي نارنج ټوټې وليدلې. ويې ويل:
– ګېډه دې ورسته کړه کنه نو. دونه ډېر مه خوره!
نازيې ځواب ورنه کړ. په دېوال پسې نښتي تلوېزون ته يې کتل. هلته خارجې ډرامه وه. د ګوډې په څېر ښايسته نجلۍ د پلار د تداوي لپاره له مينې تېره شوه. له بوډا شتمن سره يې واده ته غاړه کېښوده. کريم نازيه له ډرامې نه منع کوله. باوري و چې د هغې اخلاق خرابولی نه شي. خدای خدای يې کول چې د پخوا په شان ورته ويده شي. هغې بې له مخ تاوولو غږ کړ:
– وې خدايه، کېنه کنه!
کريم وپوښتل:
– ته څنګه يې؟
– وې اوسه پورې خو څه نشته.
کريم د هوسايۍ سا واخېستله. وړاندې ورغی. ويې ويل:
– شپه کې د تلوېزون آواز لرې ځي. خلک به وايي مولا نورو ته مسلې کوي خپله حملې کوي.
– وې توبه! دا ام ځان ته مولا وايي.
کريم موسکی شو. هغې په رېموټ کې د غږ د ټيټولو تڼۍ کېکاږله. دی يې څنګ ته وغځېد. ورسره په ګډه يې ډرامه کتله. خو کله کله به يې سترګې ور واړولې. د هغې له څېرې معلومېده چې پخه ويښه ده. ډرامه خلاصه شوه. تر خبرونو مخکې موزيک راغی. هغې ريموټ جګ ونيو. تلوېزون بند شو. دی وپسېد:
– خوب درغی؟
هغې سر وښنده. ده يې په تندي ورغوی کېښود. نرم يې په وېښتانو وښوياوه. هغه ورتاوه شوه. ويې ويل:
– وې ح، سمه تخته مې ملا شخېږي.
– سترګې پټې که کنه نو!
– وې الا، وېرېږمه چې په خوب کې څه ونشي.
هغې کړکۍ ته وکتل. په حويلۍ کې تپه تياره وه. د مېړه لاس يې کلک ونيو. کريم ډاډ ورکړ:
– مه وېرېږه! خير و خيريت دی.
نازيې سوړ اسوېلی وکړ. کريم ددې لپاره چې د هغې فکر بدل کړي وويل:
– هو رښتيا، ته خو سمه زمرۍ يې کنه نو. په ياد دې دي؟ اغه دالېز کې مږک؟ ههه‌ه، ټوله ورځ کوټه کې بنده وې.
نازيه موسکۍ شوه. سر يې وښنده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وی، مه وایه! خدای دې د توپ ننبه کي! تشناب نیولې ومه...
دواړو کټ کټ وخندل. نازیې پېړۍ شونډې ورپولې:
– اغه وخت موبایل خدای وهلی ام نه و.
کریم یې بیا په تندي ورغوی کېښود. ترڅټه یې کش کړ. نازیې سترګې نرمې پټې او بېرته لڅې کړې. کریم وویل:
– ښه وختونه وو کنه نو.
نازیې سر وخوځاوه. د کریم غږ بیا ووت:
– اغه اول وار چې مې هوټل ته بیولې وې.
– وی، الا، امغه وه. بیا مې چاینکي ونه خوړه.
نازیې سترګې پټې کړې. کریم یې پرله پسې په سر لاس تېروه. ویې ویل:
– اغه وخت مې ستا یو عادت ډېر خوښېده کنه نو.
نازیه په پټو سترګو موسکۍ شوه. ځان یې بېرته ستونی ستغ کړ. د کریم مخ ته وتې غټه زنه وخوځېدله:
– په خبره به چې پویه نشوې لاره به دې بنده کړه «څه دې وویلې؟ څه دې وویلې؟...» ما به قصدن نه ویلې. ته به مې متې پسې ونښتلې. څو چې مې ویلي نه وه نه دې پرېښودمه. ببخي د وړکیانو خوی دې و کنه نو.
د نازیې غږ په پټو سترګو ووت:
– وی، اغه وخت ته نه په قارېدلې کنه. اوس خو...
کریم سترګې کږې کړې. ویې ویل:
– اوس لکه چې شین مخ ګرځې. خو ځواني وه، مستي وه. طانې کترې نه وې. بې غمي وه کنه نو.
نازیه په خوب کې وخرېدله. کریم لاس نرم په خېټه ور کېښود. لکه پلاستیکي توپ شخه او ښویه وه. له نیا څخه یې اورېدلي وو چې مور او پلار په خېټه لاس وهي د ماشوم خوښېږي. ده هم لاس ورو ورو وګرځاوه. یودم د لاندې له خوا ټېلوهل شو. ده ژر لاس جګ کړ. غږ یې ووت:
– او وا، هههه
په خېټه کې غوټه وه. کریم د سپېړې په دود لاس جګ کړ. نرم یې کېښود. وپسېد:
– اح! ودې خوړل؟ ته ما وهې آ؟ ههههه.
کریم ګوتې په غوټه ځای نرمې وسولولې. وپسېد:
– میر حمزه! ای زویکیه؟ دا دې منونی لاس دی که منونی پښه؟آ؟ ای! ډېره یې مه شخوه! ژوبله نشي کنه نو. ستا وطن کې خو ډاکټر ام نشته. څنګه به کوو کنه نو؟ ههههه.
د وزې بنګ بنګ او د چرګانو کغ کغ راغی. کریم د کړکۍ ښیښې ته ودرېد. د سترګو دپاسه یې لاس څپره کړ چې حویلۍ ښکاره شي. د وزې تور بدن یې تر انار لاندې ولید. ولاړه وه. تاوه راتاوه شوه، پرېوتله. کریم بېرته راغی. داسې وغځېد چې سر یې د نازیې له خېټې سره برابر وي. هلته اوس غوټه نه وه. ده په هماغه ځای لاس کېښود، وپسېد:
– میر حمزه! ای اورې! ته ما پېژنې؟ زه څوک یمه؟آ؟ امغه یم چې خوب کې مستي درسره کومه. غېږ کې دې نیسمه. ستا وړې وړې چاچۍ، ستا تنکۍ تنکۍ پاپۍ چې مچومه. په یاد دې شو؟ هو، غضب شپې دونه لنډې دي. دستي ویښ شمه. کوشش

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه، بېرته خوب نه راځي کنه نو. بيا نو زړه مې خپه شي. په اويلۍ کې ښه وژاړمه. ای اورې؟ خلک وايي په ژړا زړه تشېږي. زما خو نه تشېږي.

د کريم ستونی ډک شو. يوه شېبه يې خبرې بندې کړې چې آرام شي. خو د زړه تنګوالی يې نه کمېده. اوښکې يې وڅڅېدلې. په سترګو يې ورغوی تېر کړ. وېسېد:

– ای بچيه! ډاکټره وايي ته التهاب يې. زړه مې ډېر درته ځورېږي کنه نو. څه وکمه؟ ايځ مې په وس ندي.

کريم سلګۍ ووهلې. ويې ويل:

– وه ګرانه ميرحمزه! وه زما د لنډو شپو ياره! وه زما د اوږدو ورځو درده! خدای شته زړه مې ستا ليدلو پسې چوي. ای زويکيه! سترګې مې په اينتظار اينتظار مرضي شوې. سوی کوي. وېرېږمه چې ستا تر ليدو مخکې ړندې نشي. ای! هر څه لرمه هر څه. يو تا نلرمه. راشه په خير کنه نو! د ټولو مخ کې غاړې واچوه! چې د بدبخته نوم رانه لرې شي. چې د خلکو د زړه سوي نه خلاص شو کنه نو.

سپيو وغپل. وزه بيا وبنګېدله. کريم په سترګو سولولو حويلۍ ته روان شو. شاته نازيې هرڅه اورېدلي وو. اوښکې يې يو دم لکه ناوه وبهېدلې. په حويلۍ کې وزه بيا پاڅېدلې وه. په کوڅه کې خلک غلي غلي غږېدل. کريم غوږ ونيو. غږونه لېرې شول. دی نه پوهېده چې نورعلي دوئ دي که هاغه د مابنام نا اشنا کسان. سپيان غلي شول. وزې هم ځان برابر کړ چې پرېوځي. دا وخت له کوټې څخه د نازيې وارخطا غږ راغی:

– وی الا، وی الا خير! وه خدايه خير! اله سرېه!...

د کريم زړه وښوېيد. منډه يې واخېستله. نازيه نېغه ناسته وه. په خېټه يې لاس تېروه. د مېړه په ليدو يې وويل:

– وی الا سرېه! ميرحمزه ميرحمزه! الا خدايه خير!

کريم وپوښتل:

– څه خبره شوې؟ ولې؟

– اله ډېرې لغتې وهي. وی خدايه څه وکمه؟

– ته آرامه شه! سمه خبره وکه کنه نو! دې کې نو څه خبره ده؟

– وه خدايه، دا څنګه سرې دی؟ ګوره ګوره! اح، اح، دغه ځای دی. اله خير کې خدايه!...

د خېټې هماغه ځای يې ښود چې کريم ورباندې لاس ايښی و. ده غوښتل هم ښځه آرامه کړي او هم له مشکل څخه خبر شي. شونډې يې وخوځېدلې:

– خو مير حمزه خوځېږي. ته نو ولې ورته خفه يې؟

نازيې غبرجګ کړ:

– وه خدايه! تا وانه ورېدل؟ ډاکټرې څه ويلې؟ دا وخت کې ماشوم آرامه وي.

– آرامه وي؟ ماشوم چې ژوندی وي خو پښې به وهي کنه نو.

– وی ته غلی شه! زرکوه د وهاب کاکا دايه اينږور راوله! زرکوه! اله اله اله...

کريم چټک ووت. په لوېې کوڅې کې يې وروستۍ دروازه وټکوله. نا اشنا موټر د کوڅې خوله بنده کړې وه. کريم په تعجب ور وکتل. د موټر د خاوند په مقصد پوه نه شو. د چينايانو غونډې د ګردو وېښتانو ځوان د کور دروازه خلاصه کړه. کريم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوت. په موټر کې وينې سرې نيغ کېناست. شېبه پس کريم يو ازې را ووت. د موټر سرې سر ټيټ کړ چې معلوم نه شي. دی په تېزۍ کور ته راغی. نازيې ته يې کړ:

– اغه وايي پروا نکوي. خو چي پرده ونشکېږي. او به په ماشوم وچې نشي.

نازيې ژر ژر سر وخوځاوه:

– وی، ډاکټرې ام امدا ويلې.

– څنگه شو؟ غلی دی؟

– نه، موټر چالان که! اله زر کوه چې ځو! شازمان ته ام غږ که!

کريم منډه واخېستله. تر پردې لاندې په کوټبند پسې ځوړند واسکټ يې واغوست. کيلي يې تل په باندينې جېب کې اېښودله. اوس هلته نه وه. سخت وارخطا شو. لاندې فرش يې وکوت. نازيې غږ کړ:

– وی، څونه وخت دې تېر که!

– د موټر کيلي نه پيدا کېږي. تا نده ليدلې؟

– وی، الا! ماسره څه کوي؟ دلاور ورېې نه وي.

– نه، اغه بېخي شترينګ ته ناست ندی.

کريم ټوله کوټه وکتله. سر ورباندې وګرځېد. تېز موټر ته لاړ. هلته هم نه په چوکۍ پرته وه، نه يې د پښو په ځای کې پيدا کړه. خپل بخت ته يې کنځلې وکړې. بېرته کوټې ته يې منډه واخېستله. ويې ويل:

– راځه وځو! د چانه به موټر واخلمه.

نازيه غلې وه. په خېټه يې لاس تېروه. کريم په قهر شو:

– پاڅېږه کنه نو! څه ته ناسته يې؟

هغې په آرامه وويل:

– اوس خو غلی دی. په لمنه مې ام او به رانغلې.

کريم هم لږ آرام شو. ويې ويل:

– ځه ورک يې که! ځه چې ځو! چې ناوخته نشي کنه نو.

نازيې سر وځنډه:

– وی، شپه ده. چېرته ونه ولېږمه.

– بنه ته ودرېږه! التهد کوڅې خوله کې نا اشنا موټر دی. که د کليوالو وي را به يې ولمه.

نازيې له لاسه ونيو:

– وی، نه نه. اغه به څه رقم خلک وي؟ نيمه شپه ده.

– نو څنگه کوې؟

– ځه ته ويده شه! زه به ناسته يمه. که څه خبره وه جګومه دې.

– اسې نو بيا ته سمله کنه نو! د وهاب کاکا اينږور ويلې چې مور ناراحته وي ماشوم ام ناراحته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم بالښت ته شخه تکیه وکړه چې خوب ور نه شي. نازیې یې په زنګون سر ولګاوه. ده یې په تندي ورغوی کېښود. نرم یې په وېښتو وښویاوه. همدا کار یې په ځلونو ځلونو تکرار کړ. یو وخت تر نازیې مخکې دده بانه ورغلل.

ooooooooo

سهار له کوټې څخه د غواوو، وزو او مېږو رمباړې راغلې. بوی یې فضا نیولې وه. چوپان نارې کړې:

– های های! مالونه راوباسئ های!

کریم نیغ کېناست. په انګړ کې سپینه رڼا وه. زړه یې وښویېد. ژر یې نازیې ته وکتل. هغه د دېوال بیخ ته پرته وه. ورټوپ یې کړ. سر تر پښو یې وڅېړله. د هوسایۍ سا یې واخېستله. کمپله یې وربانديې واچوله. په حویلۍ کې انار ولړزېده. وزې له رمباړو سره زورونه وهل. کریم واسکټ او کوټه بیا ولټول. د موټر کیلي پیدا نه شوه. دباندې ووت. یخ شمال لګېده. موټر ته له رسېدو سره ځای په ځای میخ شو. کیلي په سویچ پسې ځړېدله. له عمیق تنفس سره یې مخ بلې خواته واړاوه. بېګاه یې باور درلود چې کیلي یې اېستلې ده. ځکه یې سویچ ونه کوت. ځان ته په قهر و چې ولې په خپل باور شک نه کوي؟ ولې همدا یوه غلطي په وارو وارو تکراروي؟ وزې رمباړې وهلې. ده یې غړوندی په زوره واېست. هغه له درده وچونګېدله. دروازې ته یې منډه کړه. په لویه کوڅه کې د رمې د پښو په دوړه ننوتله. په زوړ څادر کې تاو ډنګر ځوان په لرګي ځمکه ټکوله او نارې یې وهلې:

– هررې! پسا پسا! هئ خدای دې مړه که! په وړو دې زور رسي. مړسترګې! های های! مالونه راوباسئ مالونه!

کریم غږ کړ:

– توپانیه! درغله کنه نو.

طوفاني په دوړو کې شاته وکتل. سپینه خولۍ یې په خیرو زېړه شوې وه. ترلاندې یې ببر سر وګراوه. ویې ویل:

– ومې لیدله څه! هررې! هات!

کریم کورته ستون شو. ډک سطل او به یې د موټر څنګ ته راوړې. لته یې پکې لنده او ښه پنډې کړه. موټر یې پاک ومینځه. د شنې پردې څنډه یې جګه کړه. نن یې کارګر رخصت کړي وو. لمر وربانديې تود ولګېد. د لاس سور ساعت ته یې وکتل. اوه بجې وې. د صاحب منصب هم هیڅ احوال نه و. تېز کوټې ته ننوت. ویده نازیه یې له اوږې وخوځوله. ویې ویل:

– مخ او لاس دې وکه چې ځو کنه نو!

هغه یوه شېبه غلې او چورتې شوه. ټول پام یې خپلې خېټې ته و. وروسته یې سر وخوځاوه. کریم چټک ووت. ترپردې ها خوا نوي کورته ودرېد. د هغه لینده ډوله کړکۍ، لینده ډوله پیکونه ښاېسته ښکارېدل. په زړه کې یې وویل «ای خدایه! ما ورته په ډېر شوق جوړ کړی کنه نو. ته مې دوعا قبوله کې!» په لینده ډوله پلګیو ودانۍ ته وخوت. هرچېرته وچه مصالحه پرته وه. ټولې دروازې سالون ته وتې وې. د ښي خوا کوټې ته لاړ. د لرګیو تختې او د سمنټو تشې بوجۍ یې حویلۍ ته واېستلې. له تاکاوۍ څخه یې بیلچه سالون ته راوخېږوله. وچه مصالحه یې په کراچۍ کې اچوله چې ټلیفون یې وترنګېد. سترګو ته یې پورته کړ. د صاحب منصب شمېره وه. غوږ ته یې ونیو. له هغې خوا غږ راغی:

– الو! کریم اوستاذه! غم مکوه! سړی د مرګه بچ دی. زه دلته نږدې غونډۍ سره یمه. کلکه تلاشي ده. چې ولې؟

– څه شی لټوي؟

– نه پوهېږمه. ښه څه، ځانونه تیار کئ! زه زر در رسېږمه.

کریم په بېلچه مصالحه ټولوله. ډکه کراچۍ یې په حویلۍ کې تشه کړه. اوس یې په لوټکه د دېوال پلستر ته اوبه ورکولې. نازیه راغله. زرغون کمیس یې له تور ټیکري او تور پرتوګ سره ښه ښکارېدل. په کړکۍ کې یې د موټر کیلي ولیدله. غږ یې کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وی، دادې خدای د تیږې لاندې کي! چېرته وه؟

– پیدا مې کړه نو، ته یې څه کوې؟

نازیې ته خندا ورغله. سریې وزنګوه. غږیې ووت:

– بیا چېرته ښکاره پرته وه؟

– نه، ښکاره پرته وه. دې ته ضرورت ام نشته. اغه ډګروال صیب موږ خپل موټر کې وړي.

نازیه تازه شوه. کریم جارو شروع کړه. ویې ویل:

– ته لرې! چې کوټه زر جوړه کمه. بیا وخت نه پیدا کېږي کنه نو.

ښځه په پاک شوي ځای کې ودرېدله. ویې ویل:

– وی، خدایه، زوړ او نوی کور چا راوړی؟ مدا چې په خیر سره وي.

کریم له پخوانه په زړه کې ویل که ماشوم یې اول په زوړ کور ننوځي نو پاتې به نه شي. خو دا اندېښنه یې له نازیې پټوله. هغه لکه خبره چې وي. ویې ویل:

– توری، مې ویلې شګون د سوري مار دی. لاس مکوه چیچي دې نه. وی، د اغې سل روپۍ په ما دي. اخیرت کې به یې غواړي.

نازیې سوړ اسویلی وکړ. بیا یې پېړې شونډې ورپېدلې:

– د کاکا ښځې نه مې ام یوه کاسه شودې اخېستې وې. اغسې پاتې شوې. د ماموني بابۍ څلور هګۍ ام راباندې دي.

هغه موسکۍ شوه:

– وی، الا! مرمه څه بلا. پخواني قرضونه رایاد شوه.

کریم وخندل:

– ههه، شګون د سوري مار دی. لاس مکوه، نه دې چیچي.

نازیه مړاوې شوه:

– وی، ټوله شپه مې ګډوډ خوبونه لیدلي. خدای دې ښه کي!...

دروازه وټکېدله. کریم خوشحاله شو. ویې ویل:

– اغه دی ډګروال صیب بېچاره راغی.

جارو یې وغورځوله. تېز لاړ. هلته د اوږدو وېښتانو ځوان سا نیولی ولاړ و. ده وپوښتل:

– خیریت دی غلامه؟ دننه راځه! چای به وسکې کنه نو.

– پیره! کولمې مو وشکېدلې. په ټېلو هلو موراوستی. راته کنکشن یې که!

کریم سر واېست. په لویه کوڅه کې د غلام څښور ورور بختیار د جیګري کرولا په ډالې پروت و. لاس یې جګ کړ. ویې ویل:

– چیرا غونه چالانه پاتې وه. هت تر سبا. چارج یې موکمل وهلی. ابا مې په پړو نه درېږي چې تاسې ماشین جام کړی.

کریم خپل موټر واېست. د لویې کوڅې په پای کې هماغه نااشنا کسان بیا روان وو. کریم غلام ته مخ کړ:

– دا د چا مېلمانه دي؟

– د جبار کسان دي پیره.

– نو دلته څه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام له اوږو اچولو سره خوله ويته کړه. موټر چالان شو. ده خپله سراچه بېرته راوستله. له زوړ کور څخه يې فرش او بستره په اوږه واړوله. نازيه په زينې ناسته وه. په خېټه يې لاس واهه. کريم فرش او توشکه په کوټه کې وغړول، راووت. نازيې وپوښتل:

– وی، اغه سړی څنګه نه را رسېږي؟

کريم د لاس ساعت ته وکتل. د شنې پردې هاخوا غږونه شول. چادري کړې ښځې په زړې ودانۍ ننوتلې. يوې ناري کړې:

– ای خلکو! چېرته يئ؟ کريم لالا! نازيې وربندارې!

دی له شنې پردې تېر شو. ځواب يې ورکړ:

–آ، آ، دادی دلته يو.

چاغکۍ خور يې د شنې چادري مخه جګه کړې وه. له دهلېز څخه بېرته دالان ته راووتله. په جګ غږ يې وويل:

– دا تپول وايي موږ ام ځو. ځايېږي؟

شاه زمان او دلاور پښه نيولي حويلۍ ته ننوتل. کريم سر وخوځاوه:

– دوه موټره دي.

نازيې درانده ګامونه واخېستل. ويې ويل:

– وی، زموږ کور څنګه ګډوډ دی.

کوټې ته ننوتله. د بالښتونو او توشکو په سمولو لګيا شوه. کريم مرستې ته ورغی. دباندې هاجرې کاغذ ته کتل روانه وه. شاه زمان ورڅخه واخېست. ويې لوست «قدرمنو ورونو! کلي پرېږدئ! چې ژوبل نشئ» سترګې يې تېرې شوې. ويې پوښتل:

– دا چا درکه؟

هاجره وډاره شوه. ژر يې کوڅې ته ګوته ونيوله:

– هه هه، التبه پروت و.

هغه دهلېز ته وتښتېدله. دلاور موټر ته تکيه کړې وه. شاه زمان کاغذ په لاس ورکړ. په خپل برابر غږ يې وويل:

– ای! دا د جبار کار نه اوسي. کسان يې کوڅو کې کته پورته کېږي.

د دلاور له څېرې سرخي ورکه شوه. اوږده زنه يې وخوځېدله:

– خو کريم لالا ته ووايه! که صيب منصب راغی بيا ځي کنه.

شاه زمان کاغذ بېرته واخېست. ويې ويل:

– ورشه په دې بانه يې راوله!

يوه دقيقه پس کريم د دواړو مخ ته ولاړ و. شاه زمان کاغذ ورکړ. کريم وکوت. موسکی شو. ويې ويل:

– دا؟ دا دو نه خبره نده.

هغه لمر ته وکتل. وخت په منډه تېرېده. خو د صاحب منصب درک نه و. دلاور د شاه زمان لاس کېکاږه. هغه ستونی پاک کړ. شونډې يې ورپېدلې:

– ای لالا! موږ ته اجي صيب ويلې که ته د ښار ځمکه ورکې.

کريم ته د ورور له خولې دا خبره عجيبه ښکاره شوه. ننوتې خوله يې وخوځېدله:

– اجي رسول؟ دا څنګه سړی دی کنه نو؟ چې و مې ويلې نه يې درکومه خو نه يې درکومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو ورونو سره وکتل. دلاور سر وړاندې کړ. اوږده زنه یې وخوځېدله:
– موږ ته یې راکه موږ ته!
– دا دې لا بله! اغه خو څه خامه خښته نده چې ځه خیر دی. د څو سوه لکو مال دی کنه نو.
دلاور ورمېږ کوږ ونیو:
– څنګه درته ووایو؟ موږ ورته زښت ډېر ضرورت لرو ضرورت. لکه اینجن مو بلاینو ته.
کریم پوه نه شو. یو قرار یې کتل. د دلاور غټه زنه وخوځېدله:
– دسې چل دی چې موږ د...
شاه زمان مداخله وکړه:
– اجي صیب رسول ته یې ورکوو کنه. انډیوال دی.
دا ځل کریم کټ کټ وخندل. ویې ویل:
– کېنه خوار شې کنه نو! انډیوال دی. اغه تا غوندې سړي ته والیکم نه وایي. هههه.
– ولې نه؟ په تاریخ کې این شازاده ګانو د غریبانو سره دوستي کړې. د اوردن عبدالله د فلسطینۍ مهاجرې سره دوست نه و؟ رانیا چې نومېدله. چې بیا یې ورسره واده وکه. اجي رسول ډېر ټینګ شو. ما ویلې ځه تانه به یې موږ واخلو. اغه ته به یې ورکو. کریم ته بحث جالب نه و. د ټلېفون ساعت ته یې وکتل. په آواز یې وویل «دا ډګروال صیب څه شو؟» شاه زمان ته یې مخ کړ:
– ستاسې ماغزه خراب شوي کنه نو. د ورور نه یې اخلئ، پردي ته یې ورکوئ. دا څه شی شو؟
– د اغه ډېره خوښه شوې ده. وایي هر څنګه چې کېږي د کریم اوستاذ نه یې اخلمه.
دده ماغزه وخوټېدل. څېره یې بدله شوه. ګردې سږمې یې وپړسېدلې. ویې ویل:
– ورته ووایه چې قیامت ته صبر وکه!
– پیسې درکوي، خوشې خو یې نه اخلي.
د کریم د مخ پوستکی له قهره کش شو. خپلې چیچې پښې ته یې اشاره وکړه. ویې ویل:
– دا ګوره! ما په دغه قیمت ګټلې ده. تنکی الک ومه ګیلکارې مې کوله. غټانو سره مې تیږې لګولې. سل واره زخمي شوی یمه سل واره. اخېر رابانډې سمه درغنه وولېدله. ټول عمر ګوډ شومه. اوس یې اجي ته ورکمه، څه دی چې د اغه خوښېږي کنه نو. ولې زه د ښه شي لایق نه یمه؟ زما ام د خلکو ډېر شیان خوښېږي. چاته خو مې ندي ویلي چې راېې که.
دلاور غږ کړ:
– انډیوال دې درکړې ده. پیسې خو دې پې ندي تللي پیسې.
– څنګه ندي تللي؟ خبر یې، که اسې ګډ یې؟ اوه منزله پلازا ورته چا جیګه کړه؟ بل بیلډینګ مې په ټېکه نیولی و. الته مې ګټلې په دې مې لګولې. پینځه میاشتې یې د مزدورانو تنخا ما ورکوله. په بدل کې یې دا ځمکه راکړه. هو، کولی یې شو قیمته یې خرڅه کې. زما پیسې راکي. خو اغه ام نر سړی و کنه نو. په انډیوالۍ کې یې د پیسو ایساب نه کاوه. خدای دې وبښي.
هغه تور ټلېفون غوږ ته ونیو. دلاور شاه زمان ته وپسېد:
– ما ورته اصلي خبره کوله. تا پرې نښودمه.
هغه ټېغې سترګې کږې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بیا خو یې په ټوپک ویشتلې. کمقله!

د کریم غږ ووت:

– الو ډګروال صیب! ته چېرته یې کنه نو؟ په موږ بېخي ناوخته شو.

صاحب منصب په دسمال د پزې وینې پاکولې. د نظامي جامو ګرېوان یې تک سور اوښتی و. موټر یې ګېر ته واچاوه. په آینه کې یې شاته وکتل. وسله والو اشاره کوله چې تېز ځه. په ټلیفون کې یې وویل:

– ځه ورک یې که! دلته وسله وال مې نه پرېږدي چې درشمه.

– دریشي دې ځان کې ده؟

صاحب منصب د «هو» ځواب ورکړ. کریم حیران شو. ویې پوښتل:

– ولې کنه نو؟ دا څوک دي؟

– زه یې څه پېژنمه. ای وروره! نه کېږي نو. که ښار ته راغلې زنګ راته ووهه!

ټلیفون بند شو. کریم تېز کوټې ته ننوت. ویې ویل:

– خورې! راځه چې ځو! ډګروال صیب نه راځي.

نازیه پوه نه شوه. مېره ته یې حیرانې کتلې. کریم له الماری څخه جواز سیر واخیست. نابیره ډزې شوې. ټول یې هک پک کړل. په منډه دالان ته ووتل. کریم نازیې ته په غوږ کې وپسېد:

– دغه دی شرو شو. اوس یې ګوره کنه نو!

نازیې بیا په تعجب وکتل. دباندې د شاه زمان سترګې هواته تاوېدلې راتاوېدلې. کاغذ یې بېرته له ځمکې جګ کړ. دلاور ته وپسېد:

– زه اوس پوه شومه دا څه خبره ده. په کلي جنګ دی.

دلاور په سرمو کې وپښېد:

– هه، په کلي جنګ. دلته د وروسانو رایسې جنګ ندی شوی. اوس به کېږي اوس؟

– ما هر وخت ویلې، تاریخ تکرارېږي.

– ځه مړه! ستا هر کله ویرېنګ خراب وي. وایې یو شی کېږي بل شی.

شاه زمان سترګې برګې کړې:

– مستري شی یې نو. د حلوا په ځای دې ګریس خوړلې.

د راکېټ زورور درز د دواړو رنګونه تک سپین واړول. له کوڅې څخه د ښځو غږ راغی:

– جنګلاوه، جنګلاوه، جنګلاوه...

د کریم چاغکۍ خور دروازې ته په تګ کې وبنګېدله:

– وی، بچې مې!

ده ورباندې غږ کړ:

– چېرته لاړې کنه نو؟ موږ سره نه ځې؟

هغه پښه نیولې شوه. چادرې یې له مخه جګه کړه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دې ډزو کې؟
– هو کنه نو. مور سره څه کار لرې؟
خوريې زړه نازړه راوګرځېدله. د کور شاته د داشکې ضربه شوه. لکه دننه په حويلۍ کې چې وي. د ښځو او نجونو چيغه وختله. خوريې بيا منډه کړه. وسيمه او هاجره له کريم سره ننبتې ودرېدلې. ميندو يې له لاسه کشې کړې. شاه زمان او دلاور هم ووتل. کور تش شو. نازيې مخ مېږه ته کړ. په سترګو کې يې ګيله وه. کريم سړي له هوا ډک او تش کړل.

ooooooooo

سوالګره د سرک په جمپ ګرځېدله. دلته هر موټر سرعت کموه. هغې به تنکۍ لاس تر زړې چادرې وابست. اکثره به تش پاتې شو. د دروازې غنګس راغی. هغې ښی خواته وکتل. د ساتونکو فولادې غرفه خلاصه شوه. دوه تنه وسله وال په منډه سرک ته راغلل. لاره يې بنده کړه. په ډېرورانو برګ برګ شول. يو تن يې سوالګرې ته وبنګېد. هغې د فولادې ودانۍ څلورم منزل ته وکتل. حاجي رسول په کړکۍ کې ولاړ و. ساتونکي ژر ځان سم کړ. سوالګرې په چادرې کې پخوهل. بل موټر ته يې د سوال لاس ونيو. لويه فولادې دروازه خلاصه شوه. تورپيک اپ موټر په تېزۍ را ووت. د ټايرونو له خرپس سره په سرک تاو شو. پاس حاجي مخ وګرځاوه. د کوټې منځ ته لاړ. د زېږو ترخو اوبو ګيلاس يې په سر واړاوه. د مخ سور پوټکی يې ګونجې ګونجې شو. په فولادې کوچ کېناست. مخامخ غبرګ خمنډ سړي ورته ګردې سترګې نيولې وې. په بادامو يې شخوند واهه. حاجي تش ګيلاس کېښود. ويې ويل:
– د خمزورې د دانو اوبه دې قوربان. کولوسترول ته ام ښې دي، شکر ته ام.
بيا يې د سړي د لاس کاغذونه وکتل. پينځه ويشت دانې زرګوني يې ور کړل. بله دوسيه يې ور ټېلوهله. ويې ويل:
– اوس نو دا د ښاروالۍ نه خلاص که قوربان! څونه مصرف به راشي؟
خمنډ سړي په دوسيه کې پاڼې واړولې. سر يې جګ کړ. له ډکې خولې يې خبره ژوولې ووتله:
– دوه لکه.
– کوشش وکه چې کمې شي قوربان. د ملکيتونو ريس درسره کومک کوي.
سړي سر وښنده. ويې ويل:
– بېګا اغه او ښاروال د ببرک کره مېلمانه وو.
د حاجي رنګ سور واوښت. د ټلېفون غږ پورته شو. دواړو جېب ته لاس کړ. حاجي ته زنګ و. هغه خمنډ سړي ته مخ واړاوه:
– خير ويسې چې خبر دې کړمه قوربان! ځه نو، ته دا کار وکه!
سړي د چای ګيلاس په ستونې کې تش کړ. چوست پاڅېد. حاجي سپين غټ ټلېفون غوږ ته ونيو. د نوي خبر له امله يې ژر ژر سا اخېستله. د کړښې هاخواته جبار په لوی ګاراج کې ولاړ و. دوو کسو په سپين موټر د امبولانس ټاپه لګوله. جبار په ټلېفون کې غږ کړ:
– الو الو! اجي صيب! اورې؟
– هو اورمه قوربان. جنګ وننبته؟
– داسې ډولونه درزېږي. ههه.
هغه په موټر باندې د امبولانس ټاپې ته سر ټيټ کړ. په جګ غږ يې وويل:
– لږه کړه ده.
دوو تنو د سمولو کوشش وکړ. د حاجي غږ راغی:
– څه دې وويلې؟
– نه نه، دلته چاسره غږېږمه. جنګلاوې ته تياری نيسو. ښنګه شو؟ وغږېدلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هو قوربان. ستاسو خواته به څوک يو ډزام ونکي.
د څرخکو غږ شو. جبار اسمان ته وکتل. د حاجي تندی هم ګونجې شو. ټلیفون ته يې شونډې نژدې کړې:
– په طيارو ايتبار نشته قوربان!
جبار سر وخوځاوه:
– پوهېږمه. ما ويلې زما کسان خو کوڅو ته وځي.
– ايخ خبره نشته قوربان! ستاسې کار خو الته دی چې جنګ تېر شوی وي.
راکټونه نژدې ولګېدل. جبار دباندې ووت. اول يې د ودانۍ ښيښو ته سترګې واړولې. روغې وې. وروسته يې شاوخوا وکتل.
په ټلیفون کې يې وپوښتل:
– ته راځې اجي صيب؟
– حتمن قوربان حتمن.
جبار يې په خبرو کې تغير احساس کړ. ويې پوښتل:
– خيريت خو دی کنه؟
په حاجي هاغه پوښتنې چې په جبار پورې يې اړه نه لرله ښې نه لګېدلې. تنده يې تروه شوه. خو بيا يې هم د خير او خيريت ډاډ وركړ. جبار وويل:
– هو رښتيا، د کريم اوستاذ ښار مې پرېښوده. دې جنګ کې پيشکه نشي ګرځېدلی پيشکه.
حاجي الماری خلاصه کړه. تور واسکټ يې په خړ بدل کړ. ويې ويل:
– د وتلو لار نشته؟
– شته خو...
– الته خپل کسان ودروه قوربان.
– نه اجي صيب. موږ سرګرولو ته وزګار نه يو. دوئ پوهېږي کار يې.
– اصلي جنګلاوه د کريم اوستاذ ځمکه ده قوربان. پوی شوې؟ او په اغه صيب منصب ام پام کوه! چې بيا رانشي.
جبار سرمې وپړسولې. په کلکه يې وويل:
– د اغه چې په ياد وي دېخواته به ونه ګوري. بې غمه اوسه!
د حاجي له قهره سترګې پټې او خلاصې شوې. په کلکه يې وويل:
– زه درته وايمه ودروه! د هرکار دپاره لږ تر لږه دوه لارې ګوره! که يوه ونه چلېږي بله به وي. پوی شوې که سلم ځل يې وو ايمه؟
جبار تروه تنده د خوږ پورې غاړې ته واړوله. هلته له هرې خوا په بابا کلا مرمۍ لګېدلې. ده په ستونې کې د وب غږ واېست:
– صيبي شو. خدای پامان.
له ټلیفون بندلولو سره يې وويل:
– ځه خپل کار کوه!

oooooooooo

چېرته نژدې د وسلو کړسهار شو. مرميو د انارو پاڼې ورژولې. کريم په دالان کې سر ټيټ کړ. د چرګانو کټکټاک وخوت. آن په هوا کې د چنچڼو سېل جهت بدل کړ. کريم د حويلۍ په منځ کې د موټر څنګ ته ودرېد. د ډزو په ځای پسې يې سترګې وګرځولې. مګر وسلې له هرې خوا چلېدلې. د باروتو بوی و. هغه بېرته دهلېز ته ننوت. نازيه په کوټې کې وه. کريم له دروازې غږ کړ:
– ته نو ولې کېناستلې؟
هغه رپېدله. د توشکې څنډه يې په منګولې مروړله. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وی، خدای دې خیر کي! ما خو ویلې ګډوډ خوبونه مې لیدلي.
د درنو وسلو ډزو زور واخیست. نازیه وچونګېدله. کریم یې څنګ ته کېناست. موسکی شو. تلویزیون ته یې سترګې جګې کړې.
یو تن په وروستیو کلونو کې د افغانستان په پرمختګ غږېده. کریم په ملنډو په سږمو کې وپشېد. برق لاړ. هغه وخندل:
– هههه، یو دړېدنګ. دېشونه خو ختم شوه.
نازیې غږ جګ کړ:
– وی، دا څه وایې؟ خیر دې خوله کې نشته؟ زما دې کرکه راوستله.
کریم نرۍ شونډې وخوځولې:
– امدا خیر دی کنه نو. په یاد دې دي؟ ما چې ویلې دا ځل نیکي په بدي زوروربږي.
– وی، بس که نور! غټې سرۍ یې، ماشوم ماشوم کېږې. خلک مري خلک.
د کریم څېره یودم تروه او سترګې تنګې شوې. په فرش یې مخامخ پلتۍ ووهله. ویې ویل:
– پرېده چې دا مردار خلک مړه شي. ته خبره یې؟ د کشرې خور کره مې د څه دپاره او بنتي وه؟
– آغله؟
– غله نه وه. زناکار وه.
– وی، توبه. غلی! په تا نن څه شوي؟
– غوږ ونیسه! موږ ورباندې د غلا نوم کېښود. هو کنه نو. چا ته یې سپینو ې چې کامیابه نشوه؟ اغوئ به زموږ مخ کې کته پورته کېدله. راپورې خندل به یې. موږ نه پېژندله. اوس به یې خدای مردار کي. پویه شوې؟
– وی، مرمۍ عقل نلري. په چا لګي، مالومه نده.
– په امغو لګي. وبه وینې! خدای پاک خو غیرتي دی. ګوره کله کله دې ادې ته ګرمه شې. چې خولې نه دې ونه وځي!
نازیه غلې شوه. اسویلی یې وکړ. کریم پاڅېد. هغې له لاسه ونیو:
– وی، چېرته ځې؟ زه وېرېږمه.
– دروازې پورې. ته ام راوځه کنه نو!
د چرګانو چیغې وې. مرغانچه یې خلاصه کړه. هغوئ هرې خواته وځغاستل. کریم کوڅې ته سر واېست. د سپینې خولۍ ځوان منډې وهلې. رنګ یې الوتی و. د کریم نه خوښېده. قمارباز و. ځوان د خپل کور دروازه ټېلوهله. کریم ورباندې غږ کړ:
– الکه تېموریه! څه خبره ده کنه نو؟
– په بابا کلا حمله ده. یره کریم اوستاذه د چا دوعا به وه. خدای وساتلمه.
ځوان کور ته ننوت. کریم پخوهل. بېرته وګرځید. نازیې په دهلېز کې سور ټلیفون له غوږه لېرې کړ. کریم د ماشینګڼو د ضربو په لور داسې اشاره وکړه لکه د واده ډزې چې وي. نازیې وویل:
– وی، ادې مې خواره راغلې ده. کلي ته یې نه پرېدي. وایي جنګ دی.
– ښه؟ هههه، املته دې وي! موږ ورځو. ځه موټر کې کېنه کنه نو!
– وی، ته ودرېږه د میرحمزه کالي خو واخلمه.
نازیه تېزه کوټې ته ننوتله. کریم کمک ته ورغی. الوتکې ددوئ د کور دپاسه تېرې شوې. نازیې ګلداره دسمال غړولی و. له فلزي بکس څخه یې د ماشوم جامې وراتنقالولې. کریم وویل:
– دسمال لرې که! بیک شته کنه نو.
– وی، نه، ډاکټرانې به وایي د جامو په ټولولو نه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې پړسېدلی دسمال په ییک کې ومانده. چادري یې له بکسه وا خېستله چې په سر یې کړي. د الوتکې غږ ټیټ راغی. درنه چاودنه وشوه. کور وجړکېده. د ښیښو ټوټې په فرش وکولېدلې. نازیې چادري وغورځوله. په کریم یې ور ټوپ کړ:

– وی خدایه توبه! وی قیامت شو! وی توبه! وی توبه!...

رنګ یې تک سپین او ښتی و. سا یې تېزه تېزه اخېستله. چرګان په چیغه په دهلېز ننوتل. د خاورو او باروتو ګڼه بوی راغی. کریم د نازیې په شا لاس تېر کړ. ویې ویل:

– خیر دی. خیر دی. دونه خوپکې وي کنه نو. مګر بد ګوزار و. الکانو ته دې خدای خیر کي الکانو ته.

څرخکې لاړې. نازیې خپټه ونیوله. وسونګېدله. کریم وارخطا شو. نازیې وویل:

– په ماشوم درد و. بېرته ورک شو. ای تا ویلې الکان؟

– هو، نورعلي دې یادومه. دا جنګ اغوئ شرو کړی کنه نو.

نازیې وړه پزه مونجه کړه. ویې ویل:

– وی دا ځناور. موټر یې ام ناوخته راوه. خدای دې تبا کي!

کریم برګ شو:

– غلې شه جینی! ښېرا مکوه! موټر بل چا وړی و.

– وی زمو ړ ښیښې چې...

– اغسې ام نوي کور ته نن ښیښې راوړي.

نازیې مخ واړاوه. د رنګارنګو وسلو غږونه وو. وچ کړسهار، درونددرب درب، دوامداره ضربې. کریم له متې ونیوله. نازیې لاس کش کړ. ویې ویل:

– امدلته ښه یمه. ځان رابانديږ ایضافه ندی. خدای به خیر کي.

کریم په قهر شو:

– په تا څه شوي؟ سمه لېونی یې ولا.

نازیې چیغه کړه:

– وه خدایه دا څنګه سړی دې راکړی؟ جنګ دی جنګ. ګولی وریږي. بمونه ولېږي.

کریم هم غږ جګ کړ:

– په موږ پورې څه؟ چاچې کلي کې اندوخر جوړ کړی امغه دې ورته ځان ټینګ کي کنه نو. ای! پینځه ویشت کاله کېږي زما اوستا خپل جنګ روان دی خپل جنګ. د بخت سره جنګ. پاڅې تکړه شه! خپل جنګ وګټه کنه نو!

د نازیې ستونی ډک و. سر یې شاته په دېوال ولګاوه. وبنګېدله:

– اېچېرته نه ځمه. ادې مې وایي د کوره ونه خوځېږې.

– ادې دې څه پوېږي کنه نو؟ هېر دې شوه؟ ډاکټرې څه ویلې؟ که املیات ونکې څه کېږي؟

– اغه څه خدای ندی، وی توبه.

د کریم رنګ سور واوښت. تاو راتاو شو. بېرته یې سترګې د ښځې په څېرې کې خښې کړې. ویې پوښتل:

– څه غواړې؟ چې په وهلو وهلو دې بوځمه؟

– هو، ځه! ته دې زور ووهه!

کریم غاښونه وچیچل. یو دم یې مخ وګرځاوه. په توشکه پروت بالښت یې لکه د فوټبال توپ وواهه. هغه په کونج کې په وړې الماری ولګېد. ژړ ژړ یې سا اخېستله. په نیولي غږ یې وویل:

– صیبي ده. زما بخت خراب دی. چې څه غواړمه اغه نه کېږي. خو...

د هغه سینه تنګه شوه. سا یې په زور کشوله. نازیې وړې سترګې جګې کړې. د کریم نری شونډې ورپېدلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اوس خو د ځان دپاره نه وایمه کنه نو. ته ما د زخمي ګوتې نه مه نیسه!
– وی، خدایه، دا سړی څه وایي؟ زه په تا وېرېږمه په تا.
کریم په سرا چولو او ستومانتیا وویل:
– چې میرحمزه نه وي نو زه دا ژوند...
ستونی یې ډک شو. اوښکې یې وڅڅېدلې. نازیه یو دم پاڅېدله. دروازې ته یې لاس ونیو:
– ځه مخته شه!
کریم شترنګ وڅرخاوه. موټر لویې کوڅې ته برابر شو. د هغې په پای کې سرک ښکارېده. د وهاب ټولې کورنۍ منډې وهلې. ښځو مخونه په ټیکریو کې تاو کړي وو. په یوه سترګه یې لاره کتله. د دوئ په لیدو سپینږیری وهاب حیران شو. ګوزڼ وهلې کړه خوله یې وخوځېدله:
– وګرځه د اغه زو! وګرځه!
کریم له ښیښې سر واېست. ویې پوښتل:
– ولې کاکا! تاسې چېرته؟
– د اغه زامنو! زما کور کې سنګر ونیو. ما ویلې ووځئ. نزدې یې ویشتلی ومه. دا یې راکه.
کریم ترې کاغذ واخېست. پکې لیکل شوي وو «قدرمنو ورونو! کلی پرېږدئ! چې ژوبل نشئ» د وهاب غږ ووت:
– ته کومې خواته لکه لېونی روان یې؟
– شفاخانې ته.
هماغه د ګردو وېښتانو ځوان چې تېره شپه یې کریم ته دروازه خلاصه کړې وه غږ کړ:
– ابا! راځه کنه!
– راغلمه د اغه زو! چېرته به لاړ شو؟ په بېدیا به ګرځو کنه.
کریم موټې له ښیښې واېست. ویې ویل:
– هه دا کیلي واخله کاکا! زموږ کره ننوځئ! اغه لږ چپ دی.
– وګرځه د اغه زو! په سرک چرګان ولې چرګان. تا پرېږدي؟
کریم ګېر بدل کړ. موټر نرم وخوځېد. سپینږیري ورپسې حیران حیران کتل. له سرک څخه ضربه شوه. مرمۍ د موټر په څنګ ولګېدلې. نازیې چیغه کړه. سپینږیري له بچیانو سره منډه واخېستله. کریم ژر موټر شا ته بوت. رنګ یې سپین واوښت. ایله یې پام شو چې په خورا بد وضعیت کې دی. جنګ وربانديې د موټر یو ازینۍ لاره بنده کړې ده. پلې لارې اوږدې دي. که نازیه د تللو وس هم پیدا کړي تر غرمې رسېدلې نه شي. اوس به څه کوي؟ سل کنځلې یې وکړې. په کور کې یې سړي د مېلمنو کوټې ته ننوېستل. سپینږیري وهاب له وطني قالینې د ښیښې ټوټه واخېستله. حویلۍ ته یې واره کړه. ویې ویل:
– زموږ ام یوه کړکۍ جوړه نده پاتې. دې جنګ سره به څه کوو؟
کریم د هغه خبره بېخي وانهورېدله. لاره ګودر ترې ورک و چې ښځه په کومه زېږنتون ته ورسوي. وهاب وخوځاوه:
– د اغه زو! په تا څه وشوه؟
کریم د نهیلۍ اسویلی وکړ. ماشومه راغله. اوږده کوڅۍ یې په ملا زنګېدله. ویې ویل چې مور مې کریم استاد ته غږ کوي. سپینږیری هم ورسره د هلېز ته ووت. اینږوریې مخامخ په دروازې کې ولاړه وه. د څادر له سوري یې په یوه سترګه کتل. ویې ویل:
– وروره! اله ښځه دې زر کلینیک ته بوځه! چې ناوخته نشي.
کریم د ننه ناستې نازیې ته غاړه اوږده کړه. هغې ژر غږ کړ:
– وی، زه ورته هرڅو نه وایمه الته ښځه ډاکټره نشته. دا کلکه ده چې لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وهاب د اینړور غږ ووت:
– وروره! املیات کې خېټه څیري. نور مریض پټ وي. لاس یې ام پې نه لګېږي.
کریم سر وځنډه. ښځې وویل:
– وا! دا څنګه سړی دی؟ بچی دې مري ګوره. داح.
کریم جیټکه وخوړه. سربداله شو. مخ یې هاخوا دېخوا ته واړاوه. سپېږیري یې په اوږه لاس کېښود:
– د اغه زو! تاته د ښځې او بچي نه خپله خبره موهمه ده نو؟
کریم بیانازیې ته وکتل. هغې خېټه کلکه نیولې وه. زګېروي یې کول. ده سر ښکته واچاوه.
oooooooooo
جنګې الوتکې ګرځېدلې. له یوې بالاخانې څخه په بابا کلا راکټونه ولګېدل. دوړې جګې شوې. دېوالونه یې سوري کړل. له هغې خوا یې په هماغه کور رنګه مرمۍ وویشتله. سور لوګی ترې پورته شو. الوتکو د لوګي په ځای بم وغورځاوه. کریم دلته په کوڅه کې سرتیټ کړ چې په چره ونه لګېږي. چادري کړې نازیې ته یې هم لاس وخوځاوه. ویې ویل:
– کېنه! کېنه کنه نو!
هغې په سختۍ ځان کوږ کړ. له بام څخه غږ راغی:
– ای! د نواب دې بالاخانه یې والوزوله.
کریم پاس وکتل. غاړه یې اوږده کړه. څوک نه ښکارېده. د ښځې قهرجن آواز جګ شو:
– وه ځوانیمرګ نشې! کته شه! د جنګ سیل ام چا کړی؟ ونه لګېږې.
ځوان کټ کټ وخندل. ویې ویل:
– نواب دې کور کې نشته. وخته تښتېدلی دی.
کریم په زړه کې وشرمېده چې هلک په بام نه وېرېږي. دی لاندې پټ پټ کېږي. له نازیې څخه د مخکې کېدو په ترڅ کې وېنګېد:
– د جومات په کوڅې کلینیک ته ځو!
نازیه سسته سسته روانه وه. شېبه پس دواړه په کونج تاو شول. مخامخ میدان ښکارېده. د کلینیک ټیټ دېوال یې ولید. د جنراتور غږ راته. کریم په زړه کې وویل «خدایه پاکه! ما وبښه! د مجبوریت نه یې نارینه ډاکټر ته بیایمه» دوې پښه تېزه کړه. د کوڅې سر ته ورسېدل. په کلینیک کې ډزې وې. د یو کور په دروازې کې ښځو مخامخ میدان ته کتل. د کریم په لیدو پناه شوې. د خلکو غږونه راتلل. ده غټ سر له کونجه واېست. ډله خلک ولاړ وو. کلینیک ته یې کتل. دوو تنو د سپین لنګوټي والا جګ سپینږیری کلک نیولی و. هغه د میدان خواته زورونه وهل. هلته د خریلي سر او چنګې پزې ځوان ناست و. سترګې یې پټې او په غوږو یې ګوتې ننوېستې وې. په زوره زوره غږېده:
– بازګله! میلې کوه! تربور دې مړ شو. وه وه وا! ته خو ژاړې. ښه ښه، اوس پوه شوې چې تربور خو خپلوان وي...
کریم نازیې ته وېسېد:
– ته امدلته ودرېږه!
خپله له کونجه تاو شو. خلکو ته نژدې ورغی. ویې پوښتل:
– دا ولې؟ په متین څه شوي؟
د مونجۍ رېږې ډنګر ځوان، چې سپینږیری یې له متې کلک نیولی و، وویل:
– غوږونه یې پټ کړي چې ډزې وانه وري. اغه د مکتب ډرامه کې خپل ډیلاګ وایي. بصیر کاکا په قار دی چې ود دې شرمولمه.
کریم کلینیک ته لاس ونیو. ویې پوښتل:
– الته څه خبره ده؟
په دوو پښو ناست سپینږیري وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وسله وال ننوتي. بلا ورپسې، زموږ مريضان بند پاتې دي.
د کريم په زړه کې تېر شول «دنورعلي کسان دي» ويې ويل:
– تاسې ته خو څه نه وايي. خپل مريضان راوباسئ کنه نو!
سپينږيري غږ کړ:
– داځ، څه نه وايي. سړی ولي.
– نه کنه نو. لېونيان خو ندي.
د سرې ټوپۍ ځوان په ډک ستوني ځواب ورکړ:
– لېونيان ندي. وسلې لري. څوک يې مخې ته درېدلی شي؟
کريم وويل:
– زه درېږمه کنه نو.
ټولو ور وکتل. دی روان شو. له پوستې څخه په کلينيک ضربې شوې. کريم پښه ونيوله. خلکو ته يې مخ کړ:
– د اغوئ مخه څوک نيسي؟
نازيې غږ کړ:
– وی، الا! لېونی شوی يې؟ راوګرځه!
خلکو هم د هغې خبره غبرګه کړه. کريم د مېرمنې څنګ ته راغی. په برګو سترګو وپسېد:
– غږ مه باسه! ښځه يې. شرم دی کنه نو.
هغې هم غږ ټيټ کړ:
– وه خدايه، ته دا پرېده! څه به کوو؟
کريم غلی شو. سوړ اسويلی يې وخوت. خلکو ته يې غږ کړ:
– ای! زه وايمه که موږ غونډ ورشو څوک به رابانديې ډزې ونکي.
هماغه سپينږيري وويل:
– ساده کېږه مه! اغوئ چې د خلکو خاطر کاوه جنګ به يې نه کاوه.
– نو څه به کوو کنه نو؟
– څه کولی شو؟ دلته به د خدای په هيله ناست يو. څو چې جنګ ودرېږي. خپل مريضان خو نشو پرېښودلی.
د نازيې غږ ووت:
– وه خدايه، جنګ به کله درېږي؟
کريم چورت واهه چې څه وکړي. متين يو قرار د ډرامې ډيالوګونه ويل. د غونډۍ له پوستې پر له پسې ډزې کېدلې. د کلينيک وروستۍ ښيښې هم دانه دانه تويې شوې. دلته اند ښښنه لا زياته شوه. ناست کسان هم ودرېدل. نابېره دربهار شو. د دوئ څنګ ته په دېوال مرمۍ ولګېدلې. خلکو د کوڅې د سرکور ته منډه واخېستله. کريم او نازيه هم ننوتل. يوازې متين په سپين ميدان پاتې و. يوه شېبه هم نه چوپېده:
– وران که! د ورور پټی وران که! ووهه د ورور ونه ووهه! مه پرېږده چې کلي کې څوک په خېټه موړ شي. شابه شابه غيرتي!
د پلار يې زړه ډک و. بيا يې له دروازې څخه په ټول زور ناري کړې:
– متينه! متينه! وه د خره زو! پاڅې کنه!
خو زوی يې ونه خوځېد. هغه مخ خلکو ته واړاوه. په غريو نيولي غږ يې وويل:
– تاسې راکئ ټوپک! خپله يې ولمه. د وښمني نه خو به خلاص يمه.
ځوانانو بيا کلک ونيو. په زورونو کې د سپينږيري د لونګۍ ولونه غاړې ته ولوېدل. د کريم پرې زړه وسوزېد. ويې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ای بصیر کاکا ! دی خو جوړ و کنه نو .
– و نو . ډزو سره دسې شو . په زوره مې ډاکټر ته روان که. نالتي جنګ دلته راغی. کرپ په منځ میدا ن کې راته کېناسته.
د توپ مرمۍ د کلینیک په کونج ولګېدله. دوړه جګه شوه. یوه کوټه کړه پرېوتله. دلته د خلکو شور شو. ټولو خپلو مریضانو ته دعاوې کولې. د سرې ټوپۍ ځوان په ژړا کې ویل «لالا مې الته دی. لالا مې . . » جنګ زور واخیست. مرمۍ د متین څنګ ته ولګېدلې. سپینږیري بصیر په نهیلۍ نارې ور وهلې. خو چاته وایې. کریم وویل :
– ګوره ګوره! اغه کسان د کلینیک نه وتښتېدله. اوس به تللی شو کنه نو .
خلک وغوړېدل. امید یې پیدا شو . دباندې ووتل. بصیر لونګۍ بېرته سمه کړه. دا وخت له بلې خوا حربکیان کلینیک ته داخل شول. اوس یې له کورونو څخه په راکټونو ویشت. دوئ بېرته په دروازه ننوتل. بصیر بیا متین ته نارې کړې. کریم وپوښتل:
– څه شی یې خوږېږي؟ امغه ورته وښیه! راځي.
سپینږیري بصیر په غریو نیولي غږ وویل:
– اغه خبره نه اوري. ته وایې څه شی یې خوږېږي. لاړ، زوی مې ختم شو .
– ته خو کوشش وکه کنه نو !
– څه شی ورته وښیمه؟ ایڅ شی یې نه خوږېږي. تمامه ورځ دا دی سپی دی. پرون مې ښار ته بوته. چې ورک شي. چې راغلمه سپی مانه مخکې ولاړ دی. غوجله کې مې بند که. ما ویلې ته ودرې! وبه یې ولمه.
کریم روان شو . نژدې غوجلې ته ننوت. شېبه پس سور سپی تېز راووت. بصیر په کریم سترګې برګې کړې:
– دا دې څه وکړه؟ ته خو سم لېونی یې ولا. تا پورې څه؟
کریم د سر په خوځولو هغه حوصلې ته وباله. په سپي پسې یې وکتل. هغه غټ غټ ټوپونه وهل. اوږده غوږونه یې لکه د زاڼو وزرونه خوځېدل. ځان یې په متین وسولاوه. هغه په غېږ کې ونیو . سپي لکۍ ښوروله. یو دم په کلینیک د راکټونو لګېدو باران شو . بله کوټه هم ونړېدله. دلته په دروازه کې بیا د خلکو شور شو . د سرې ټوپۍ ځوان په یو زور ځان د ورور له لاسه خوشې کړ. منډه یې واخیستله. چیغې یې وهلې «وه لالا مې !» خلکو د «ودرېږه! ودرېږه! » غږونه کول. آن ورور یې جرئت نه کاوه چې ورپسې وځغلي. ځوان د کلینیک په لور غټ غټ ګامونه اخیستل. ټولو په وازو خولو کتل چې کله به لګېږي. یو دم یې متین مخې ته راووت. کلک یې ونیو . د ځوان سره ټوپۍ لېرې واره شوه. متین په کشولو کشولو کورته راوست. ورور ته یې په قهر شو :
– دا لېونی ولې پرېږدې؟ مخامخ په مرمیو ځي.
اوس د ټولو خولې متین ته وازې وې. سپي ټوپۍ په خوله کې نیولې وه. متین ورڅخه واخیستله. ځوان ته یې په سرکړه. یو لاس یې په خپل کل سر او بل د سپي په شا کش کړ. دواړه په درې پلګیه زینه سرېټې دالان ته وختل. پلار یې هک پک و . کریم وویل:
– ماته یو سړي ویلې وراره مې سرطان و . ډاکټرانو جواب که. زه پوېیدمه چې کوترې یې خوښېږي. ما ویلې راځه دا ارمان خو یې پوره که. یوه جوړه مې راوړې. الک ډېر خوشاله شو . ګرد تې تاوېده. ورځ په ورځ تازه کېده. چې ماینات یې وکړه. مریضي یې نه وه. چې رښتیا ده که دروغ دا کیسه مې اورېدلې وه. ځکه مې سپی خوشې که کنه نو .
سپینږیري هغه په غېږ کې کلک ونیو . په تندي یې ښکل کړ. د راکټ مرمیو له کلینیک څخه بیا دورې پورته کړې. ټولې کوټې ونړېدلې. دا ځل د خلکو له درده ډکې کریکې وختلې. نور یې د خپلو انو د ژوندي پاتې کېدو امید نه و . ډزې غلې شوې. یو تن غږ کړ:
– مدینه تورۍ مدینه تورۍ!
د کلینیک د کنډوالو له منځه زړې ښځې دېخواته منډې وهلې. تک سپین سر یې لڅ او په وینو ککړ ښکارېده. آسماني یونیفورم یې په خاورو لړلی و . لمسی یې مخې ته ووت. ټول درباندې راتاو شول. هغه وحشتځپلې وه. سر یې لړزېده. سترګې یې تاوېدلې راتاوېدلې. ویې ویل:
– اېڅوک ژوندی ندی. ایڅوک، ایڅوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو په چيغو د کلينيک په لور منډه واخيستله. لمسي د نيا آسماني جامې ټکوهلې. دوړې يې وکړې. د تندي په وينه يې ورغوی وسولاوه. هغې له لاسه کلک ونيو. له روانېدو سره يې په ځان پسې کش کړ. تا به ويل ډارېږي چې څوک يې ورڅخه ونه تښتوي. کريم ورپسې منډه کړه. ويې پوښتل:

– توري، چېرته ځې؟

هغه ودرېدله. کريم وويل:

– ښځه مې په اولاد مريضه ده. ډاکټرې ويلي خامخا دې امليات شي. ښار ته مې بيولې. لاره بنده وه. څنګه وکمه کنه نو؟

د مدينې توري، ننوتې سترګې تنګې شوې. اوښکې پکې وځلېدلې. ګونجې شونډې يې ورپېدلې:

– هی هی! دلته ايڅوک نشته. ډاکټران خاورو لاندې دي!

هغه په ژړا شوه. لمسی يې کش کړ. دواړه ووتل. په کريم بيا سر وګرځېد. دا لاره هم ورباندې بنده شوه. اوس به څه کوي؟ آسمان ته يې سترګې واړولې. زړه يې غوښتل له درده چيغه کړي. په جېب کې يې ټلېفون وترنګېد. غوږ ته يې ونيو. غږ راغی:

– وهاب يمه.

– هو وهاب کاکا!

سپينږيري د کريم د کور په دهلېز کې بچيانو ته اشاره کوله چې ووځي. کړه خوله يې ټلېفون ته ورانږدې کړه. ويې ويل:

– دلته دوه کسه راغلي وه. تومانچې ورسره وې. تاسې يې لټوله.

– څوک وه؟

– د اغه زامنو مخونه نه ښکارېدله. چارخانه دسمالونه تې تاو وه. ټوپک نه و چې په دا کوپړۍ مې ويشتې وه.

– ولې؟

– زه ورته وايمه کور کې نشته. د اغه زامن په زوره ننوتله. ټول کور يې لټ په لټ که. د ښځو مخونه يې وکتله. ستا ښځه يې لټوله. هئ هئ! څه وکو؟ داسې ورځ راغلې ده.

– ښه؟ موږ سره يې څه کار و کنه نو؟

– د اغه زو! زه څه خبر يمه؟ ته به خپله پوهېږې نو.

د وهاب بچيان د لويې دروازې څنګ ته منتظر وو چې له هغه سره يو ځای ووځي. کريم وپوښتل:

– څه شوه؟

– نه پوهېږمه. کلينيک ته به درغلي وي نو. ای! ډزې غلې دي. موږ وځو. نور به څونه سپک شو. کيلي چېرته کېدمه؟

– چېرته ځئ؟

– هرې خوا ته چې لاړو. مدا د کلي نه ووځو.

– په کومه لاره وځئ کنه نو؟

– ټول خلک د جبې په پله ځي. وايه کنه! کيلي څنګه کمه؟

– د لويې دروازې ښي خواته په دېوال يې کېده! چې ښکاره نشي!

کريم چورت واهه چې دا مخېتې به څوک وي؟ له ده سره به يې څه کار وي؟ ولې له تومانچو سره راغلي وو؟ نازيه ولې لټوي؟ ښځې ته يې کيسه وکړه. هغه هم حيرانه وه. کريم په کوڅه کې مخ ته شو. په تګ کې يې وويل:

– په جبې پله ځو.

نازيه له ځايه ونه خوځېدله. غږ يې ووت:

– وی، الته موټر نشته کنه.

کريم ودرېد. مخ يې راوګرځاوه:

– راځه! د باسکيل لاره خو شته. بانډه ګۍ کې به يې چا نه واخلمه کنه نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه روان شول. بیا د ټلیفون زنګ راغی. کریم په تگ کې غوږ ته ونیو:
– الو! شازمانه روکی!... کلینیک ته راغلي یو... ختم شو کنه نو... نه نه، موږ ننوتي نه وو... هو، شفاخانې ته یې باید ورسو مه. که نه ماشوم مري... روان یو... سرک خو بند دی. وایي د جبې پله لاره خلاصه ده...
د نازیې کانګې راتللې. کریم له مټې ونیوله چې ونه لوېږي. شناوی ړیره یې وخوځېدله:
– ولې؟ ولې؟
نازیې سر وښوره. په ډک ستوني یې وویل:
– وی، تا ویلې کلی به سم شي.
– صبر وکه! دستي خو نه کېږي کنه نو.
– کلینیک وران شو.
– بلا ورپسې! بېرته به جوړ شي.
– وی، کلینیک به جوړ شي، اغه خلک؟
په کریم دا بحث ښه نه لګېد. د ژبې له سره یې چق واېست. ویې ویل:
– ته پرېږده! ما پورې څه؟ زما دې میرحمزه په خیر پیدا شي کنه نو.
هغه بیا ګوډ ګوډ روان شو. نازیه ولاړه وه. هغه بېرته وګرځېد. نازیې خېټه نیولې وه. ویې ویل:
– وی، دردونه ورو ورو نږدې کېږي.
د کریم سترګې غټې راووتلې. ویې پوښتل:
– نږدې کېږي؟ دا به څنګه شي کنه نو؟ خو درته وایمه وخت مه تېروه!
نازیې چیغه کړه:
– وی، زه تللی نشمه، ته ګډ یې. یو شی پیدا که چې پکې لاړه شمه!
کریم هم برګ شو:
– دا حال کې څه شی پیدا کمه کنه نو؟ نه ګورې ړنده یې؟
– هرشي چې پیدا کوې پیدا که! نر ته یې که زه؟
کریم له قهره په سړمو کې وغومبېد. نازیه په ژړا شوه. ویې ویل:
– اله خیر کې خدایه! وی، زه دې نه یمه، بچی مې دې روغ پیدا شي! الله ته ورحمېږې...
ooooooooooo
نازیې په مېږه پسې دراندہ قدمونه اخېستل. د دوو کوڅو د تقاطع ځای را ورسېد. کریم په کونج کې ودرېد. ورو یې سر اوږد کړ. د بلې کوڅې په سر کې ډله وسله والو سنګر نیولی و. خو ډزې یې نه کولې. یو تن د بخواته وکتل. کریم ژر شاته شو. وپسېد:
– توکل په خدای! منډه به کو!
نازیه غلې وه. کریم پوه شو. په غېږ کې یې جګه کړه. ګوډ ګوډ یې وځغاستل. چپ زنګون یې برېښن کاوه. وسله والو ورباندې ډزې وکړې. مرمیو له دېوالونو ګردې ګرۍ جګې کړې. خو کریم تېر شوی و. ښځه یې نرمه کېښتله. له هرې خوا د وسلو غږونه راغلل. دوئ سمدلاسه روان شول. د بلې کوڅې تقاطع ته ورسېدل. مخامخ په سرپټې ځای کې دوو وسله والو یو ځوان راګیر کړی و. هغه خپلې پیسې او موبایل بېرته غوښت. یو تن ورباندې ټوپک ونیو. د ځوان سترګې له بې وسۍ ډکې وې. روان شو. د وسله والو نظر په دوئ ولګېد. غږ یې کړ:
– ای! دلته راشئ! اله!
کریم په بله کوڅه وګرځېد. نازیه یې له لاسه کشه کړه. هغې وویل:
– وی، منډې نشمه وهلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ په مسجد ننوتل. دروازه يې په ځان پسې وتړله. په کوځه کې د پښو دربهار شو. وسله والو تر څو لغتو وروسته د دروازې قلف والوزوه. امام له لوټکې سره د توت د ونې بېخ ته هک پک ولاړ و. يو تن وپوښتل:

– اى! اغه ښځه او سړى څه شوه؟

امام د بلې خوا خلاصې دروازې ته ګوته ونيوله. وسله وال په منډه ووتل. امام ورپسې دروازه بنده کړه. ښځه او مېړه يې د لرګيو له کوټې راوايستل. ويې پوښتل:

– دا څوک دي؟ تاسې نه څه غواړي؟

کريم وويل:

– د ړنا ورځې غله دي مولا صېب. التـه يې د يوسف کاکا زوى وشکاوه.

دواړه په هماغې دروازې ووتل چې راغلي وو. د کورونو شاته د غنمو د پټيو په پوله پوله يې ځان کوځه ډوله لارې ته ورساوه. غټو او وړوکې د جبې پله په لور منډې وهلې. دوئ هم ورپسې شول. پله ته نژدې وو چې هاخوا يې په دوو کسانو سترګې ولګېدلې. په چارخانه دسمالونو يې مخونه پټ وو. هر څوک يې په ځير کوت. د يو سړي ماشوم په غېږ کې و. ويې پوښتل:

– څوک لټوئ؟

مخپټي ځواب ورکړ:

– کريم اوستاذ.

– څه يې کوئ؟

– تا پورې څه؟ ليدلى دې دى که نه؟

سړي سر وښنډه. مخپټي په څټ کې سپېړه ورکړه. ويې ويل:

– ځه نو! پوښتنه مکوه!

د ډزو غږونه او د اوبو شور و. کريم د هغوئ خبرې نه اورېدلې. مګر معلومېدله چې يو څوک لټوي. چورت يې واهه چې هماغه نه اوسي چې کورته ورغلي وو. پښه يې سسته کړه. دا مهال يو مخپټي وليد. راتاو شو. خپل ملګرى يې په څنګله وواهه. کريم نازيه د پله په خوله کې ودروله. يوه شېبه دواړو خوا او يو بل ته کتل. شاته يو ځوان سانيولى راورسېد. په قهر يې وويل:

– کريم اوستاذه! ځې که نه؟ لاره دې بنده کړې ده.

ځوان منان نومېده. په چرسي مشهور و. دده بدې ايسېده. څو ځله يې رټلى و. کريم او نازيه څنګ ته شول. منان بيا پښه تېزه کړه. د پله په منځ کې ودرېد. کتاره يې ونيوله. بېرته راوګرځېد. خو د کريم سترګې په مخپټو کې وې. منان په لوړ غږ ناري کړې:

– کريم اوستاذه! څه کومک وکمه؟

دى ورباندې په قهر شو:

– ځه ورک شه! مه درېږه کنه نو!

دا مهال د مخپټو په لاسونو کې تومانچې پيدا شوې. کريم نازيه کشه کړه. منان په تعجب شاته وکتل. ډزې شوې. هغه په ټټر ولګېد. د کتارې له پاسه په سرکوندې خوړ ته ولوېد. اوبه تکې سرې شوې. کريم او نازيې د تيږو بارې ته پناه منډه وهله. مخپټي په تېزى پله ته ورسېدل. ښځه او مېړه په اوله کوځه کې ښى لاس ته تاو شول.

oooooooooo

سپکې وسلې بې له ځنډه چلېدلې. په منځ منځ کې به د درنو وسلو وحشتناک غږ جګ شو. شاه زمان او دلاور وړوکي مسجد ته ننوتل. څوک يې لټاوه. مسجد حويلۍ نه لرله. په ځاى يې د اوداسه لپاره لوېه فلزي ځېره وه. په سرېټې برنډه ګۍ کې خلک په يو سپينږيري چارېېر وو. هغه دکلي په وضعيت غږېده. نابېره په ګاونډ کې د درنې وسلې څو مرمۍ ولګېدلې. مسجد يې ولړزاوه. ښيښې دانه دانه ورژېدلې. ورسره د ښځې کريکې جګې شوې. ټول ور وځغاستل. مات ظرفونه، شکېدلي بالښتونه، د خام دېوال ټوټې او د کړکۍ پارچې په حويلۍ کې تيتې وې. کوټې مکملې ويجاړې وې. زړې ښځې په دوړه او لوګي کې چيغې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک ژر ژر د دستکو او لوتو په لېږې کولو لګیا شول. د ځوان جسد یې واېست. ښځې په منډه په زوی ځان واچاوه. خلکو بیېره کوله که څوک ژوندی وباسي. شاه زمان او دلاور د بلې کوټې د پخسې ټوټې اړولې. مات فلزي بکس یې ولید. د جامو په منځ کې سور قطی ښکارېده. شاه زمان غلی خلاص کړ. د طلا سیټ پکې و. ژر یې په جېب ننوېست. دلاور وپسېد :

– دا څه کوې دا؟

شاه زمان په شونډو ګوته ونیوله. دلاور وبنګېد :

– د شهیدانو مال دی.

شاه زمان برګ شو :

– اغې دونیا ته یې وړي؟

– ګونا لري ګونا.

– او چپ شه! ولې یې بل چاته پرېږدو؟ موږ ورته ضرورت لرو.

شېرو لېونی په منډه ننوت. ناري یې وهلې «جنګلاوه، جنګلاوه...» د قطارو جسدونو په لیدو بېرته په منډه ووت. یو سپینږیري د ماشوم جسد په لاسونو کې جګ کړ. په ژړا یې وویل:

– اخ اخ! ویش ویش ویش!

ښځې په وحشتناکه کریکه ورمنډه کړه. دوه کوټې شاته کریم د هغې غږ واورېد. سوړ اسویلی وکړ. نازیه له ډېرې ستړیا له پښو لوېدلې وه. د دېوال په نړېدلې ټوټه کېناستله. ویې ویل:

– وی، زنګنونه مې درد کوي.

د کریم هم سا سوزېدله. نری شونډې یې ورپېدلې:

– دې ځای نه چې ووځو ښه دی.

نازیې تېز تېز نفس اخېست. کله کله به یې د خېټې له درده مخ ګونجې شو. په ډک ستوني یې وویل:

– ښه، لږ صبر وکه!

کریم هم د دمې لپاره دېوال ته تکیه وکړه. خو پام یې شاته کوټې ته و، چې مخپټې را نه شي. د نازیې غریو نیولی غږ ووت:

– وی، منان کومک ته راتاو شو. زموږ د پاره ولګېده.

د کریم ورته هم خوا بده وه، هم په قهر و. غاښونه یې وچیچل:

– دا سرېتوب به پکې مخکې پیدا شوی و کنه نو. جنګ به ولې کېده؟

د نازیې اوښکې روانې شوې. د راکټ مرمۍ چېرته نژدې ولګېدله. د تیږو او لرګیو ټوټې په کوټې کې توییې شوې. د دواړو رنګ پک والوت. نازیې وویل:

– وی، کشکې خپل کور ته تللي وو.

کریم له دېواله لېرې شو. په کوټه کې یې وکتل. غته زنه یې وخوځېدله:

– ښه دی چې لا نه ړو. اغوئ به موږ الته لټوي کنه نو.

– وی، خدایه دا څوک دي؟

– څه خبر یمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازيې د چادري مخه په اوښکو لنده شوه. غږيې ووت:
– وی، توبه! هرچېرته يو څوک زموږ مخه نيسي. موږ څه ګونا کړې؟
کريم سترګې پټې کړې. ويې ويل:
– بخت دی بخت. زه خو وايمه، ته يې نه منې کنه نو.
د هغه سترګې هم ډنډ شوې. نازيې سلګۍ ووهلې. له نژدې کورونو څخه د ښځو غالمغال او د سوزېدو بوی راته. کريم د لاس په څټ سترګې وسولولې. د ګوتو په سرونو ودرېد. باموتو ته يې سر اوږد کړ. تورې لوخړې يې وليدلې. نازيې ته زنګ راغی. هغې د تل په څېر لوډسپيکر وواهه. موريې پوښتنه کوله. نازيې ورته وژړل. موريې په ژړا کې دعا کوله چې په خير له کلي ووځي. د کريم له سترګو اوښکې وڅڅېدلې. په زړه کې يې ويل «وه خدايه د بل چا دوعا خو راته قبوله که کنه نو» په کوڅه کې غږونه شول:
– کاکا! کاکا!
دواړو شاته وکتل. وسيمه او هاجره وه. منډې يې وهلې. کريم له درده مخ بلې خواته واړاوه. ويې ويل:
– داخ، يو دوئ کمې وې کنه نو.
وريرې يې په غېږ کې ونيولې. ويې پوښتل:
– تاسې دلته څه کوئ؟ مور او پلار مو چېرته دي؟
هاجرې د سا د سوزېدو له امله په پړاو پړاو خبرې کولې:
– پلاران مو نه وه. واجد ماما مې مورګانې جبې پله ته بوتلې.
نازيې غږ کړ:
– وی، تاسې يې پرېښودلئ؟
وسيمې ګرد مخ وځنډه:
– نه، تاسې پسې راغلو.
– وی، الا! دا دونه اوږده لاره؟ په دا مرميو کې؟
– خو موږ نارې وهلې. تاسې نه درېدلئ کنه، راځئ چې ځو!
– چېرته؟
– ماما سره مې.
وسيمې شاته لاس اوږد کړ. هلته ډزې شوې. هغې له شټو هلو سره لاس راټول کړ. کريم درېواړه ټېلو هلې:
– مه درېږئ! زر زر ځئ!
شاته د خلکو شور شو. چا په کوچيانه لهجه وويل:
– امدلته سنګر نيسو. ای! ته اغې کوڅې ته ګوره! ته دېخواته...
غږ د نورعلي و. کريم له کونجه په احتياط وکتل. لس دولس تنه د غټ ګټ او دېوال شاته پټ وو. دوو لورو ته يې کوڅې څارلې.
نورعلي په مخابره کې غږېده. په لوړ غږ يې وويل:
– موږ په درې شاخه کې يو. اغوئ ستاسې خواته وتښتېدله. ژوندي درنه ونه وځي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم حیران کتل چې دا وسایل ورسره له کومه شول؟ ور ناري يې کړې. نورعلي وړاندې راغی. غاړه یې یوې اوږې او بلې اوږې ته قاته کړه. ټک یې ووت. پزه یې له موسکا سره پراخه شوه. ویې ویل:

– کریم اوستاذه! ثوابونو کې شریک نشوې نو.

ده ځواب ورنه کړ. نورعلي وپوښتل:

– ښه ته نو دلته څه کوې؟

کریم ورباندې برګ شو:

– تا موټر خراب راوه کنه نو. زما دې ټول کار وران که. اوس مو د کلي نه وباسه. بچی مې د ښځې په نس کې مري.

نورعلي هم زیږ شو:

– نه وینې زما څه حال دی؟ په جبې پله یې بوځه کنه!

د کریم ورته ماغزه وخوټېدل. سر یې وربېږدېده. نرۍ شونډې یې کېکاږلې. ویې ویل:

– نشمه. الته ستا دوه خبیثان دي. ډزې یې راباندې وکړې کنه نو.

– په تا یې ډزې وکړې؟ اربکیان دي.

کریم لیدل چې نورعلي په رښتیا حیران دی. ویې ویل:

– په مخونو یې چارخانه دسمالونه تاو کړي.

نورعلي سر وخوځاوه:

– بیا نو د ملک صیب کسان دي. لانجه دې ورسره کړې کنه. څه که په مخه راغله ضربه به یې کمه. دا یې ته خوشاله.

د نورعلي په مخابره کې غږ شو:

– مشره، مشره!

ده خوله ورنژدې کړه:

– اورمه.

– ما ویلې ته خبر اوسه چې دوه دوښمنان مو نیولي وه.

– شابه نره! اوس چېرته دي؟

– دوزخ کې.

سړي په زوره زوره وخندل. مخابره بنده شوه. نورعلي په موسکا سر وڅنډه. نازیې ناري کړې:

– وه سړیه راځه!

کریم د لاس په اشاره صبر ته وبلله. بېرته یې مخ وګرځاوه. ویې ویل:

– ګوره روکی! کلیوال مړه شوه. کورونه چپه شوه کنه نو. ما کلینیک ولیده. لوټې لوټې شو.

نورعلي پخوهل. سر یې په غرور وښوروه:

– ودې لیده؟ الته مو ښه چل پې وکه. ټول پکې مردار شوه.

د کریم مړاوی غږ ووت:

– مریضان او ډاکټران ام شهیدان شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– غم مکوه! خپل عمل د هر چا مل دی. مسلمان جنت ته ځي، کافیر دوزخ ته.

کریم سوړ اسویلی وکړ:

– ولې، تا نه لیدله؟ اغه کافیر وه؟

– خو نو اوس به جنت کې وي.

کریم کاږه ور وکتل:

– د ورکیانو خبرې پرېده! احتیاط کوه!

– جنګ دی کنه کریم اوستاذه جنګ. ندې دي اوریدلي؟ په جنګ کې حلوا نه ویشل کېږي.

کریم لیدل چې هغه په بله هوا کې دی. په نرمه یې وویل:

– ګوره روکی! موږ خو ویلې کلی جوړوو. دا خو ورانېږي کنه نو.

– تا دا ام ویلې چې د نیک کار دپاره باید خلک قورباني ورکي.

کریم چورت واهه چې په دې کې څه وایي. د نورعلي غږ بیا ووت:

– غم مکوه کریم اوستاذه! صفاجان اغا یې بېرته جوړوي.

کریم پوه نه شو. سترګې یې تنګې کړې. نورعلي دوام ورکړ:

– اغه دولت سره خبرې کوي چې اربکیان وباسي. ددې ځای واک تې واخلي. پوه شوې؟ بیا به دلته زموږ پاچایي چلېږي. هرڅه به ګل او ګلزار شي. ته نه یې خبر کریم اوستاذه. خبرې غټې روانې دي.

کریم وبنګېد:

– اغو پورې به کلی ملی نه وي.

نورعلي سوړ اسویلی وکړ:

– تا خپله ویلې چې دا کلی سم ونه څنډې نه جوړېږي.

شاپې واړوله، لاړ. یودم له هرې خوا ډزې شوې. د نورعلي د ډلې شور جګ شو. کریم په منډه کې نازیې ته اشاره وکړه چې تښته. له مېرمنې څخه مخکې شو. د ښی کور نیمکښه دروازه یې ټېلو هله. ټول یو ځای ننوتل. د سور چرګ کټکټاک وخوت. سپي وغپل. نجونې په کاکا پسې ونښتلې. له دوو کوټو څخه لمبې ختلې. ټوله کورنۍ په حویلۍ کې ولاړه وه. ښځو او ماشومانو ژړل. ددوئ په لیدو په غوجلې ننوتل. همدا یوازینۍ روغه کوټه وه. نازیه هم له نجونو سره ورغله. کریم سپینږیري ته مخ کړ:

– وبښه شا مامد کاکا! موږ ناڅاپي ننوتلو.

په ملا کوږ سپینږیری سترګې ور واړولې. غټه پزه یې لوګي توره کړې وه. په سپینه شمله یې پاکه کړه. ویې ویل:

– اورې جنګ کې پرده نه کېږي.

کریم لمبو ته لاس ونیو:

– دا ولې کنه نو؟

– اورې موږ په منځنۍ کوټې کې وو. یو درز شو. نه مو څه لیدل، نه اورېدل. اورې په یو ډول مې بچي واېستله نو.

– څوک خو ژوبل نشو؟

شاه محمد سر وښنډه. کریم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ځه اوس ام خدای فضل کړی کنه نو!
د سپینږیري غږ ووت:
– اورې امداسې فضل دې خدای په اغه چا وکي چې دا مرمۍ یې ویشتلې دي.
کریم یې نمجنو سترګو ته وکتل. هغه پرته له دې چې مخ راوګرځوي وپوښتل:
– اورې ستا په کور خو څه ندي شوي؟
کریم د ماشوم د سرچپه والي، کلینیک ته د تګ او د جبې په پله د ډزو کیسه وکړه. په پای کې یې وویل:
– شا مامد کاکا! ما نه خو لاره ورکه ده کنه نو. څه وکمه؟
– اورې زما او ستا درد یو دی. ستا لوی آرمان د لاسه ځي. زما د ټول عمر خواري سوزي.
کریم د هغه روانو اوښکو ته وکتل. خپلې سترګې یې ډنډ شوې. ویې ویل:
– جک نشته جک؟ ټایر چې جګوي.
– جک؟ د موټر؟
سپینږیري په کونج کې وړې کوټنۍ ته اشاره وکړه. کریم جک او د لرګي کونده واخېستله. زینه یې د کوټې دېوال ته کېښوده. سپینږیري له لاندې کتل. کریم وخوت. لوګی یې په مخ راغی. د سوزېدلي پلاستیک، ټوکر او لرګي مخلوط بوی و. د لمبو توده هوا چلېدله. مخ یې تاو ونیو. د سر له خوا د دویم دستک وتلې برخې ته یې کونده ولګوله. په هغې د پاسه یې جک ونیو. سر یې اول دستک ته تمبه کړ. د جک لاستی یې وڅرخاوه. ډنډه ورو ورو اوږدېدله. دستک بې ځایه شو. رسۍ یې ورڅخه تاوه کړه. سپینږیري ته یې وویل:
– کاکا! کشولی شې؟
هغه پښې په ځمکه خښې کړې. ټول زور یې په رسۍ واچاوه. دستک حرکت وکړ. په منځه ملا کې مات شو. له خاورو سره دننه کوټې ته ولوېد. د اور بڅرکي والوتل. سپي وغپل. له غوجلې د غوايي غږ راغی. کریم ناره کړه:
– پام کوه جینۍ! ودې نه وهي!
شاه محمد وویل:
– ترلی مې دی.
ښځو او ماشومانو د غوجلې له دروازې کتل. کریم بل دستک ته جک بند کړ. ویې پوښتل:
– الکان د شپې مستري خانه کې پاتې کېږي؟
– هو کنه. ښار نه مانښامي کې راتلله. وېرېدلمه وربانده دې.
د دې کوټې چت یې وغورځاوه. لمبې مړې شوې. یوازې لوګي ختل. د بلې خوا کوټې ته لاړل. په کوڅه کې ضربې شوې. سپي په شاته شاته تګ غپل. سپینږیري لویه دروازه کلکه بنده کړه. کریم په زینه وخوت. کوڅې ته یې وکتل. څوک نه ښکارېدل. د څنګ کور ته یې سترګې واړولې. ویې پوښتل:
– ګاونډیان چېرته دي؟
شاه محمد سر وځنډه:
– هی هی! چې ورځ سرچپه شي هر څوک په ځان شي. اورې ورور مې بچي ایستلي دي. زه خبر شوی ام نه یمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم د دې کوټې د ستک بې ځایه کړ. رسۍ یې پکې واچوله. سپینږیري پښې ځمکې ته بندې کړې. رسۍ یې کشه کړه. په څو شېبو کې یې وروستي دستک هم وغورځاوه. کریم په لوګي کې ولیدل چې د کوټې د شا دېوال سوری دی. هغه کېوت. منځنۍ کوټه له سوزېدو وژغورل شوه. سپینږیري لاسونه اسمان ته لپه کړل:

– اورې خدای دې اېښکله شا ځمکې ته مه وروله! خدای دې بچي په خیر پیدا که! خدای دې...

د کریم سینه تنګه او ستوني ډک شو. دا وخت ورته زنګ راغی. بې نومه شمېره وه. له هغې خوا سړي وویل:

– چېرته یې؟

دی ټلیفون ته ځیر شو. اسانه شمېره وه. زیاتره صفرونه وو. اول ځل یې لیدله. لنډ ځواب یې ورکړ:

– کلي کې.

– کلي کې چېرته پیره؟

کریم ته شک پیدا شو. وروځې یې سره ورغلې. ویې پوښتل:

– ته څوک یې؟

– د تورې زوی دې یمه کنه. سودا مې ده.

کریم د تورې د ټولو زامنو غږونه پېژندل. شک یې لا زیات شو. نرۍ شونډې یې وخوځېدلې:

– د تورې کوم زوی؟ اغوئ خو کلي کې نشته کنه نو.

– پیره زه ام تلوېزون ګورمه. وایي زرین کلا کې جنګ دی. ته د چا کره یې؟

– د ځان کره.

– نه، البته خو نه یې پیره.

بابا کلا ته نژدې بم وغورځېد. همدا غږ په ټلیفون کې هم و. کریم وویل:

– اغه د جبې د پله سره ته وې؟

– نه کنه پیره، کوم پول؟

کریم غاښونه وچیچل. ویې پوښتل:

– مانه څه غواړې؟

– هاهاهاها، چې ودې ګورمه درته وایمه.

– اوس ولې نه وایې کنه نو؟

– په ټلیفون کې نه کېږي پیره.

غږ یې بېخي اشنا ښکارېده. کریم بیا شمېرې ته وکتل. چورت یې واهه چې څوک دی. شاه محمد نارې کړې:

– اورې سړی د کلي دی. ستا شمېره ورسره ده.

کریم ژر ټلیفون بند کړ. ویې ویل:

– ناحقه دې غږ وباسه کاکا! پېژندلی یې نه او سې.

– نه نه، زه لرې یمه.

ټلیفون بیا وترنګېد. دا ځل شاه زمان و. دده د ځای پوښتنه یې کوله. کریم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د شامامد کاکا کره یو. ای! وسیمه او هاجره موږ سره دي. مه یې لټوئ!
– ښه؟ مورګانو سره ندي تللي؟ څه شوکر چې جوړې دي. پام پې کوه!
ټلیفون بند شو. کریم بېرته زنګ وواهه چې کمک وغواړي. د شاه زمان شمېره مصروفه وه. فکر یې وکړ چې ده ته زنګ وهي. ښایسته شېبه یې ټلیفون ته سترګې نیولې وې. زنګ نه راته. دا وخت وسیمه په منډه راغله. وارخطا وه:
– کاکا! کاکا! ښځه دې وایي دردونه ډېر نزدې شوه.
– ډېر نزدې شوه؟
وسیمې غږ سر وخوځاوه. بېرته یې منډه واخېستله. کریم سربداله په خپل ځای وڅرخېد. له نهیلۍ څخه یې سا اخېستل تېز شول. د نازیې زګېروی راغی. غوایه وغورېد. شاه محمد وویل:
– اورې ملک صیب نزدې دی. زنګ ووهه! اغه ډېر څه کولی شي.
کریم سوړ اسوېلی وکړ:
– نه نه کنه نو. نورعلي ربښتیا وایي. ما پسې د ملک کسان دي.
– اورې زه مو د لانجې نه خبر یمه. خپه کېږه مه. اغه سمه خبره کوله. دا نه ګورې څه حال دی؟ اورې اغه دونه بد سړی ندی ګوره.
– وه کاکا! ما خو بل چا سره خوله ام نده وهلې کنه نو. امدا ملک دی. هو.
شاه محمد وړوکی طلایي ټلیفون غوږ ته ونیو. کریم غوښتل ویې دروي. هغه یې لاس ټېلواهه. په ټلیفون کې یې ملک ته مشکل واضح کړ. هغه ژمنه وکړه چې اوس راځي. کریم وویل:
– کاکا! ښه دې ونکړه کنه نو.
– اورې ته وارخطا کېږه مه! زه خو یمه.
– نه کنه نو. ټوپک سره څه کولی شې؟
دروازه وټکېدله. سپي وغپل. کریم شاه محمد ته وکتل. هغه نارې کړې:
– اورې څوک یې؟
له هغې خوا غږ راغی:
– پیره خپل یو. خلاصه که دروازه!
غږ د مخېټي و. کریم وارخطا شو. وپسېد:
– مانه ویلې. امغه خلک دي. سړی درته څه ووایي کنه نو؟
د شاه محمد له تښتېدلي رنګ څخه معلومېدله چې هک حیران دی. په جګ غږ یې وپوښتل:
– اورې څه کار دې دی؟
– کریم اوستاذ ته ووایه چې راووځي!
– اورې اغه لاړ.
– پیره په سپینه ږیره دروغ مه وایه کنه. د خدای نه وویرېږه! دروازه خلاصه که!
شاه محمد وارخطا سترګې ګرځولې. غټه پزه یې ومروړله. په دروازه باندې د تومانچې ډزې وشوې. دی له ډاره شاته ولوېد. سپی اول وکورنجېد. وروسې یې غپا پیل کړه. د ماشومانو کریکې شوې. مخېټو دروازې ته لغتې ونیولې. خو خلاصه نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې یو تن په دېوال واوښت. سپي ورباندې حملې کولې. هغه په تومانچه په ککره وویشت. سپی له کورنجېدو سره سوړ پرېوت. ماشومانو کریکې وهلې. مخپټې بل ملګري ته دروازه خلاصه کړه. په حویلۍ کې یې سترګې وګرځولې. یو یې منځنۍ روغې کوټې ته او بل غوجلې ته روان شو. شامحمد په کوپې ملا په دویم پسې منډه واخېستله. ویې ویل:

– ای ای! اورې غوجلې کې ښځې دي.

خو مخپټې نېلواهه. هغه ولوېد. بېرته ژر جګ شو. ښځو او ماشومانو ژړل. یو په بل کې تخته شول. دا وخت کریم دوئ د سورۍ کوټې له لارې د کور شاته وتي وو. شاه محمد د غوجلې له دروازې شاته شو. مخپټی بېرته ووت. ملګري یې وارخطا غږ کړ:

– اله رامنډه که! دا سوزېدلې کوټه سورۍ ده. په دې وتي دي.

دواړه په لوګي کې ورک شول.

oooooooooo

کریم د باغ په دېوال لاس کېښود. خاوره تویه شوه. دېوال د راکټ د لګېدو له امله نیم شکېدلی او نیم اوپره ولاړ و. په احتیاط یې سر جګ کړ. شاته مخپټو د کوڅې کونجونه لټول. ده په شونډو ګوته ونیوله. څلورواړه د چارمغز د چپه شوې ونې تر شاخونو لاندې ننوتل. د پاڼو تریو بوی و. نازیې مخ لڅ کړ. په سختۍ یې نفس اخېسته. لکه په چادري کې چې یې زړه تنګ شوی وي. په خېټه کې د درد له امله یې زور واهه. ټلیفون وترنګېد. ټولو شټو هل. کریم ژر جیب ته لاس کړ. د بندېدو تنۍ یې کېکاږله. سودا یې شوه چې مخپټو غږ اورېدلی نه وي. بیا یې د دېوال له پاسه وکتل. څوک نه ښکارېده. ویې ویل:

– لږ به نور صبر وکو. چې اغوئ ښه لرې لاړ شي. بیا به د باغ نه ووځو.

ټلیفون یې راوایست. دوه کاغذه هم راووتل. شمېره یې وکتله. د شاه زمان وه. ټلیفون یې جیب ته کړ. کاغذونو ته ځیر شو. نازیې له درده مخ آسمان ته ونیو. له زور وهلو سره یې ورنونه په منګولو کېکاږل. د غاړې رګونه یې وپړسېدل. د مېړه لاس ته یې وکتل. کریم د یو کاغذ قاتونه خلاص کړل. د تېرکال جنتري وه. د سرطان له پینځه ویشتمې څخه تر ټولو ورځو کړۍ تاوې وې. له پاسه یې په ترتیب سره یو، دوه، درې لیکل شوي وو. سترګې یې ډکې شوې. رېږدېدونکې ګوته یې یوې نېټې ته سیخه کړه. وپسېد:

– د عقرب په پینځمه مې زړه ولګېده. ماویلې بچی پاتې شو کنه نو.

د نازیې ګرد مخ له درده تک سور اوښتی و. غږ یې ووت:

– وی په یاد مې دي. پوښتنه دې وکړه. ما ویلې وینه نده راغلې. د خورزې مخ کې دې غاړۍ واچوله.

هاجرې په جګ غږ وویل:

– اغه مورې ته چې دې کېک راوه. کنه کاکا؟

کریم سر وخوځاوه. چششش یې کړ چې ورو وغږېږي. دا ځل یې ګوته د عقرب پینځه لسمې ته ور وړه. شناوی بېره یې ورپېدله:

– دا ورځ مې میرحمزه ته نوی کور شرو که.

ټلیفون یې په جیب کې ولړزېده. بیا شاه زمان و. کریم په ټیټ غږ وویل:

– د غفور باغ کې یو. اورې؟... که کومک کولی شې راشه! که نه زنګ مه وهه، څوک یې وانه وري.

ټلیفون یې جیب ته کړ. دویمه پاڼه یې خلاصه کړه. دا د سږ کال جنتري وه. د حمل تر شلمې ټولې ورځې په نښه شوې وې. هغه ګوته یو ویشتمې نېټې ته وروړه، چې نن ورځ کېدله. مخکې له دې چې څه ووایي د ملک غږ راغی:

– کریم اوستاذه! کریم اوستاذه! چېرته یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول وارخطا شول. ملک په باغ کې سترګې ګرځولې. توره لونګۍ یې په خاورو خړه وه. په پرتو شاخونو یې پښنه اړوله. کریم له دېواله وسکېد. د شاخونو شاته ټيټ شو. جنتریانې یې په جېب و منډلې. نجونې له سونګېدو سره په غېږ ورننوتلې. نازیې مېړه له متې کلک ونيو. وپسېدله:

– وی خدایه خیر!

ملک اوس سیخ د دوئ خوا ته کتل. کریم بې واره و. یودم تاو شو. په ملاسته یې دېوال په جوړه لغتو وواهه. هغه له لوېدو سره دوړه وکړه. کریم نازیه له لاسه ونیوله. نجونو ته یې وویل:

– اله منډه کئ!

څلور واړه کوڅې ته ووتل. ملک هم ورپسې منډه واخېستله. غږ یې کړ:

– ای ودرېږه! کریم اوستاذه! تاته وایمه!

خو دوئ منډې وهلې. ملک هم له باغه ووت. په کوڅه کې یې تېز تېز ګامونه اخېستل. دا وخت یې شاته مخېټي راپیدا شول. ډزې یې وکړې. مرمۍ د کریم مخ ته په ځمکه ولګېدلې. نازیې او نجونو چیغې کړې. ټول په کونج کې تاو شول. شاته د ملک او مخپټو غالمغال شو. کریم نازیې او نجونو ته وویل چې تاسې مه درېږئ. خپله کونج ته راغی. غلې یې وکتل. ملک د یو مخپټي تومانچه او د بل متې نیولې وه. په قهر یې وویل:

– ډزې ولې کوئ؟ او، څه خبره ده؟ تاسې څوک یئ؟

تومانچې والا لاس ته ټکان ورکړ چې ځان خلاص کړي. خو ملک نه خوشې کاوه. سترګې یې ورباندې برګې کړې:

– تاسې څه کاره یئ؟ او، مخونه مو ولې پټ کړي؟

بل تن هغه ټېلواهه:

– ته لرې کنه پیره! ستا کار ندی. اغې دونیا ته دې زړه شوی؟

تومانچه والا خوشې شو. اوس نو ملک په دواړو لاسو دویم کس ټینګ کړی و. ویې ویل:

– ای ای! زور مه وهه! پلار ته دې وایمه. ما وپېژندلئ. زه خو ناحقه ملک نه یمه.

اول مخپټي تومانچه د ملک تندي ته ونیوله. له ډز سره یې وویل:

– ملک وې.

هغه له زګېروي سره په لاره کې اوږد وغځېد. وینه په مټ خاوره روانه شوه. د کریم رنګ تک سپین واوښت. په ښځې او نجونو پسې یې منډه واخېستله. نازیه ودرېدله. سا یې سوزېدله. غاړه یې کږه کړه. ویې ویل:

– وه خدایه خېټه مې چوي. پښې مې نه ځي.

کریم هغه په غېږ کې جګه کړه. ګوډ ګوډ یې منډې وهلې. پښې یې ترپخوا زیات برېښ کاوه. د لارې ښی خوا ته ویاله او د ترکارۍ پټي وو. کریم نور د نازیې د وړلو وس نه درلود. سمدلاسه ویالې ته کېوت. اوبه کمې وې. غږ یې کړ:

– د پله لاندې، پله لاندې!

نجونې هم کېوتلې. ټول تر وړوکي پله لاندې تخته کېناستل. پښې یې په خټو کې ننوتې وې. کریم په شونډو ګوته ایښې وه چې غږ مه باسئ. د نازیې سا اخېستلو غږس کاوه. همدا شېبه مخپټي راپیدا شول. د کورونو مخې ته تېز تېز روان وو. هره دروازه یې ټېوهله، دننه یې کتل. د دوئ څنګ ته ورسېدل. یو تن یې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دلته دي پيره دلته!

د کريم زړه وښوييد. خو مخپټې د دوئ شاته تېر شول. د يو کور په خلاصه دروازه ننوتل. کريم له پله ووت. وپسېد:

– پاڅېږئ! بېرته شاته ځو. زر کوئ کنه نو!

ꝏꝏꝏꝏꝏ

کريم له ښځې او ورېرو سره په کوڅه کې روان و. د درنو وسلو يو يو ډز کېده. ذهني ستړيا يې د بدن مراندې سستې کړې وې. د ښځې ځيلې ځېرې ته په کتو يې ستونی ډکېده. د مخپټو په هکله يې چورت واهه «ملک په څه شي وپېژندله؟ زه يې ولې نشمه پېژندلی؟» هرڅومره چې يې فکر د هغوئ په حرکاتو او غږ راتولوه نتيجه يې نه ورکوله. له چخپيت کټ څخه يې پښه واړوله.

نازيې شېبه په شېبه زګېروي کول. ويې ويل:

– وی، ټول ستا دلاسه. ملک صيب کومک کاوه. ته تې تښتېدلې.

– زه څه خبر ومه کنه نو؟

– وی، خدايه، ته اېڅکله خبر نه يې. ستا ټول کارونه سرچپه دي.

د کريم ستونی لا ډک شو. د راکټ مرمۍ په ګاونډۍ کوڅې کې ولګېدلې. ده نازيه له لاسه ونيوله. ويې ويل:

– ځئ! مه درېږئ کنه نو!

د خپل کور د دېوال له سره يې کيلي واخېستله. دروازه يې خلاصه کړه. د ننه يې سترګې وګرځولې. د نوي کور چت ځوړند او دېوالونه چاودېدلي وو. د کريم زړه لا سست شو. ټولې پيسې او خوارۍ يې په اوبو لاهو شوې. کور بايد مکمل له سره جوړ شوی وای. مګر موټر روغ ولاړ و. د زاړه کور په دالان کې يې د نازيې جامې وليدلې. ور منډه يې کړه. چرګان په کټکټاک وتښتېدل. د ناستې د کوټې په دېوال کې تلوېزيون نه و. ځای يې توربخن ښکارېده. پختې يې له پښنو سره کشې شوې. بالښتونه په چړې شکېدلي وو. د مېلمنو د کوټې وطني قالينه نه وه. کريم د دهلېز په پای کې د ريمې کوټې ته منډه واخېستله. هلته جامې تيتې وې. فلزي بکسونه سرچپه پراته وو. د سروزرو قطۍ نه وه. دهلېز ته راغی. سا يې سوزېدله. هاغه دسمال يې مېرمنې ته وښود چې مخکې يو لک روپۍ پکې تاوې وې. ويې ويل:

– هرڅه يې وړي دي کنه نو.

نازيه په منځ دهلېز کې کېناستله. په خېټه يې لاس ونيو. ژوره سا يې اخېستله. ويې ويل:

– وی، بلا ورپسې! موږ نه اسې ام پاتې وه.

کريم حويلۍ ته ووت. شاوخوا يې سترګې وګرځولې. د نوي کور مخته او شاته دېوالونه کنډو وو. په زړه کې يې تېر شول «غله په دې لارې راغلي او وتلي دي» په منډه يې د کور شاته سر واېست. څوک نه ښکارېده. بېرته د نازيې څنګ ته راغی. هغې پښې غځولې وې. داسې زور يې واهه لکه دروند شی چې جګوي. په سر ولاړ لمر ته يې اشاره وکړه:

– وی، ډاکټرې ويلې غرمې پورې خلاصېږې. يو څه وکه کنه! خوشې خوشې ګرځې.

– څه وکمه کنه نو؟

نازيې سلګۍ ووهلې:

– نر يې که نه يې؟ چې دونه خبره شي پټکې دې وي. چې د کار خبره شي ماته وايې څه وکمه.

کريم له قهره وپشېد. وسيمه نازيې ته ودرېدله. ويې ويل:

– خېټه دې وسولومه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې سر وښنده چې په سولولو نه کېږي. د خېټې لاندينۍ برخه يې په دواړو لاسونو نيولې وه. تا به ويل که يې خوشې کړي ځمکې ته به پرېوځي. له درده يې کله مخ يوې خواته اړاوه کله بلې خواته. جنګ بيا زور واخېست. هاجره او وسيمه له نازيې سره جوختې کېناستلې. ټيکري يې ژوول. کريم تاوېده راتاوېده. چورت يې واهه چې څه وکړي. د نازيې تور پرتوګ ته يې پام شو. سرېښناک لوند و. زړه يې په سينه کې کېکاږل شو. يودم يې منډه کړه. موټر يې چالان کړ. بېرته دهلېز ته راغی. ويې ويل:

– اله اله، راځه موټر کې کېنه! ځو، ځو!

– وی، په سرک؟ په مرميو؟

– هو، پروا نه کوي. زرکوه کنه نو!

نازيې دېوال ته تکيه وکړه. له زګېرويو سره يې سر وښنده:

– وه خدايه مړه شومه. وه زه اېچېرته نه ځمه.

سلګۍ يې ووهلې. کريم په دوو پښو کېناست. له لاسه يې ونيوله. ويې ويل:

– مانه خبره مه پټوه! دا خو ډېره موهمه ده کنه نو.

نازيې په قهر ور وکتل. په ګرد مخ کې يې پېړې شونډې ورپېدلې:

– وی، پرې مې ده! ته څه وايې؟ لېونی شوی يې؟

کريم يې د پرتوګ لندې برخې ته اشاره وکړه. د نازيې لکه چې تر اوسه پام نه و. ورې سترګې يې غټې غټې را ووتلې. د کريم زړه ډک شو. وپسېد:

– چې ميرحمزه نه وي، چاته ژوند وکو کنه نو؟ راځه پاڅې! يا به ټول نه يو، يا به ټول يو.

د نازيې وارپار خطا و. د مېړه په مخ روانو اوښکو ته يې وکتل، پاڅېدله. نجونې هم وخوځېدلې. کريم د لاس په څټ اوښکې پاکې کړې. ويې ويل:

– نه نه، تاسې اوسئ! خطر دی، ښه؟ زه شازمان ته وايمه. اغه درپسې راځي. پوه شوئ؟

نجونې يې د نوې ودانۍ د تاکاوۍ په کونج کې ورې چاردېوالۍ ته ننوېستلې. ويې ويل چې دباندې هرڅه کېدل ونه وځي. په مخ يې ښکل کړې. ترې روان شو. نجونو په تښتېدلي رنګ ورپسې کتل. موټر په کوڅه کې په لوټو کرپېده. نازيې غږ کړ:

– وی، ورو کنه! مړه دې کړمه.

کريم ببخي سست شو. د مسجد فلزي دروازې نيمه لاره بنده کړې وه. هغه يې دېوال ته کږه ودروله. دننه د حويلۍ په چمن کې د کانکرېټې چت غټې ټوټې له مات منار سره پرتې وې. کريم په زوره کلمه وويله. توبې يې واېستلې. بېرته شترېنګ ته کېناست. هرڅومره چې سرک ته نژدې کېده د ډزو غږونه زياتېدل. د کوڅې په پای کې تاوېده چې په ښيښه کې يې مخېټې وليدل. په دوئ پسې يې منډې وهلې. د تومانچې مرمۍ يې د موټر په ډاله ولګېدلې. کريم اکسلرېټر ته پښه تمبه کړه. موټر د کلي په منځ سرک تېز خوشې شو. له هرې خوا ورباندې ډزې کېدلې. د څنګ ښيښې دانه دانه پرېوتلې. هغه په نازيې چيغه کړه:

– سمله! سمله کنه نو!

خپله يې سر ټيټ نيولی و. اکسلرېټر او شترېنګ يې نه خوشې کول. د ونې شاخ ورباندې په شرکس راولوېد. په پاټو کې پټ موټر په چټکۍ پله ته نژدې کېده. له کوم شي سره ولګېد. شاخ ترې ولوېد. مخ يې چپ پلو تاو شو. نازيې اخ اخ کړ. موټر تېز روان و. کريم وېرېده چې اوس به له دېوال سره ټکر شي. بريک ته يې پښه واچوله. خو د موټر د ټوپونو له امله بيا په اکسلرېټر کېکاږل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه. هغه شترنګ وڅرخاوه. د توپونو او د راکټونو ډزو غوړونه کڼول. د یو راکټ له ډز سره سم دلته هم درز شو. د کریم سر په سویچبورډ ولګېد. آرامه آرامي شوه. اوږده شېبه کنګس و. وروسته یې ورو ورو سترګې روښانه شوې. سر یې جګ کړ. موټر په وچې ویالې کې کوږپروت و. شاتنۍ ښیښه نه وه. راکټونه په بابا کلا لګېدل. خو ده یې غږونه اورېدل. نازیې ته یې اندېښنه شوه. سر یې اوږد کړ. ورمېږ یې درد کاوه. هغه د شاته سیټ د پښو په ځای کې غونجه ننوتې وه. کریم رېږدېدونکی لاس ور اوږد کړ. ویې ښوروله:

– نازیې! وه جینۍ! نازیې!

هغه وخوځېدله. کریم خوشحاله شو. هغې سر راپورته کړ. بې حاله وه. ویې ویل:

– وی، چېرته یو؟ ولاړ یو؟

کریم وانه ورېدل. خو د شونډو له حرکته یې پوه شو چې څه وایي. ویې پوښتل:

– ته ښه یې؟

نازیې ځان ته ښکته وکتل. په خېټه یې لاس وګرځاوه. ورنونه یې وسولول. د هوسایۍ ساه یې واخېستله. کریم له خدای تعالی څخه د مننې په دود د موټر کوږ چت ته وکتل. نازیې د پاڅېدو لپاره د مخکې سیټ تکیه ونیوله. مېړه یې له اوږو کشه کړه. په کوږ سیټ کېناستله. کریم د موټر پوز ته ګوته ونیوله. ویې ویل:

– د جبار د باغ پنجره مې وهلې ده.

هغې سر وښوراوه. ویې ویل:

– نه یې اورمه.

کریم خپل غوږونه په ورغوو وموښل. پشس پکې پیدا شو. د راکټونو غږونه داسې راتلل لکه څوک چې چېرته لېرې په لښته بالښت وهي. د نازیې نالښت زیات شوی و. هغه یې له موټره واېستله. په مخ یې لاس ورکېښود. په چیغه یې وویل:

– ته دلته ویالې کې غلې کېنه! زه راځمه.

نازیه هم په جګ آواز غږېدله:

– وی، چېرته ځې؟ مه ځه! زما مړی چاته پرېدې؟

– دننه ګورمه. که څوک وي چې زېږنتون پورې مو یوسي کنه نو.

نازیې په نهیلۍ مخ واړاوه. کریم د موبایل لړزېدل احساس کړل. له جېبه یې راواېست. شاه زمان و. غاښونه یې وچیچل «کومک نه کوي اسې زنګونه وهي» ټلیفون یې بېخي بند کړ. د پنجرې د درز له لارې باغ ته ننوت. څوک نه ښکارېدل. د مېو د ونو له منځه یې پینځه منزله ودانۍ ولیدله. حیران شو. په دومره جنګ کې یوه مرمۍ هم ورباندې لګېدلې نه وه. د قیچي شوو بوټو ترمنځ په پخه لاره روان شو. د باغ په دروازه کې چوکیداران و د طیارو د بمبارد سپل کاوه. بل پلو یې جبار ولید چې د ودانۍ په لوی پیک داري دروازې ننوت. ده ورپسې پښه تېزه کړه. د دروازې له خولې څخه سور فرش دننه غځېدلی و. چپ لاس ته دریڅه خلاصه وه. په لوی ګراج کې رنګارنګ موټر ښکارېدل. یو یې امبولانس و. دی خوشحاله شو. په زړه کې یې وویل «ډاکټران راغلي. ای خدایه ورحمېږه! چې د نازیې دپاره یوه لاره پیدا شي» په فرش باندې مخته لاړ. په لوی سالون کې پستې چوکۍ تشې وې. مخامخ لویه کټاره داره زینه هم په سور فرش پوښل شوې وه. ښی لاس ته یې خلاصه دروازه ولیدله. زړه نازړه ننوت. هلته لویه کوټه وه. زېړې پردې او همرنګه کوچونه یې لرل. په مخامخ دېوال کې دروازه نیمکښه وه. له هاغه ځایه ډپ غږ راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– سندو ولېږه بچو! ته را شه کنه!

هلته هم لویه کوټه وه. شین فرش او شنې توشکې پکې غوړېدلې وې. خو څوک نه و. په کونج کې فلزي الماری لکه دروازه دوه پلې خلاصه وه. نژدې ورغی. هلته زینه تاکاوۍ ته کښوتله. غږ له هماغه ځایه راته. کریم حیران شو. په زړه کې یې وویل «پټې دروازې ته څه ضرورت دی؟» هغه په احتیاط په زینه کښوت. په پای کې فلزي پنجره خلاصه وه. کریم لا چورتي شو. دا ځای ورته غیر معمولي ښکارېده. په زړه کې یې تېر شول «کېدای شي د ډاکټرانو دپاره یې جوړ کړی وي» په پنجرې ننوت. لوی تالار و. مخامخ او چپې خواته یې د قطارو کوټو دروازې ښکارېدلې. ښی خواته اوږد دېوال و. د دېوال بېخ ته هرډول کمپیوټرونه، تلوېزیونونه، قالینې، جنرېټرونه، واټر پمپونه او نور سامان چې کریم نه پېژندل ایښي وو. داسې برېښېده چې زاړه شیان دلته ساتي. سترګې یې په یو تلوېزیون تم شوې. کونج یې لږ ګرېدلی و. نژدې ورغی. خپل یې و. په قالینو کې یې هم خپله وپېژندله. د سپینې شملې یوه برخه یې په غوړو زېړه شوې وه. هک حیران شو. په مخامخ کوټې کې خبرې او دربهار و. هغه غلی سر ننوېست. یو ځوان په څمکه تاوېده راتاوېده. لاسونه، پښې او خوله یې تړلي وو. دوو کسو په کېبل واهه. جبار ورته ولاړ و. کریم له ډاره شاته شو. بیا یې سر د ننه کړ. جبار د سړي له خولې رابر ټیپ لېرې کړ. موبایل یې ونیو. ویې ویل:

– ورته ووایه چې د سلو لکو نه یوه روپۍ کمه وي ما وژني. وخله!

کریم تاو شو چې وتښتي. خو د زینې په سر کې د څو تنو خندا وه. هغه ژر په نیمکښه دروازه ننوت. هلته یې غټ سری ځوان سوټ پوټ پروت ولید. په خوله یې رابر ټېپ لګېدلی و. کوړی کوړی وېښتان یې په وینو تپلي وو. دواړو یوه شېبه رډې رډې یو بل ته کتل. وروسته کریم په کوټې کې نظر وځغلاوه. له چته رسۍ ځړېدله. په کونج کې ډکه بوجۍ ولاړه وه. کریم ځوان ته مخ کړ. په خپلو شونډو یې ګوته ونیوله چې غږ مه کوه. نژدې ورغی. خوله یې ورپرانېستله. ځوان په ژړا شو. شکېدلې او پړسېدلې شونډې یې وخوځولې:

– خدای ته وګوره ماما! مه مې وهه!

کریم ژر وپسېد:

– چپ چپ! زه دې نه وهمه.

– ځوړندوه مې ام مه! پلار مې پیسې درکوي.

کریم یې خوله بېرته بنده کړه. ویې ویل:

– ورو غږېږه! زه ددې خلکو نه نه یمه. نوم دې څه دی؟

خوله یې ورخلاصه کړه. ځوان وپسېد:

– زړګی یمه. ای ماما! ما وباسه! وژني مې. پیسې درکومه.

کریم یې پښو ته اشاره وکړه:

– لاسونه او پښې دې ولچک دي. کیلي یې اغه خلکو سره ده. ته د چا زوی یې؟

په دهلېز کې غږ شو:

– لالا! نن زبردسته ورځ ده. داسې جنګلاوه مو ونیوله چې چې چې...

کریم د دروازې له درزه غلي وکتل. د ډاکټرانو په چپنو کې څلورو ځوانانو د اوږو قالینې وغورځولې. تلوېزیونونه یې په احتیاط ودرول. جبار راغی. په جګ غږ یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه، دا څه سپېره خلک دي. جنګلاوه خو په نورو ځايو کې ښه ده. ځئ وخت مه تېروئ!

يو غبرګ ځوان د پيسو او ګاڼو کڅوړې په لاس ورکړې. ويې پوښتل:

– اوس چېرته لاړ شو؟

جبار چې د کڅوړو محتويات کتل، وويل:

– د جومات کوڅې ته لاړ شئ! جنګ بانډه ګۍ کې دی. ای خلک کورو کې شته، که وتي دي؟

د نرۍ اوږدې پزې ځوان وويل:

– زياتره وتي. ځنې شوده ګان شته. مري خو وځي نه.

– رسوا نشئ! اغه چې نه ځي ختموئ يې! چې ځي، امبولانس کې يې باسئ!

ځوان کټ کټ وخندل:

– چې امبولانس ووينې لکه دمور ډولۍ چې يې راغلې وي. پالوان ام لکه ربښتيانی ډاکټر، داسې غټ غټ کېږي.

ټولو کړس کړس وخندل. څلورواړه بېرته په زينه وختل. جبار له خپلو دوو جلادانو سره پاتې شو. زنګ ورته راغی. هغه غټ تور ټلېفون غوږ ته ونيو:

– الو! اجي صيب! ... هو جنګلاوه راټولوو... ښه ده نو. نورو نه چې خبرېږمه اغو ته نه رسي... هو، ټولو سره په تماس کې يمه... نه نه، شازمان او دلاور ندي راغلي... بې غمه اوسه! ... سمه ده.

جبار ټلېفون بند کړ. د کريم په فکر کې سل پوښتنې وګرځېدلې «شازمان او دلاور ورسره څه کار کوي؟ مانه يې ولې پټه کړې ده؟ څو نه پيسې ګټي؟... » جبار د څنګ کس ته مخ کړ:

– الکه سنډوله! اغه د توجار زوی راوله!

دلته په کوټه کې زړګي سلګۍ پيل کړې. ويې ويل:

– ما وهي. ما خلاص که!...

کريم د هغه په خوله رابر ټېپ ولګاوه. خپل موبايل يې په جېب ور ومانډه. وپسېد:

– دغه کلي ته زرين کلا وايي. دا د جبار باغ دی.

دروازه خلاصه شوه. چاغ، ږيرور ځوان ننوت. بندي يې له ګرېوانه ونيو. د مردار شوي حيوان په شان يې کش کړ. کريم د بوجۍ شاته پټ و. په احتياط يې دهلېز ته سر ښکاره کړ. هغوئ په وړاندې کوټې کې له بندي سره اخته وو. دی په منډه ووت. په ويالې کې يې نازيه له متې ونيوله. وپسېد:

– جګه شه چې ځو!

– وی پرې مې ده! څه خبره شوه؟

– خبره بله ده! بيا درته وايمه.

خو نازيه د دردونو له امله سونګېدله. په سختۍ يې قدم اخېست. کريم په غېږ کې جګه کړه. د باغ شاته تاو شو. نازيې وپوښتل:

– اوس چېرته ځو؟

– خپل کور ته.

– وی زېږنتون ته نه ځو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کریم د زېږنتون نوم داسې خوږ لګېده لکه څوک چې جنت یادوي. زړه یې ډک شو. سر یې وځنډه. ویې ویل:
– شازمان ربښتیا د اجي او جبار اندېوال دی. اغه ته به وواېو چې دوئ ته کومک وغواړي.
– وی، خدای دې تبا کي! تراوسه یې ولې کومک نه کاوه؟
کریم څه ونه ویل. تېز تېز یې قدمونه اخېستل. د نازیې غږ بیا ووت:
– امدلته ورته زنګ ووهه کنه!
– نه، چې دلته مو ونه ګوري. دوئ نه پوهېږي چې زه خبر یمه.
– د څه شي نه خبر یې؟
– بیا درته وایمه. یو وار زموږ کار وشي کنه نو.

ooooooooo

کریم د دېوال له کونجه خپلې کوڅې ته وکتل. ډاربده چې مخېټې نه اوسي. شمال پکې پختې او کاغذونه کولول. لوټې، لرګي او د کور سامانونه هر چېرته پراته وو. د ژوندیو موجوداتو خوځښت نه لیدل کېده. لکه د بلاګانو کوڅه چې وي. له بله پلوه مرمۍ وې چې په هوا کې تېرېدلې راتېرېدلې. هره شېبه د لګېدو امکان و. اوس د چخپیت کټ ځنګ ته شکېدلې تو شکه هم ښکارېدله. نازیه سسته پسته وه. شا یې په دېوال وښویوله. په دوو پښو کېناستله. شونډې یې له درده کېکاږلې. زګېروی یې وخوت «امح» کریم وویل:
– مه کېنه! رسېدلي یو.
نازیې یې لاس ونیو، پاڅېدله. قدم یې واخېست. پښې یې سستې شوې. د لوېدو په مهال کریم ونیوله. په غېږ کې یې واخېستله. د خپل کور مخې ته یې نرمه کېستله. دروازه په مخ خلاصه وه. خرپ خرپ شو. کریم شاته وکتل. د ګاونډي د کوټې نیم دېوال نه و. مالوچ په چت پسې نښتي وو. وډار شو چې د ننه مخېټې نه اوسي. خو غږ په کوڅه کې د لوټو له منځه راته. کریم سر ټیټ کړ. برګ سپي د ماتې دروازې لاندې د انسان لاس خوړ. د کریم کانګې راغلې. غاښونه یې وچیچل. لوټه یې ورپسې واره کړه «چغی!» سپي داړې جینګې کړې. وغړنجېد. لاس یې په خوله کې ونیو او په کوڅه کې یې منډه کړه. کریم ژر د واسکټ له جېبه تومانچه ډوله وسله راواېستله. نازیې ویو ښتل:
– وی، دا څه شي دی؟
کریم وویل:
– التهلاره کې پرته وه.
هغه په سپي ډزه وکړه. ونه لګېد. مرمۍ د کوڅې په پای کې کنډوالې ته ننوتله. سور لوګی ترې پورته شو. طیاره راغله په هماغه ځای یې بم وغورځاوه. کریم کېناست. خو نازیې په ولاړو په سر لاسونه ونیول. دواړه کور ته ننوتل. نازیې دوه درې قدمه واخېستل. په حویلۍ کې ودرېدله. کریم بیا لاسونه ترې لاندې کړل. په برنډه کې یې له غېږې کېستله. دا وخت په حویلۍ کې د خلکو شور شو. د ماشومانو ژړا وه. دوئ وډار شول. ګاونډیانې ښځې د نوې ودانۍ له لوري راروانې وې. له شنې پردې راتېرې شوې. ښېراوې یې کولې:
– هی د توپ ښبه دې شي! هی مرمۍ دې پکې سرې نشي! هی ښه ورځ دې ونه ویني!
له دوو نارینه ګانو څخه یو قمارباز تیمور و. هاجره او وسیمه یې له لاسونو نیولې وې. دا هغوئ ژړل. چې خپل کاکا یې ولید په چیغه یې ورمنډه کړه. کریم په تیمور برګ شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دا ولې؟ په دوئ دې څه کړي کنه نو؟

زړې ښځې وويل:

– خوشاله اوسه! خدای وساتلې.

کريم تېمور ته اشاره وکړه:

– دده نه؟

– نه.

کريم هوا ته لاس ونيو:

– د بم نه؟

ځوانې ښځې د څادر له درزه وکتل. په قهر يې وويل:

– د بې پتی نه.

– بې پتی؟

تېمور سپينه خولی شاته ټېلوهله. ويې ويل:

– دسې چل و، چې کور کې ومه. چيغې مې واورېدلې. منډه مې کړه. ګورمه چې دوئ ام خوشې دي. چې دلته ننوتلو غړتاکاوی کې و. چې ورغلوجونې چيغې وهي او دوه کسه يې جامې باسي. يو يې په خوله لاس ونيو. بل وايي اوس يې پرېده اخر کې يې وژنو. موږ وربانديې نارې کړې. دواړه په کړکی وتښتېدل.

کريم وړاندې شو. تېمور يې په غېږ کې کلک ونيو. سترګو يې نم وکړ. ويې ويل:

– خير وېسې. ما په تا شک وکه کنه نو.

تېمور سر ښکته واچاوه. شونډې يې وخوځېدلې:

– ملامت نه يې کريم اوستاذه. که موږ کې ورانی نه و دا حال به ولې راته؟ اول زه. اوس قمار نو څه شی دی چې ما وهه؟ پيسې بايلې، خلکو کې سپک يې، پلار او مور دې ځورېږي. بس دغسې خلک يو کنه. التـه پښېمانه شو چې ګټه نلري.

کريم سر وخوځاوه. د نوي کور په لور يې اشاره وکړه. ويې پوښتل:

– اغه کسان څوک وه؟

دويم ډنګر سړي وويل:

– نه مالومېدله. په مخ يې چارخانه دسمالونه تاو وه.

د کريم سږمې له قهره وپړسېدلې. شونډې يې ورپړېدېدلې. بيا يې وپوښتل:

– چېرته لاړه کنه نو؟

تيمور سر کوږ کړ:

– ما د دېواله د کنډوه وکتل. د لنډی ويالې خواته يې منډې وهلې.

کريم دواړه په غېږ کې ونيول. له ښځو يې هم مننه وکړه. هغوئ د ډزو له امله کوپ کوپ ووتل. ده نازيې ته لاس اوږد کړ:

– ته دې ټلېفون راکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه زمان او دلاور ته زنګ نه تېرېده. سپکې سپورې یې ورته وویلې. بله شمېره یې ووهله. د حویلۍ منځ ته روان شو. همدا چې اړیکه ټینګه شوه ویې ویل:

– الکه ودروئ جنګ ودروئ!

نورعلي له څو تنو سره په بالاخانه کې په دوو پښو ناست و. ماتې کړکۍ ته یې سر جګ کړ. په دوربین کې یې بابا کلا ته وکتل. موبایل یې شونډو ته ونیو. په کوچیانه لهجه یې وپوښتل:

– کریم اوستاذه! خدای دې خیر کي! بیا څه خبره شوې؟

– نور څه وشي؟ موږ ویلې غله به ورک شي، بې ناموسي به ختمه شي. اغه لا ډېره شوه. موږ ویلې خلک به هوسا شي، اغه تبا شوه. زما خپله ښځه د ګېډې د بچي سره مري. شفاخانې ته یې نشمه بیولی. دا څه حال دی کنه نو؟

– دا خو ستا شخصي موشکل دی.

د کریم شونډې لا وربېږدېدلې. چیغه یې کړه:

– ټول کلی تبا شو وایمه. ته ړوند یې؟ د دې جنګ د ګټې نه تاوان ډېر دی. بند یې کئ!

نورعلي په آرامه وویل:

– ستا ایمان کمزوری شوی.

د کریم ماغزه بېخي سرچپه شول. غاښونه یې وچیچل. برګ یې وهل:

– او کېنه کمقله! زما پیشو ماته میاو. چا دربانديې د دووخرو وربشې نه ویشلې. بېړا دې نوم و بېړا. ما درنه سړی جوړ که کنه نو.

نورعلي وخندل:

– او هو هو هو. په دونه وړه خوله دونه غټې خبرې.

– ای ای بېړا ای! په خدای چې...

له هغې خوا غبرګ شو:

– بېړا دې اغه پلار دی کوپخولیه!

کریم نور د اورېدلو حوصله نه لرله. ټلیفون یې بند کړ. اوږده شېبه یې ژوره سا اخېستله. نجونو او نازیې له دالانه کتل. ده یودم تېز حرکت وکړ. د نوې ودانۍ له مخې یې سیخ ګول واخېست. د دروازې په لور روان شو. نازیې ته یې وویل:

– ستا ټلیفون دې ما سره وي.

– وی نه، ادې مې زنګ وهي.

– وهي، وهي به کنه نو.

نازیې غبرګ کړ:

– وی الا! ته چېرته ځې؟

کریم په تګ کې ځواب ورکړ:

– نور نه کېږي. یا به زه نه یمه یا دا دوه خبیثان.

– وه خدایه موږ به څه کوو؟

– بله چاره نشته کنه نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازیې او نجونو مړاوي مړاوي وریسې کتل. کریم له لویې دروازې ووت.

ooooooooooo

کوڅه سمه نیمه لاره او نیمه ویاله وه. لنډۍ ویاله یې بلله. هغه له خوړ څخه پیلېدله. بېرته خوړ ته کېوتله. په زرین کلا کې دا مشهوره خبره وه چې نه به وخت ودرېږي، نه لنډۍ ویاله. خو نن هغه وچه وه. کریم یې په غاړه قدمونه اخېستل. په زړه کې یې ویره وه. ددې وېره چې دا بد شگون به په ټول کلي کې ده ته زیان ورسوي. دوه خبرې وې. یا به دی بېرته ژوندی نه ستنېږي، یا به یې مېرمن مړه وي. ده مخ ته او زړه یې شاته زور واهه. د نازیې وروستي مړاوي کتل یې له سترگو نه لېرې کېدل. په ځان یې شک و. چې په رښتیا په مخپټو پسې وتی دی، که د بې وسۍ له امله یې ښځه او بچي پرېښودل؟ نږدې لې د دېوال ته ورسېد. د قران شریف پاڼې په کوڅه کې پرتې وې. پښه نیولی شو. پاڼې یې ښکل او د دېوال په درز ننوېستلې. د ننه حویلۍ ته یې وکتل. هرې خوا ته د کور سامان تیت و. خو د انسان حرکت نه لیدل کېده. خپله لاره یې ونیوله. نه پوهېده چې له مخپټو سره به چېرته مخامخېږي. ځان ورته داسې برېښېده لکه مېږه چې د ځناورو کمین ته روانه وي. گوډ گوډ کېده. خو گامونه یې مضبوط اخېستل. د باغ د دېوال برابر روان و. مرمۍ په کړسس په ونو کې ولگېدلې. پاڼې او ورې څانگې په څرخېدو ځمکې ته کېوتلې. خو کریم سر ټیټ نه کړ. یو قرار یې لاره وهله. کونج ته ورسېد. نابېره یې غږ واورېد:

– ودرېږه! دېخواته دېخواته!

کریم سیخ گول وهلو ته تیار کړ. په آرامه یې مخ وگرځاوه. یو کس ورباندې د دېوال له شاڅخه د ټوپک نښه نیولې وه. مخ یې دومره تور و چې رېږه او وروځې پکې نه ښکارېدلې. دا سړی یې اول ځل لیده. ویې پوښتل:

– څه وایې کنه نو؟

– خبرې مه کوه! راځه!

کریم وړاندې ورغی. خو باغ ته ننه نه وت. ویې ویل:

– زه کار لرمه. هرڅه چې وایې امدلته ووایه کنه نو!

لویه ډله د دېوال شاته پټه وه. د جالۍ خولۍ والا ځوان غږ کړ:

– ای څه ورته ونه وایې، څه ورته ونه وایې! کریم اوستاذ امدا دی.

بیا کړسس شو. مرمۍ ډېرې ټیټې ولگېدلې. ټول په دوو پښو کېناستل. کریم د دېوال له سره غاړه اوږده کړه. ویې ویل:

– الا گله ته یې؟

– هو کنه. ای! په دا سیخ څه کوې؟

کریم چورت واهه چې الله گل ورسره څه کمک کولی شي. سیخ گول ته په کتو یې شونډې ورپېډلې:

– دوه کسه لټومه. مخونه یې په چارخانه دسمالونو پټ دي.

– ښه ښه، ما د لرې نه ولیدله. بره کوڅه کې یې منډې وهلې. دا څوک دي؟

کریم پوهېده چې الله گل یې په خبره باور کوي. ویې ویل:

– اربکیان دي کنه نو. او چې زموږ کسان ووینې وژني یې.

د الله گل څېره قهرجنه شوه:

– دا څه وایې؟ کشکې دې مخکې ویلي وه. ای! نو ته یې څه کوې؟

– ما پسې ام دي. چې مړ مې کي. یو ټوپک راکه! بېرته یې راوړمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ګل سر وخنډه. کريم په زړه کې خوشحاله و. خو په ښکاره يې د ګيلې په دود کړې کړې وکتلې. روان شو. چورت يې واهه چې الله ګل خو يې په قهر کړ. اوس څنګه هغوئ ورته راولي. په زړه کې يې وويل «ځان به ور وښيمه او نور به وتښته. اغوئ به راپسې شي کنه نو. باغچې ته به راشمه. الله ګل ته به ناري کمه. اغه به يې وولي» په همدغو چورتونو کې يو کور ته ورسېد. بالاخانه يې له شکېدلي ايراني فرش او په خټو لړلو توشکو سره په کوټې کې پرته وه. تر دروازې دننه يې وکتل. مخامخ د اوسېدو کوټې يې هم چپه شوې وې. په حويلۍ کې کړوپ بايسيکل پروت و. کريم ننوت. ناري يې کړې:

– ميرزا! وه ميرزا! کور کې يې؟

چا ځواب ورنه کړ. خوا ښې يې ټليفون وکړ. ده وويل چې کور ته لاړم زنګ در وهم. د سر د پاسه يې د بالاخانې د دالان ځوړند چت ته وکتل. په يو دستک ولاړ و. د دستک سر د پخسې په کړه ستنه ټينګ و. دا ځای يې خوښ شو. په حويلۍ کې يې سره پلاستيکي رسۍ پيدا کړه. يو سر يې تر دستک تاو کړ. بل سر يې د بالاخانې د دېوال کنډو ته وار کړ. په خامه زينه وخوت. پاس کوږ دالان ته راغی. ځان يې شاته نيولی و چې ښويه نه شي. تر پښو لاندې يې دستک وغنګېد. دالان لږ نور هم ټيټ شو. مخامخ حويلۍ او نړېدلې کوټې ښکارېدلې. رسۍ يې کشه ونيوله، کېناست. سيخ ګول يې څنګ ته کېښود. ټليفون يې واېست. هاغه شمېره يې په ياد وه چې ده ته يې د شاه محمد په کور کې زنګ وهلی و. له هغې خوا «الو الو» غږ شو. ده سمدلاسه وپوښتل:

– ما سره څه د ښمني لرئ کنه نو؟

– اوو، کريم اوستاذ يې؟ تاسره مو د ښمني نده پيره. تا کې مو روزي ده.

هغه کړس کړس وخندل. کريم اورېدل چې بل ته وايي «خپله يې زنګ وهلی دی» ده وويل:

– زه غواړم ماميله درسره وکمه.

– ښه خبره ده پيره. ماميله مې خوښېږي. چېرته يې؟

– د ميرزا کره.

– درغلو. چېرته لاړ نشې پيره!

کريم منتظر ناست و. په زړه کې يې وويل «چې په دروازه راننوځي زه به رسۍ کشه کمه. دستک به د ستنې نه خطا شي. دالان به يې په سر پرېوځي کنه نو» ژوره سا يې واخېستله. څنګ ته پروت سيخ ګول ته يې وکتل «که څوک ژوندی و. په ده به يې مردار کمه» پلان ورته فوق العاده برېښېده. په لاس کې يې سور ساعت ته وکتل. دوه بجې وې. په آواز يې وويل:

– چې دا خبيثان زر راشي کنه نو.

شاته کوڅه کې شور شو. هغه د بالاخانې د دېوال کنډو ته سر جګ کړ. وسله وال کسانو پنډونه په شاکړي وو. يو يې وويل:

– ای! د غنيمت مال په ټولو برابر ويشل کېږي.

بل ټېلو اهه:

– کېنه بچو! هر چا چې هرڅونه راوړي وي د امغه دي.

کريم يو هم ونه پېژاند. خلک تېر شول. دی بېرته کېناست. ساعت يې سترګو ته راتاو کړ. دوه بجې او پينځه دقيقې وې. د ډاکټرې خبره وریاده شوه «سبا غرمې پورې وخت شته» خو اوس تر غرمې دوه ساعته تېر و. «ميرحمزه به څنګه وي؟ نازيه ګۍ مې؟» ستونی يې ډک شو. چاره نه وه. بايد انتظار وباسي. شېبه په شېبه يې کوڅې ته سر جګاوه. په غږ يې وويل:

– نه راځي کنه نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نابېره یې مخامخ په حویلۍ کې دواړه مخپټي ولیدل. له حیرانتیا څخه هېښ پېښ شو. هغوئ په بله لار راغلي وو. کټ کټ یې خندل. د دواړو په لاسونو کې تومانچې پیدا شوې. کریم ځان یو پې خواته واچاوه. مرمۍ ددهٔ د ناستې په ځای ولګېدلې. سیخ ګول په کړنګس حویلۍ ته ولوېد. هغوئ ورمنډه کړه. کریم غوښتل په کنډو ځان کوټې ته واړوي. خو رسۍ یې په پښو کې بنده شوه، ولوېد. دالان چپه شو. مخپټو شاته خېز کړ. کریم ځان په کنډو پسې کلک کړی و. پښه یې وښندله. رسۍ خوشې شوه. ځان یې بره کش کړ. بالاخره په کنډو واوښت. په کوټې کې یې په ګوډه پښه منډې وهلې. دلته چپه شوي دالان د دروازې مخه بنده کړې وه. مخپټي هم د بالاخانې له لارې کوټې ته کېوتل. په کریم پسې شول. ډزې یې هم کولې. یو تن ورباندې غږ کړ:

– پیره! په دا ګوډه پښه به چېرته لاړ شې؟

کریم باغچې ته ورسېد. سمدلاسه په کونج تاو شو. نارې یې کړې:

– الا ګله! الا ګله!

خو هلته څوک نه و. شاته مخپټي په تېزۍ نژدې کېدل. کریم په باغچه کې خوشې شو. له پرتو شاخونو په ټوپونو اوښت. د تومانچې مرمۍ یې واسکټ سوری کړ. د باغچې د بلې خوا دېوال ته رسېدلی و چې مرمۍ یې په تشي کې ولګېدله. په ځمکه ولوغړېد. زخم یې سوخت شروع کړ. د پرتوګ په بډه یې توده وینه کېوتله. شاته یې وکتل. مخپټو په پرتو شاخونو پښې اړولې. دی پاڅېد. تشی یې نیولی و. په دېوال یې ځان هاخواته وغورځاوه. په خاپوړو روان شو. مخپټي هم دېوال ته ورسېدل. کریم ځان تر کونج پناه کړ. هلته تک تور کس ددهٔ سر ته ودرېد. ټوپک یې په لاس کې ځوړند نیولی و. کریم ورڅخه ټوپک تېز کش کړ. په پروتو لکه سیمساره تاو شو. سمدلاسه یې په مخپټو ډزې وکړې. دواړه د دېوال بېخ ته ولوېدل. دهٔ ټوپک وغورځاوه. سر یې په ځمکه کېښود. بې حده ستړی و. الله ګل موسکی شو. په خپل کس یې غږ کړ:

– اغو دواړو نه وسلې واخلئ!

د کریم یو لاس په تشي کې و. بل لاس یې په ځمکه ولګاوه. سر یې جګ کړ. مخپټي شواړ پراته وو. نه خوځېدل. له مرمیو ډکې ګردنۍ یې په غاړه وې. الله ګل له څو تنو سره د کوټې په خوله کې ولاړ و. تور سړی مخپټو ته نژدې ورغی. همدا چې یې ګردنۍ ته لاس اوږد کړ ډزې شوې. هغه شاته منډه واخېستله. الله ګل په باغچې ضربې وکړې. ویې ویل:

– کوټې ته شئ کوټې ته!

هغوئ پناه شول. شاته ورپسې د ښمنانو هم ضربې کولې، هم منډې وهلې. کریم سر کېښود. ځان یې مړ وښود. ډله تېره شوه. هغه کېناست. ښي پایڅه یې په وینو وه. لمنه یې جګه کړه. تشی یې وکوت. په پسته کې لګېدلی و. وینه روانه وه. لاس یې ورباندې کلک ونیو. په خاپوړو د مخپټو څنګ ته لاړ. د یو چارخانه څادر یې کش کړ. هک حیران شو. دا هماغه څښور غلام و چې سهار یې د موټر په کنکشن کې ورسره مرسته کړې وه. کریم نه پوهېده چې د غلام ورسره څه د ښمني وه. ژر ژر یې ملا وتړله چې وینه ودرېږي. د دویم کس څادر یې لېرې کړ. د غلام د ورور بختیار څښې په رېګ خورې شوې. د کریم سترګې ټېغې ټېغې راوتې وې. په غږ یې وویل «خبیثان» د غلام څنګ ته موبایل پروت و. هغه یې جېب ته کړ. شایې واړوله. غوښتل یې د باغچې په دېوال واوړي. غږ راغی:

– پیره ح! کومک وکه ح!

کریم بېرته راوګرځېد. غلام کله سترګې خلاصولې، کله پټولې. ویې ویل:

– پیره خدای ته وګوره کنه ح! ډاکټر ته مې ورسوه ح!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم غابنونه وچیچل. له ستوني یې ونیو. ویې پوښتل:
– نه نو ولې؟ ولې مو زه وژلمه کنه نو؟
غلام وتوخېد. بدن یې لړزېدل پیل کړل. لاړې یې په سختۍ تېرې کړې. ویې ویل:
– پیسې درکومه ح. څونه چې غواړې ح.
کریم چیغه کړه:
– پیسې دې ځان ته ورکه رذیله. ما تاسې ته څه بد رسولي کنه نو؟
غلام سترګې خلاصې او پټې کړې. ویې ویل:
– اح، اح، ویلې امدا نن ح، مېړه او ښځه ختم که ح. درې لکه درکوو ح.
کریم یې ستونی خوشې کړ. ویې پوښتل:
– چا؟ چا درې لکه درکولې کنه نو؟ خبره کوه!...
غلام لکه اورېدلي چې یې نه وي. ویې ویل:
– ډاکټر ته مې بوځه ح! که جوړ شومه ح، دواړه ح، درته ح، وژنمه ح. پیسې مه راکوه ح! د نر وعده ده ح.
– اغه څوک دي څوک؟
– ستاح، ستاح، ستاح، سسـ...
کریم چیغه کړه:
– څه شی ستا ستا ستا؟
د غلام لړزېدل او شتهوهل تېز شول. یودم سوړ پرېوت. سر یې کوږ او سترګې یې ودرېدلې. کریم یوه شېبه غلی ناست و. چورت یې واهه چې څوک زما وژل غواړي؟ د څه لپاره یې غواړي؟ ما چاته تاوان رسولی دی؟ هېڅ یې سر کار نه کاوه. غوښتل یې پاڅېږي چې د شاله خوا یې لغته وخوړه. د غلام په جسد پرېوت. مخ یې وګرځاوه. الله ګل دوه لغتې نورې هم ورکړې. ویې ویل:
– تا خو ویل اربکیان دي کنه؟ دا اربکیان دي؟
کریم په قهر شو:
– غلی ورک شه! ته ما نه پېژنې؟ ته...
الله ګل غابنونه وچیچل. په دوو پښو کېناست. ویې ویل:
– زه تا ښه پېژنمه. ولې دې زموږ کسان شهیدان کړه؟
کریم بیا هک پک شو. له کېناستو سره یې جسد ونو ته ګوته ونیوله:
– دا دواړه؟
الله ګل سر وخوځاوه. بېرته پاڅېد. کریم وویل:
– دوئ ما پسې وه کنه نو. مخکې مې درته ونه ویلې؟ ته اوس ما د دوئ سره برابروې؟
الله ګل بله لغته په ورون کې ورکړه:
– چپ منافقه! ته چې کوڅو کې ګرځېدلې، موږ شکي شوو.
هغه مخابره غوږ ته ونیوله. نورعلي ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کریم اوستاذ زمور د کشف کسان شهیدان کړه... نیولی مې دی هو... هو، امغه یې ام چل و... منافقان امداسې وي... چې کلې ونیسو بیا خو مالومه خبره ده چې زندان جوړوو... اوس پې څه وکمه؟... نه نو... ښه؟...

هغه یو قرار کریم ته کتل. وروسته یې مخ خپلو کسانو ته واړاوه:

– الکه ته او ته دا مرکز ته بو ځئ!

هغوئ د ټوپک په شپېلۍ کریم مخ ته ټېلوااهه. ده الله ګل ته مخ کړ:

– ای! نور بلا پسې، ماماخېل خو دې یمه کنه نو. دو نه خو...

– ځکه درته څه نه وایمه. که نه امر و چې ضربه دې کمه.

– چېرته مې لېږې؟ زه کار لرمه. تاته خو مالومه ده. ښځه مې مریضه ده. مري کنه نو.

دده سترګې ډکې شوې. الله ګل شا اړولې وه. دوو تنو کریم مخ ته ټېلوااهه.

ooooooooo

دوئ د غره د لمنې وچ خوړ ته ورسېدل. کریم ټوله لاره د تېښتې لپاره مناسبه شېبه لټوله. خو په لاس ور نغله. هغه یې نورو کسانو ته وسپاره. د سمڅې په خوله کې اته نهه تنه ولاړ وو. په دوربین کې یې کلي ته کتل. کریم یې په کونج کې لاس تړلی کېناوه. ده ټول له نظره تېر کړل. یوازې دوست محمد یې پېژنده. هماغه چې په ده لکه زوی ګران و. خو دوست محمد داسې په قهر و لکه دده د وینو تږی چې وي. د غټې سپینې ږیرې خاوند کاږه ور وکتل. ویې ویل:

– منافقین الله تعالی خپله شرموي.

د کریم خوله وچه شوه. سر وربانده وګرځېد. او به یې وغوښتلې. دوست محمد سپېره ور کړه:

– غلی منافقه! ام مو وژنې امرانه او به غواړې؟

د کریم ورته ماغزه وخوټېدل. تنفس یې تېز شو. دوست محمد غبرګه کړه:

– مګر په یو شرط او به درکوو!

هغه خپلو نورو ملګرو ته مخ کړ:

– دا ډېر ښه ګیلکار دی. اغه سنګر به پې جوړ کو. بیا به ورسره ګورو.

د غټې سپینې ږیرې خاوند سر وخوځاوه. بډوهلې ځوان او به راوړې. کریم تنده ماته کړه. دوست محمد په لغته وواهه:

– مخکې شه! زه درته ځای ښیمه. ښه کلکه سنګکاري وکې ګوره! که نه خیر دې نشته.

دواړه له سمڅې ووتل. وچ خوړ ته په کېوتې لار روان وو. دوست محمد خبرې نه کولې. کریم وویل:

– ای خره! ته خو ما پېژنې کنه نو.

دوست محمد ونه کتل. کریم بیا غږ واېست:

– دا د مور مېړونه مو څوک دي؟ د کومه شوي کنه نو؟

دوست محمد پرته له مخ تاوولو وپسېد:

– نورعلي وایي د صفان جان اغا کسان دي.

د هغه غږ اوس تغیر کړی و. قهر پکې نه احساسېده. کریم وپوښتل:

– دلته څه کوي؟

– امدوئ موږ ته وسلې او پیسې راکوي کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کريم چورت واهه چې هغوئ ولې داسې کوي؟ زموږ کليوال ورباندې دومره ګران دي؟ زه خو په غلطه روان نه يم؟ ښځه او زوی مهم دي که د خدای د رضا لپاره د کليوالو اصلاح؟ اوس دواړه له سمڅې پناه روان وو. دوست محمد مخ ور واړاوه:

– تشی دې ولې؟

کريم يې سترګو ته ځير شو. خوا خوږي پکې ښکارېدله. ويې ويل:

– غلام او بختيار وويشتلمه.

– ولې؟

– امدا خو زه ام پوېږدل غواړمه کنه نو.

دواړه د وچ خوړ بلې غاړې ته جګېدل چې نابېره چورلکه پيدا شوه. سمڅه يې په راکېټ وويشتله. توره دوړه پورته شوه. په غرونو کې د وحشتناک غړانګازې شوې. مارغان والوتل. ځناور او خزندې په غارونو ننوتلې. له هوا څخه کاڼي وا ورېدل. دوست محمد تر غټې تيږې لاندې پټ شو. خو کريم په ګوډه پښه مخ ښکته منډه واخېستله. دوست محمد د ماشيندارې ښه ورباندې ونيوله. خو ډزې يې په چورلکه وکړې. هغه راوګرځېدله. بيا يې راکټونه خوشې کړل. کريم شاته نه کتل. له يوې تيږې يې بلې ته ټوپونه وهل. کروندو ته ورسېد. چورلکې وليد. ټيټه شوه. ضربې يې ورباندې وکړې. مرمۍ د کريم شا وخوا په ځمکه ښښېدلې. خو هغه منډې وهلې. دوست محمد بيا په چورلکه ډزې وکړې. هغې مخ ور وګرځاوه. کريم سا نيولی په کلي ننوت. سربداله روان و. يو مهال يې په سترګو تياره شوه. ړنګ دېوال ته تکيه کېناست. کله چې يې سترګې روښانه شوې د غلام او بختيار جسدونه يې څنګ ته پراته وو. ټلېفون يې له جېبه راواېست. زنګ يې وواهه. هاخوا شاه زمان د شوروا مړۍ بېرته په کاسه کې کېښودله. دلاور ته يې وويل:

– د نازيې ورېندار ټلېفون دی.

دلاور شخوند تېز کړ. کريم وويل:

– الو الو! شازمانه! ته چېرته ورک يې؟

– کلي کې يمه. ولې؟ څه خبره ده لالا؟

دلاور غوږ نيولی و. تېزې مړۍ يې وهلې. کريم د غلام او بختيار له خوا په نجونو د تېري کيسه وکړه. د شاه زمان ټېغې سترګې لا غټې شوې. ويې ويل:

– نه، بل څوک به وه. تاريخ دداسې ډېرو پېښو شاهد دی چې کار يو چا کړی وي تاوان په بل چا وي.

– غلی د تاريخ بچيه! بل څوک څنګه وه؟ خلکو په خپلو سترګو ليدلي کنه نو.

شاه زمان غاښونه وچيچل:

– نمک حرامه! ته ودرې! وخت يې راځي.

کريم ورته د دواړو د وژل کېدو وويل. د شاه زمان تندی ګونجې شو. ټېغې سترګې يې د دلاور خواته واړولې. هغه غټ مخ ته بره ټکان ورکاوه چې څه خبره ده؟ شاه زمان وپسېد:

– غلام او بختيار د تاريخ کندې ته لوېدلي دي.

دلاور د (ولې ولې؟) پوښتنه کوله. کريم غږ کړ:

– شازمانه اورې! دلاور درسره دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هو .
– په منډه زموږ کور ته لاړ شئ! که وربندار دې ژوندئ وي ژر يې شفاخانې ته ورسوئ کنه نو !
– صيي ده . ته چېرته يې؟
– زه لګېدلی يمه. ماته مه ګورئ کنه نو ! ای زرکوئ! خدای ته وګورئ!
ټلېفون بند شو . کريم لاس په څمکه ولګاوه چې پاڅېږي. تومانچه ګوتو ته ورغله. په رېګ کې پټه وه. راجګه يې کړه. چورت يې واهه چې وايې خلي که نه؟ په پای کې يې د واسکټ په جېب ننوېستله. له ګردنيو د مرميو په اېستلو بوخت شو . د بختيار ترڅنګلې لاندې يې بله تومانچه وليدله. هغه يې هم واخېستله. سر يې بيا وګرځېد . له باغه راوتي لښتي کې اوبه نه بهېدلې. وړوکی ډنډوکی پکې و . په سکېدو ورغی. دواړه لپې يې ور اوبډې کړې. همداسې يې زړه وتښتېد . درب شو ، سر يې پکې ولګېد . اوبه تيتې شوې.

ꝏꝏꝏꝏꝏ

شاه زمان د خامو دېوالونو په وړې تاکاوۍ کې ګرځېده. د نم بوی و . سګرېټ يې ولګاوه. کله کله به يې د باندې ډزو ته غوږ ونيو . خو اوس آرامي وه. دلاور په کونج کې ناست و . ژر ژر يې مړۍ وهلې. ورور ته يې سترګې جګې کړې. غتې زنه يې وخوځېدله:
– راځه ډوډۍ وخوره! خبره اسې امورانه شوه ورانه.
شاه زمان برګ شو :
– چپ ورک شه! ما تاته وويلې چې خپله يې ولو . نه، ورور باندې ماشه نشمه کشولی. دا دی وخوره نو .
دلاور ور وګرځېد . په ډکه خوله يې وويل:
– زه څه پوهېدمه؟
– بلا ! مرګ! زه څه پوهېدمه، زه څه پوهېدمه. چې په دا خوله يې درکمه!
– او ته دې پټکې پرېده! څه کوو ؟ که پينځو بجو پورې اغه څمکه ورنکو ، اجي مو وژني اجي.
شاه زمان سرې د سګرېټ په لوګي وپړسول، بېرته يې تش کړل. ويې ويل:
– کريم لالا خبر ندی چې غلام او بختيار موږ لېږلي وه.
دلاور سر وخوځاوه. شاه زمان له سګرېټ څخه دوه پرله پسې کشه وکړل. په زينه حويلۍ ته وخوت. دلاور بېرته وړوکي سپين دسترخان ته تاو شو . د شوروا له کاسې يې مړۍ وهلې. شېبه په شېبه يې په نارضايتۍ سر ښنده. شاه زمان بېرته راغی. دوه غټ غټ چاقوان يې په لاس کې وو . يو يې دلاور ته ونيو . هغه لاس اوږد نه کړ. ويې پوښتل:
– څه پې وکمه څه؟
شاه زمان ټېغې سترګې برګې کړې:
– ته دا واخله ای! څونه وېرېږې.
دلاور دا ځل لاس کړ. شاه زمان وويل:
– دا وار سستي ونکې! سست خلک په تاريخ کې ناکامه وي.
دلاور مړۍ تېره کړه. ويې ويل:
– ای! که کريم لالا پوی شي پوی؟
– په څه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د غلام ټلیفون ورسره دی کنه. نن تا ورته څو نه زنګونه وهلي زنګونه.
شاه زمان چورتي شو. ویې ویل:
– نه، دې ته به یې څه پام شي؟
– که شي؟
– او ته پیشکې مه راخوشې کوه ورک شه! پام دې یې شي، نو څه؟ زنګ وهل خو دا مانا نلري. د سې کوو، زه به یې په خبرو کې ګیر کمه. ته یې په دا تشي کې چاقو ننباسه!
دلاور برندې برندې کتلې. شاه زمان سګرېټ کش کړ. لوګی یې په مخ راغی. ټېغې سترګې یې تنګې شوې. لوګی د کوټې د چت تر وراسته دستکه ورسېد. هلته ورک شو. دی تر دېواله لاړ. بېرته راوګرځېد. په لاس کې ساعت ته یې وکتل. ویې ویل:
– لږ ناوخته ځو. چې کریم لالا ام کور کې وي. چې دواړه ختم کو.
ooooooooo
کریم سترګې وغړولې. نیم مخ او ټټر یې په اوبو کې و. پاڅېد. ختې یې له مخه و مینځلې. تشی یې وسوزېد. لمن یې جګه کړه. له مرمیو ډک جېبونه یې وشرنګېدل. زخم یې وکوت. وینه بنده وه. ډارېده چې وینه دننه نس ته تللې نه وي. که نه نو ولې یې زړه تښتي؟ هغه پاڅېد چې لاړ شي. په باغچه کې د پښو دربهار شو. یوه ډله حربکیان راورسېدل. غټ غبرګ مشر یې د غوړو څڼو له منځه کله کریم کله د غلام او بختیار جسدونو ته کتل. خپلو کسانو ته یې امر وکړ:
– ویې نیسئ!
د کریم لاس ولړزید. غو ښتل یې تومانچې راواخلي. خو مطمئن نه و چې مرمۍ پکې شته. دوو تنو په هغه ټوپک ونیو. د کریم غږ ووت:
– څه مې کړي کنه نو؟
مشر له سر تا وولو سره څڼې واچولې. ویې ویل:
– تا لا څه ندي کړي صایبه. دا زموږ کسان دې وژلي. دا ایڅ ندي صایبه؟
د کریم سترګې بیا له تعجبه راووتلې. نرۍ شونډې یې ورپېدلې:
– دا ستاسې کسان دي؟
مشر په ګوابس سر وخوځاوه. ویې ویل:
– هو صایبه هو. د دوښمن په منځ کې یې کار کاوه. دا وایه چې تاسې څنګه وپېژندله؟
کریم هک پک و. مشر د ټوپک قنداق په خېټه کې ورکړ. د کریم کولمې له درده تاوې شوې. کېناست. مشر وویل:
– وایه وایه! په موږ کې څوک ستاسې جاسوس دی؟
د کریم په خاورو ککړه شناوۍ رېبره ورپېدله:
– زه د ایچا سره نه یمه کنه نو.
خدای خدای یې کول چې تومانچې ورسره ونه ویني. مشر بل قنداق د چپې پښې په زنګون کې ورکړ. ترک شو. کریم له چیغې سره په ناستو په ښي پښه وڅرخېد. هماغسې درد یې احساس کړ لکه اول ځل چې ماته شوې وه. مشر چیغه کړه:
– موږ دې پېژنو ګوډا. اصلي مردار ته یې. کلي کې الکان تا زموږ په ضد لمسول. پوی شوې؟ څو دیقې مخکې د دوښمن مرکز کې لیدل شوی یې صایبه. وایه زموږ د رازونو نه څنګه خبرېږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم په غریو نیولي غږ وویل:

– نه کنه نو. زه یې بندي کړی ومه. اغوئ ام وایي...

مشر په سپېره داسې کلک وواهه چې کریم په ځمکه ولوېد. یوه شېبه یې ګنګس کتل. غوږونو یې بنګس کاوه. مشر لګیا و. ګوته یې څنډله. ده خبرې سمې نه اورېدلې. وروسته یې غوږونه ورو ورو خلاص شوه. مشر یو تن ته امر وکړ:

– وله یې!

وسله وال کس ټوپک ور واړاوه. د کریم سر بیا ګنګس شو. کوږ کېناست. سا یې بنده بنده شوه. سترګې یې ټېغې ټېغې او ښتې وې. ستوني یې له سا اخېستلو سره غړس کاوه. لاس یې جګ کړ. ویې ویل:

– وایمه، وایمه. هرڅه وایمه کنه نو.

مشر خپل کس ته د صبر کولو اشاره وکړه. یو قدم وړاندې راغی. سر ته یې ټکان ورکړ:

– وایه وایه صاییبه!

کریم د تندي خولې په ورغوي پاکې کړې. په روغه پښه یې زور کړ، پاڅېد. شناوي ږیره یې ورپېدله:

– ما سره د جنګ نقشه ده.

– کومه ده؟

– په مغزو کې ده.

– وایه وایه!

– قلم او کاغذ غواړي کنه نو.

مشر یوه شېبه قهرجن کتل. د مخابرې شور جګ شو. تڼۍ یې ووهله. ویې ویل:

– قوماندان صیب سرور خانه اورې؟

له هغې خوا غږ شو:

– الکه چېرته ورک یې؟ ولې ترا وسه نه یې رسېدلی؟ بسم الله ګی کومک ته ضرورت لري.

ده په خوشحالۍ خبر ورکړ:

– ما اصلي کس نیولی دی. پوی شوې؟

– څوک دی؟

– اوس یې درلېږمه. خپله به یې وګورې. د دوښمن د جنګ نقشه ورسره ده. پوی شوې؟

– سمه ده. د بسم الله ګي چیغې وختلې. په یوه سا کنځا کوي. ته ځان زر رسوه!

مخابره بنده شوه. مشر د بډوهلو پایڅو ځوان ته امر وکړ:

– دا بابا کلا ته بوځه! که یې دروغ ویلي وه خپله یې وله! پوی شوې؟ جواب یې زه وایمه.

کریم یې مخ ته کړ. هغه په یوه پښه په باغچه کې ټوپونه وهل. د زړه زور یې بېخي کم شوی و. ځوان وویل:

– سم ځه نازولیه! وخت مه تېروه! که نه خو وادې ورېدل. امدلته دې سوړ غور ځومه.

کریم د شونډو په کېکاږلو او د غاښونو په چیچلو د پښې درد زغمه. ویې ویل:

– په چپه پښه زور نشمه کولی. لکه چې بیا ماته شوه کنه نو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ د لنډی، ویالې په غاړه روان وو. کریم چورت واهه چې څنګه ځان خلاص کړي. کلیوال هم په مخه نه ورتلل چې مرسته وغواړي. هغه ودرېد. ویې ویل:

– ای! تاسې خبر نه یئ. دا ورونو دواړو خواوو ته کار کاوه کنه نو.

– په پاکو شهیدانو تومت وایې؟

د کریم سا سوزېدله. ویې ویل:

– په خدای او رسول.

– ته څه پوی شوې؟

– خو اغوئ ام په امدې ګونا نیولی ومه کنه نو.

ځوان کټ کټ وخندل. ویې ویل:

– ښه کیسه دې جوړه کړه.

– نه، دې ته حیران یمه چې زه یې ولې وژلمه؟

ځوان بیا وخندل. د ټوپک په خوله یې ټېلواهه:

– څه چې کیسې به دې دلته خلاصې شي. الته به څه وایې؟

کریم په یوه پښه ټوپونه ووهل. دا ځل یې په جېب کې د مرمیو شرنګي ته د ځوان پام شو. ویې پوښتل:

– دا څه دي؟

د کریم هم پام واوښت. په یو جېب کې یې پیسې وې. ودرېد. ویې ویل:

– ای وروره! زما بندي کولو کې تا ته څه ګټه ده؟

ځوان ځواب ورکړ:

– یو دوښمن به کم شي.

– زه دوښمن نه یمه کنه نو. او که خوشې مې کې تا ته ګټه شته.

ځوان ور ځیر شو. د کریم د ننوتې خولې نرۍ شونډې بیا ورپېدلې:

– زه به پیسې درکمه. شل زره. برابر موټرسکېل پې کېږي.

ځوان په ملنډو په سرمو کې وپشېد. د کریم غږ بیا ووت:

– زه به وتښتمه. ته به هوایي ډزې وکې. که چا څه ویلې وایه دوښمن لاره نیولې وه. ایله مې ځان وباسه.

ځوان یې غټې څېرې ته کاږه وکتل. ویې ویل:

– په تا څه ایتبار دی؟ او کیسې کول دې ام خوښېږي.

کریم پیسې راواېستلې. په ورغوي کې یې ورکېښودلې:

– زه دونه کمقله نه یمه کنه نو. د نیکي قدر راسره شته.

ځوان شا واړوله. پیسې یې وشمېرلې. شررناکه موسکا یې په شونډو وځغلېدله. تېز راوګرځېد چې ضربه یې کړي. کریم نه و. هغه د بلې کوځې د دېوال په اوږدو په یوه پښه ټوپونه وهل. له کونجه تاو شو. شاته یې وکتل. وسله وال ځوان نه ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټلېفون یې را واېست. شاه زمان ته یې زنګ وواهه. هغه دده کور ته په لاره کې و. کریم په قهر شو چې ولې ترا وسه رسېدلی نه دی. ټلېفون یې ورباندې بند کړ.

∞∞∞∞∞

د ټوپکو ډزې بیا داسې وې چې تا به ویل آسمان غرمبېږي. فرق دومره و چې آسمان کله کله دمه کوي. کریم په پښه کشولو په کوټه ننوت. وسیمې او هاجرې ورمنډه کړه. ګاونډۍ ښځې شاته وکتل. موسکۍ شوه. ګوتې یې روماتېزم کړې کړې وې. خلکو شوټکۍ بلله. لوند دسمال یې په کړه منګوله د نازیې له تندي لېرې کړ. تېزه ووتله. کریم یوه شېبه دېوال ته تکیه ولاړ و. نازیې ته یې کتل. هغې سر جګ کړ. دده د خوشحالۍ اوښکې وبهېدلې. له خولې یې ووتل:

– ته تر اوسه ژوندی...؟ میرحمزه به...

د نازیې غږ له زګېروي سره ووت:

– وۍ اوس ام کله کله خوځېږي.

کریم د بې وسۍ سلګۍ ووهلې. نازیې غږ کړ:

– ته چېرته وې؟

کریم دوه تومانچې او موبایل ور وښودل. نازیې په ډک ستوني وویل:

– وۍ وخت دې ډېر تېر که.

کریم سر وخوځاوه. سترګې یې جال جال شوې. دېوال ته تکیه کېناست. د ښځې یې په وینو سور تشي ته پام شو. په ګرد مخ کې یې ورې سترګې غټې غټې راووتلې. چیغه یې کړه:

– وۍ وۍ وۍ! ته لګېدلی یې؟

د جګېدو هڅه یې وکړه. په سختۍ کېناستله. کریم لمنه پورته کړه. تشي یې وکوت. د غلام څادر په وینو تک سور و. ویې ویل:

– پسته ده. وینه ولاړه ده. د پښې نه خلاص شو مه کنه نو.

نازیې یې غځېدلې پښې ته وکتل. د کریم زړه تښتېده. لمنه یې خوشې کړه. ویې ویل:

– که تللی شې ماته مه ګوره ځه! لاره خوشې ده. د جبې د پله.

– وۍ الا پښې زما ندي. زه کله بې تا چېرته تللې یمه؟ ته مې بوځه!

کریم سر وڅنډه. نازیه دېوال ته تکیه تکیه کونج ته لاړه. واسلین یې له ورې الماری راوړ. څنګ ته یې کېناستله. پایڅه یې ورجګه کړه. واسلین یې په زنګون وسولاوه. کریم له ډېره درده وسونګېد. نازیې سولول نرم کړل. په دسمال یې وتاړه. ویې ویل:

– پاڅېږه چې ځو!

د کریم په سترګو تیاره شوه. اوږد وغځېد. رنګ یې تک سپین واوښت. نازیې د «ولې؟ ولې؟» چیغې وهلې. نجونې هم په ژړا شوې. کریم بېرته سر را جګ کړ. ویې ویل:

– لږې اوبه راکئ کنه نو!

هاجرې په دالان کې د منګیو ځای ته منډه کړه. په ورې برنډه کې باندې کودرې پراته وو. یوازې یو منګی روغ ولاړ و. حلبي ګیلاس یې ډک کړ. دننه نازیې د کریم په تندي لاس کېښود. په ګرد مخ کې یې ډبلې شونډې ورپېدلې:

– وۍ الا، ته مه سمله! پاڅې! د میرحمزه غمه وخوره!

کریم سلګۍ ووهلې. عمیقه سا یې واخېستله. له اوبو یې غړپ وکړ. زړه یې لږ بېداره شو. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– شازمان او دلاور ته مې ویلي چې تا بوځي. چېرته ورک دي، دا خره؟

نازیې دېوال ته تکیه وکړه. کریم غوښتل شاه زمان ته زنګ ووهي. د غلام ټلیفون یې په لاس کې و. د روښانولو تڼۍ یې ووهله. په سر کې شمېره راغله. د شاه زمان وه. ده ته اشنا ښکاره شوه. خو ویې نه پېژندله. هرڅومره یې چورت وواهه د شاه زمان شمېره یې په یاده نه شوه. دا موبایل یې کېښود. د نازیې ټلیفون یې له جېبه واېست. د شاه زمان نوم یې پیدا کړ. وربانديې په قهر شو. هغه وویل اوس درځو. دده پوښتنه یې کوله چې چېرته دی؟ ده له قهره ځواب ورنه کړ. طیاره د کور په سر وبنګېدله. کریم کړکۍ ته وکتل. ورسره سم درز شو. نجونې په چیغه کېناستلې. د کریم له لاسه ټلیفون ولوېد. دېوالونه لاړل راغلل. له چته خاورې تویې شوې. نازیې اخ کړ. خېټه یې ونیوله. له درده یې زګېروي وکړل. لاسونه یې شا ته په ځمکه ولګول. خېټه یې مخته کړه چې فشار وربانديې کم شي. کریم د پاڅېدو هڅه وکړه. کوږ ودرېد. ویې ویل:

– د نوي کور تاکاوۍ ته ځو. اغه ځای کلک دی.

نازیه په څلورو شوه. دېوال ته یې لاس تکیه کړ. په سختۍ پاڅېدله. کریم په ښي پښه د ټوپونو وهلو هڅه وکړه. زړه یې زور نه اخېست. نازیې لاس ورکړ. هاجرې د کریم او وسیمې د نازیې بل لاس ونیو. څلور واړه ورو ورو دالان ته ووتل. د چاودنې له امله د حویلۍ دپاسه دوړه خوره وه.

ooooooooo

په وطن چوک کې ترافیک لارې درولې وه. ویل یې د ورځې له خوا غټو موټرو ته د ګرځېدو اجازه نه شته. څښور کلینر په جینګه خوله زارۍ کولې. ډرېور راکېوت. د برېتونو لکۍ یې د زنې تر سره رسېدله. سمدلاسه یې جېب ته لاس کړ. پیسې یې د ترافیک په موټي ومنډلې. هغه د پیسو مقدار ته وکتل. شا یې واړوله روان شو. ډرېور وبنګېد «ټول ایمان یې امدا و» لږ وړاندې کراچۍ والا ځوان تېز تېز په کڅوړه کې رومیان اچول. خېټور مشتري نه پرېښود چې خوسا پکې تېر کړي. تور لنډ کروزر په ګڼه ګوڼه کې راتاو شو. شاته یې له پیک آپ موټر څخه وسله وال تن ځمکې ته ټوپ کړ. د کراچۍ په خاوند برګ شو:

– ړوند یې؟ د میدان لاره دې بنده کړې ده بوتله!

ځوان سر وڅنډه. د رومیانو کراچۍ یې ټېلوهله. دواړو موټرو په میدان کې بریک ونیو. نرۍ دوړه یې په ډنګر عینکي سړي ورغله. هغه لاسونه په وارخطایۍ جګ کړل. دوه قدمه شاته لاړ، چې موټر یې ونه وهي. ساتونکي شاوخوا ودرېدل. د پیک آپ له سیټ څخه دوه تنه ځوانان کېوتل. د ښویه او هوښیارې څېرې خاوند د لنډکروزر څنګ ته په درناوي ودرېد. د دېو په شان غټ ځوان دروازه کشه کړه. حاجي رسول په آرامه کېوت. له عینکي سړي سره تر روغبړ وروسته یې نظر په میدان وځغلاوه. ډېر نور موټر هم ولاړ وو. مخ یې بېرته راوګرځاوه. ویې پوښتل:

– اینجینر صیب! دلته څنګه مارکېټ جوړېږي قوربان؟

ډنګر عینکي انجینر وویل:

– شاته برخه کې؟

– نه قوربان، په دا ټوله ځمکه کې.

– ښه، دا مو ام واخېستله اجي صیب؟

– امداسې یې وبوله قوربان. د قرض په بدل کې یې راکوي.

انجینر موسکی شو. سترګې یې په ټوله ځمکه وګرځولې. ویې ویل:

– هر ډول چې وغواړې امغسې مارکېټ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د صرافۍ مارکېټ؟

– کېږي.

– ته پې کار شرو که قوربان!

انجینر سر وښنده:

– اول قواله جوړه که اجي صیب.

– داسې وبوله چې جوړه ده.

انجینر وویل:

– زه وایمه چې کار پاک وي.

– غم مکوه قوربان.

وړوکی سوزوکي راغی چې په میدان کې ودرېږي. غټ ځوان یو ساتونکي ته اشاره وکړه. هغه موټر ته نژدې ورغی. برګ شو:

– دلته ایجازه نشته.

موټروان وویل:

– پینځه دیقې یې درومه، بېرته وځمه.

– ایجازه نشته. کوڼ یې؟

موټر مخ وګرځاوه. حاجي غټ ځوان ته وویل:

– ټول خبر که چې نور دلته موټران نه دروي. او دا کراچۍ ایسته وغور ځوئ!

ځوان خپلو کسانو ته د سر اشاره وکړه. هغوئ روان شول. د انجینر غږ جګ شو:

– اجي صیب! زه خبر یمه د مارکېټ امر دې امندی اخېستی.

– اخیستی یې وبوله قوربان. زه یو ازې نقشه نه غواړمه، تعمیر ام راته جیګ که!

په انجینر دا خبره ښه ولګېدله. موسکی موسکی کېده. حاجي د ښویه او هوښیارې څېرې ځوان ته ګوته ونیوله:

– الکه جان مامده! یو څه پیشکې ورکه!

جان محمد په آرامه موټر ته روان شو. له بېرته راتګ سره یې دوه بستې زرګوني د انجینر په ورغوي کېښودلې. هغه ژر په جېب ومنډلې. د سرک په لوري یې وکتل چې چا خو ونه لید. په موسکا یې وویل:

– ما ددې دپاره نه ویلې...

حاجي یې خبرې پرې کړې:

– بله افته باید تاداب اېستل شرو شي قوربان! بې غمه کار کوه! څوک درته کړې نشي کتلی.

انجینر سر وخوځاوه. حاجي دواړه ځوانان له ځان سره لنډکروزر ته وخېژول. موټر په عمومي جاده وګرځېد. حاجي رسول وویل:

– چې موږ کار پیل کو او لوحه ولګوو، بیانو ښاروال ببرک ته امر نه ورکوي. یو مارکېټ شته، بل ته څه ضرورت؟

ځوانان موسکي شول. حاجي ژوره سا واخېستله. تکې سرې شونډې یې ورپېدلې:

– تر ټولو لویه کمقلي د غریب سړي ضد دی قوربان. کریم اوستاذ یادومه. ښه څه ګټه؟ خوار شې ګوډا! ځان دې تبا که.

جان محمد او غټ ځوان سرونه وخوځول. حاجي ډرېور ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زرین کلا ته ځو قوربان.

ooooooooooo

شاه زمان په لاره تېز تېز ګامونه اخېستل. غابښونه یې چیچل. دلاور ترې یو قدم هم شاته نه پاتې کېده. دواړو په لاسونو کې چړې کلکې نیولې وې. کوځې تشې او اکثره کورونه چپه وو. د یو کور مخې ته د توت غټه ونه سمه نیمه په ځمکه پرته وه. دواړه د غټې شاخ لاندې تېر شول. شاه زمان وویل:

– دې بوډۍ راباندې ناوخته که!

دلاور د چړې په څوکه د لاس څټ وګراوه. غږ یې کړ:

– ترور ده کنه. نو په چا یې غږ کړی وای په چا؟

– رنګ یې ورک که! مور کار لرو. دا وایي اله اور مرګئ! اله اور مرګئ! بچي یې ټول وتي دي. دا ناسته ده. کور ساتي. ګور دې شه! اغه مرمۍ ام نه پې برابرېږي. که خدای مو تې بې غمه کي.

– د ثواب کار و د ثواب!

– غلی ورک شه! مور خپله څه حال کې یو؟ وبه دې ګورمه چې الته څه کوي؟

دلاور په غټې مخ لاس تېر کړ. رنګ یې تښتېدلی و. سترګې یې تاوېدلې راتاوېدلې. ویې ویل:

– که دا وار مې ماشین بور شو زما نور بس دی بس. دا لاین پرېدمه.

شاه زمان ودرېد. له سګرېټ څخه یې کش وکړ. په خپل برابر غږ یې وویل:

– بچي به دې خاورې خوري؟

دلاور تګ ته دوام ورکړ. غټه زنه یې وخوځېدله:

– خدای مېربانه دی. که ایغ کار نه و د شامامد کاکا بچیانو سره به میستریخانه کې شریک شمه شریک.

شاه زمان هم ورپسې پښه تېزه کړه. ویې ویل:

– اغه لېوني دي چې تا سره خپله ګټه نیمه کي؟

– سوال به وکمه. نور توبه!

– پزه به راپرې کې کمقله! غوږ ونیسه! دسې به وکو، د میرګل غوندې به د اجي سره شو. خدای مېربانه دی چې مور نه ام غټ کاروباریان جوړ شي. نه وایي چې اوسې په خوئ به د اغو سې. ماته دا تاریخي چانس ښکاري. او تاریخ ګوره سړي ته یو ځل چانس ورکوي.

– نه نه، دا بدل موبلاین دي. په نیمه لاره کې دې پرېدې نیمه لاره کې.

– غلی ورک شه! یو خو تا سمې خبرې زده نکړې. لکه مستریخانه کې چې ناست یې.

– ته دې ام د تاریخ مالېمې پرېده!

شاه زمان یې د خولې پیښې وکړې:

– د توریخ مولیمې پرېده! ښه کومه کنه. تا غوندې اپرې دوپرې نه وایمه. دې ته علمي بحث وایي. ای کمقله! وادې نه ورېدل میرګل څه ویلې؟ ام تنخا ورکوي، ام اخوا دېخوا کار کېږي.

– زه پوېږمه اخوا دېخوا یې څه ته ویلې څه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه ته یې ویلې؟ مدا پیسې پیدا شي. ته وایې ټول خلک حلاله ګټي؟ دروغ. ما په تاریخ کې څوک ندي لیدلي چې په حلاله پیسه داره شي.
دلاور مخ بلې خواته واړاوه. ویې ویل:
– داسې ام نده نو. چې ځان ګوري جهان ګوري.
– داسې نده؟ تا په مستري توب کې د موټرو پرزې نه پټولې؟ د لسو روپو کار دې په دوه سوه نه کوه؟ څه فرق کوي؟ که په زوره دې چانه واخېستلې که په چل؟
دلاور په جېب لاس وماننه بېرته یې تش راواېست. ویې ویل:
– کومه دی؟ پیسه داره خو نشومه پیسه داره.
– پیسه داری ته یوازې پیسې شکول بس ندي، عقل ام غواړي. تا کې اغه نشته.
دلاور بیا مخ واړاوه. شاه زمان سګرېټ کش کړ. لوګی یې په خوله کې ورک شو. بل کش یې وکړ. ټول لوګی یې په یو ځل واېست. په رنګ کور ننوت. ویې ویل:
– کوڅې نه دا لاره ښه ده. څوک په مخه رانشي. دسې لنډه ام ده.
دلاور پکې نظر نه درلود. ورپسې روان و. هغوئ له دوو کنډوالو تېر شول. شاه زمان بلې کوڅې ته تر داخلېدو مخکې لاس جګ کړ. دلاور ودرېد. هغه سر اوږد کړ. برې خواته رنګو دېوالونو کوڅه بنده کړې وه. خو څوک نه ښکارېده. کوزې خواته روان شو. سګرېټ یې ګوتې وسوزولې. بل یې ورسره کنکشن کړ. نیم سوخته یې تر توري ننګرهاری څپلی لاندې وسولاوه. له نوي څخه یې څو پرله پسې کشه وکړل. ستر ګو ته یې جګ کړ. مطمئن شو چې ښه لګېدلی دی. ویې ویل:
– هاجراو وسیمه به راته ګوري. چې لاس دې ونه لړزېږي ګوره!
دلاور په سږمو کې وپشېد. شاه زمان وویل:
– پش پش مه کوه! دا څه چې دونیا کې ګورې، د ټولو ژوند د بل په مرګ کې دی. خدای تالا امداسې پیدا کړې. پوی شوې؟ ځناور وګوره! که د غوا سره شرافت وکي د ولږې مري کنه.
دلاور غټ مخ ور واړاوه. زنه یې وخوځېده:
– ملا صیب وایي اینسان او ځناور فرق لري. اغه د ځان دپاره بل جاروي. مګر اینسان د بل دپاره ځان. اضرت ابراهیم الی سلام چې اسمایل...
شاه زمان برګ شو:
– غلی ورک شه! ته جنګ ته روان یې که تبلیغ ته؟
دلاور له ډاره لېرې شو. شاه زمان وویل:
– ته په څه خبر یې؟ تاریخ ما لوستی که تا؟ دا اوسني خلک چې ګرځي ته وایې د سرپیتوب د وجې ژوندي دي؟ نه نه. ددوئ نیکونو نور وژلي چې خپله ژوندي پاتې شي. پوی شوې؟
دلاور سر وخوځاوه. ویې ویل:
– تاریخ ما ام ویلی. ستا یوازې جنګونه په یاد دي. اغه نورې خبرې دې هېرې دي هېرې.
غبرګ ځوان نابېره د دوئ مخه بنده کړه. سپینه چینه یې په تن وه. دواړو شټوهل. هغه غټ ټلېفون وراندې کړ. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وغړېږه!

شاه زمان زړه نازړه غوږ ته ونیو. حاجي رسول د لنډکروزر په شاته سیټ کې د دوو ځوانانو په منځ کې ناست و. تکه سپینه ګردي ږیره یې وخوځېدله:

– دا وسلې واخله قوربان! په کارې به دې شي.

غبرګ ځوان دلاور ته دوه ماشینګنې او دوه تومانچې په لاس ورکړې. شاه زمان د هوسایۍ سا واخېستله. ویې ویل:

– اوح، اجي صیب ته یې؟ خیر ویسې! ما ویلې...

تور لنډ کروزر له دوو پیک آپو سره زرین کلا ته تېز روان و. حاجي رسول د شازمان خبرې پرې کړې:

– چې کار وشو خپله به یې ببرته جبار ته ورکې قوربان!

– سمه ده.

– که کار ونشو موږ به یې درنه واخلو قوربان.

د شاه زمان سر جیټکه وکړه. پوهېده چې هدف یې د دوئ وژل وو. شونډې یې وخوځېدې:

– غم مه کوه اجي صیب! اسې به خدای نه کوي. اوس سل په سلو کې کار کېږي.

حاجي ټلیفون بند کړ. دلته امبولانس د کوڅې سر ته راغی. غبرګ ځوان ور وخوت. موټر پناه شو. دلاور په وازه خوله وویل:

– موږ یې څنګه پیدا کړو څنګه؟

شاه زمان تومانچه او چاړه د نصواري جامو په جېب ومنډلې. غږ یې ووت:

– پېریان ام اجي ته کار کوي.

دواړو ماشینګنې اوږو ته واچولې. شاه زمان وویل:

– اوس ښه کار شو. چړې نه په کارېږي. ای پدې دې ډزې کړي؟

دلاور سر وښنډه:

– نه، ډزې نو څه سختي لري؟ د وژلو کار دی. افغانان یې د مور په نس کې یادوي د مور په نس کې.

ترخه موسکا یې وکړه. شاه زمان د سګرېټ د کشولو په ترخ کې تېرې ور وکتلې. ویې ویل:

– ته وښیه! یویو ډز څنګه کېږي او ضربه څنګه کېږي؟

دلاور ماشینګنه واړوله راواړوله. په شاجور یې یوې او بلې خوا ته زورونه ووهل. شاه زمان یې لاس ټېلواهه. په غټه ګوته یې نرۍ او سپنې ته اشاره وکړه. ویې ویل:

– دا ګوره! اوس یو یو ډز کوي.

هغه په اوسپنه فشار راوړ. وښوېیدله. په بله درجه کې ودرېدله:

– اح! اوس ضربه کوي.

دلاور وپوښتل:

– امدا دوه ګېره لري دوه ګېره؟

شاه زمان له قهره آسمان ته وکتل. ویې ویل:

– څادر پې راکش که کمقله، چې طیاره دې ونه ولي!

oooooooooo

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاکاوۍ چت او دېوالونو درزونه کړي وو. د هر راکټ له ډز سره به وغرچېدل. نجونې د ستنې څنګ ته ولاړې وې. رنګ يې الوتی او د ټيکري څنډې يې ژوولې. شپه په شپه يې زينې ته کتل. داسې برېښېده چې د خپلو پلرونو راتللو ته منتظرې وې. ډارېدلې چې تر هغو پورې يې په کاکا څه ونه شي. کريم اوږد پروت و. يوازې خېټه يې له سا اخيستلو سره جګېدله او ټيټېدله.

نازيه يې څنګ ته غځېدلې پښې ناسته وه. له ډېره درده يې مخ اسمان ته واړاوه او چيغه يې کړه:

– وی الاح!

کريم ورپېږدېد. ورو يې سر جګ کړ. له خولې يې ووتل:

– شازمان او دلاور ندي راغلي؟

نازيې بيا چيغه کړه:

– وی الا مړه شومه ح.

کريم کاږه ور وکتل. اوښکې يې وڅڅېدلې. په پټو سترګو له ځان سره وبنګېد:

– خلک حرام خوري. قتلونه کوي. بې ناموسي رسوي. نه يې خدای وهي نه بنده کنه نو. ما د چا يوه روپۍ نده خوړلې... خلکو لا زما خوړلي... دا ولې؟

وسيمه او هاجره وسونګېدلې. نازيه هم اوږده پرېوتله. له زور وهلو سره يې زګېروي کول. لاس يې د کريم په مخ کېښود. په هغه يې پوست ورغوی ښه ولګېد. مخ يې ورپسې کلک ونيو. ږيره يې وخوځېدله:

– ای نازيې! ته خو وينې. ما کوشش ډېر وکه کنه نو. بخت مې بدل نشو. دا دی اغه وګټله. ما بايلوله.

نازيې سر وخوځاوه چې مه ژاړه. د کريم نرۍ شونډې ورپېدلې:

– ما ورسره زور واهه. اغه ويلې ته ودرې، داسې سرچپه کانې درباندې وکمه. اغه دی ويې کړې. لارې يې بندې کړې، روغه ورځ يې راباندې سرچپه کړه. که د اوله مې غاړه ايښې وه دونه به يې نه ځورولمه.

نازيې هم سلګۍ ووهلې. کريم وويل:

– اولاد يې راته په خېټه کې سرچپه که کنه نو.

دواړو يوه شېبه غلي غلي وژړل. وروسته کريم ژوره سا واخېستله. دا ځل يې په ستوني کې ډوب غږ ووت:

– زما د لاسه په کليوالو ام دونيا سرچپه شوه.

هغه مخ نازيې ته واړاوه. ويې ويل:

– خدای شته، ما داسې ورځ نه غوښتله. خدای خو د زړه نه خبر دی. ما الکان د نېک کار دپاره ټولول کنه نو.

نازيې هماغسې سلګۍ وهلې. د کريم نرۍ شونډې ورپېدلې:

– ما ويلې چرسيان، پوډريان، بېلماځان به ورک شي. اغه لا خرابه شوه کنه نو.

نازيې په سر لاس ورتېر کړ. په سلګيو کې وپسېدله:

– وی خدايه! زه پوهېږمه. تا د کليوالو خير غوښته.

– نو ولې سرچپه شوه؟ ولې؟ ولې کنه نو؟

نازيې ور وکتل. مړاوې سترګې يې پټې کړې. سر يې په ځمکه کېښود. اوښکې يې د سترګو له کونجه د غوږو خواته وکولېدلې. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– تاته ځان ټولو نه اوښيار ښکارېده. ځکه.

کريم له سا اخېستلو سره د سلګيو جيټکې خوړلې. ويې ويل:

– نه نه...

– هو کنه. د چا خبره دې بېخي نه اورېدله.

کريم ته ورياد شوه چې د نازيې هره خبره به يې يا په ټوکو يا په قهر ردوله. ويې ويل:

– د صفاجان اغا خبره خو مې اورېدله. امغسې مې کول.

نازيې ور وکتل. تندی يې راټول شو. سپېرې شونډې يې ورپېدلې:

– يانې خپل بخت دې اغه ته په لاس ورکړی و. هر څه چې ورباندې کوي ودې کي.

– نه...

– وی، دا څوک دی؟ تا يې اېڅکله نوم ندی اخېستی.

کريم عميق نفس واخېست:

– زه يې ام سم نه پېژنمه. د هرڅه باره کې غږېده. مګر د ځان باره کې نه غږېده.

– کور يې چېرته دی؟

– ندی راته مالوم.

– وی، پېری به وي.

– نه، بزرګ غوندې ښکاري. ښار کې يې دېره ده.

– چې بزرګ دی ولې يې تاته خرابه لاره ښودله؟

– اغه ښې خبرې کولې.

– وی دا څه وايې؟ ښې خبرې خو اغه دي چې اخېره يې ښه وي. تا يې اخېر ته فيکر نه کاوه؟

– دا خو زه کمقل و مه کنه نو.

نازيه غلې شوه. بېرته يې سر کېښود. کريم وغځوله:

– ای! کمقل ته خدای جزا ورکوي؟ اغه خو نه پوهېږي. که پوهېدی خو اسې يې نه کول کنه نو.

نازيې جواب ورنه کړ. د هغې ټول بدن په خولو کې جپ او جوپ و. خوله يې وچرېپېدله. د پېړو شونډو سرونه يې سپېره وو. او به يې وغوښتې. کريم نجونو ته وکتل. د ستنې څنګ ته غونجې ناستې وې. زړه يې ونه شو چې په اوبو پسې يې ولېږي. ډارېده چې په حويلۍ کې په مرمۍ ونه لګېږي. خپله په سختۍ پاڅېد. په دېوال يې لاس لګاوه او په ښی پښه يې ټوپ کاوه. خو زړه يې ورسره ټنبټېده. چېرته نږدې راکټ ولګېد. کور وجړکېد. له چته شګې تويې شوې. د کريم پښه هم په زينه وښوېېدله. دوه پلګيه وکولېد. بېرته پاڅېد. زنګون يې کلک ونيو. له خولې يې ووتل «اوووح، امممح» له درده يې مخ تک سور واوښت. تېزه تېزه سا يې واخېستله. روان شو. په دمه دمه يې په ښي پښه ټوپ واهه. په حويلۍ کې له شنې پردې تېر شو. د زاړه کور په دالان کې يې له يو ازيني روغ منګي ګيلاس ډک کړ. بېرته روان و چې ګاونډی ښځه ببر سر راغله. چيغې يې وهلې. په کريم يې شوټې منګولې خښې کړې:

– اله بچيان مې چت لاندې شوه! اله زرکوه خو! اله د خدای دپاره...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم یې کش کړ. هغه ولوېد. پښې یې بې اندازه درد وکړ. اوبه یې په ټټر چپه شوې. په بدن یې سړه څپه راغله. ګیلاس په ځمکه وکولېد. ښځې، لکه لېونۍ، په ملاستو کش کړ. هغه بېرته جګ شو. په یوه پښه یې ورسره منډه واخېستله. هلته د چت یو سر د پخوا په شان د دېوال د پاسه وو. خو بل سر یې د کوټې په منځ کې لګېده. له دننه د ماشومانو چیغې راتللې. کریم د ښځې په مرسته یو یو دستک په احتیاط لېرې کړ. لاره پیدا شوه. درېواړه ماشومان سپېره راووتل. ښځې بچي په غېږ کې کلک ونیول. په چیغو چیغو یې وژړل. په کریم د ضعف حمله راتله. سا یې سوزېدله. مخ یې ښځې ته کړ:

– لېونۍ! څه د پاره ناسته یې؟ ټول کلي وتي دي کنه نو.

د ښځې ایله اوس خپل لڅ سر ته پام شو. په ځمکه پروت ټیکری یې جګ کړ. ویې ویل:

– تاسې ام یئ خو.

– مونږ تللي نشو کنه نو.

– مېړه مې ایجازه نده کړې خو.

– اغه چېرته دی؟

ښځې اوږې واچولې. کریم وویل:

– اغه به راتللی نشي کنه نو. بچي باسه!

ښځه له ځایه ونه خوځېدله. د کریم زړه تښتېده. بېرته خپلې حویلۍ ته راغی. ګیلاس یې له ځمکې جګ کړ. شېبه پس په زینه تاکاوۍ ته کېوت. سر یې زنګېده. نازیې سترګې پرانېستلې. کریم ګیلاس ورکړ. هغې په سر واړاوه. کریم له درب سره اوږد وغځېد. نجونو ور منډه کړه. نازیې د پاڅېدو هڅه وکړه. ونه شوه. په ملاسته یې وپوښتل:

– وی، ولې؟ وه سړیه پاڅېږه! څه وشوه؟

کریم سر وڅنډه. په شونډو یې ژبه تېره کړه. ویې ویل:

– نه پوهېږمه. کله مې زړه وتښتي. نه څه اورمه، نه وینمه.

نازیې نجونو ته مخ کړ:

– اله اوبه راوړئ! وی سنګتیا مې دې شي! ما ولې وسکلې؟

هاجرې یې له لاسه ګیلاس واخېست. منډه یې کړه. خو د کریم په سترګو تیاره شوه. شواړ پرېوت.

∞∞∞∞∞

شاه زمان او دلاور د کوڅې په منځ کې د کریم د کور کونج ته ورسېدل. د دېوال له سره د راوتو انارو تویې شوې څانګې او پاڼې یې تر پښو لاندې شوې. شاوخوا یې وکتل. څوک نه لیدل کېده. شاه زمان د کریم لویه فلزي دروازه تر نظر تېره کړه. غوږ یې ونیو. ویې ویل:

– د چا غږ مړ نشته. بل ځای ته یې هجرت نه وي کړی.

– دزې دي کنه. زه ستا غږ سم نا اورمه ستا.

د لویې دروازې په څنډه کې د انسانانو دتګ راتګ لپاره وړه دروازه نیمکښه وه. دواړه هغې ته ودرېدل. شاه زمان غلې ټېلوهله. غنګس یې وخوت. زړې ودانۍ ته یې وکتل. وپسېد:

– یوه ښیښه یې ام نشته.

– راکېټ به لګېدلی وي راکېټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چپ شه! خدای دې نکي. وسیمه او هاجره ورسره دي.
دلاور برندې برندې وکتلې. شاه زمان ببرته ډاډ ورکړ:
– نه نه، خیرو خیریت دی. مخکې یې را سره خبرې وکړې.
په تاکاوۍ کې نازیې سریوې او بلې خواته زنګاوه. خېټه یې نیولې وه. زګېروي یې ختل. بیا به یې د کریم په مخ او به وشیندلې. وبه یې خوځاوه. په پای کې کریم سترګې وغړولې. نازیې ورته د خوشحالۍ او ښکې وڅڅولې. ګیلاس یې هاجرې ته ورکړ. کریم شاوخوا وکتل. ویې پوښتل:
– د شازمان او دلاور سره لاړه نه شوې؟
نازیه وغځېدله. ویې ویل:
– وۍ ح، ندي راغلي ح. وۍ ح، الله ح.
کریم لاسونه ولګول. د جګېدو هڅه یې وکړه. مګر زور یې ونه رسېد. ببرته پرېوت. ویې ویل:
– دا چېرته ورک دي؟ په سخته کې چې په کار نشي بیا یې څوک په بلا وهي کنه نو؟
سترګې یې نجونو ته واړولې. ویې ویل:
– دا ټلېفون راکه!
وسیمې له ځمکې څخه د غلام ټلېفون ورکړ. کریم وویل:
– آبل راکه!
هاجرې ګیلاس وړاندې کړ. کریم واخېست. ویې ویل:
– د نازیې ټلېفون یادومه. د شازمان شمېره مې په یاده نده کنه نو.
هاجرې او وسیمې د نازیې جېبونه لټول پیل کړل. کریم او به وڅښلې. زړه یې لا تازه شو. لاسونه یې ولګول، کېناست. خېټه یې وغورېدله. وږی و. وسیمې او هاجرې ته یې وکتل. هغوئ هم ټوله ورځ ډوډۍ نه وه خوړلې. خو غږ یې نه کاوه. ده چورت واهه چې په دسترخوان کې ډوډۍ پاتې وه که نه. په لاس کې یې د غلام ټلېفون اړاوه را اړاوه. پاس دواړه ورونه له زاړه کوره تېز راووتل. شاه زمان وویل:
– تللي دي.
دلاور لاس د نوي کور په لور وخوځاوه. دواړه لکه غله د ګوتو په سرونو ور وخوځېدل. له شنې پردې تېر شول. په نوې ودانۍ ننوتل. په تاکاوۍ کې غږونه وو. شاه زمان ورورته په خوښۍ وکتل. دلاور د تاکاوۍ د زینې په سر کې نارې کړې:
– کریم لالا! موږ راغلو، موږ راغلو.
چا ځواب ورنه کړ. هغوئ په زینه کېوتل. د تاکاوۍ په منځ کې یې لوښې ولیدلې. لکه دوئ ته چې منتظرې وي. خو کریم او نازیه نه ښکارېدل. دوئ پښنه تېزه کړه. شاه زمان خپل څادر د اوږې دپاسه ټول کړ. ماشینګنه یې ښکاره شوه. وسیمه یې په غېږ کې کلکه ونیوله. په مخ یې ښکل کړه. دلاور هم له هاجرې لاسونه تاو کړل. شکرونه یې واېستل. شاه زمان وپوښتل:
– کاکا دې څه شو لورې؟
وسیمه غلې وه. د کونج له وړې چاردېوالۍ غږ راغی:
– دلته یمه. ونه خوځېږئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کريم د چاردېوالۍ په خوله کې کوږ ولاړ و. د تومانچې شپېلۍ يې سيخ دوئ ته برابره وه. دلاور وويل:

– لالا! ولې؟ دا څه کوې دا؟

کريم سر وخوځاوه. سترګې يې ډکې وې. شناوۍ بېره يې ورپېدله:

– زه په ټوله خبره پوی يمه. تاسې غلام او بختيار زموږ وژلو پسې رالېږلي وو کنه نو. زه وايمه چې شازمان څنګه ديقه په ديقه زنګ وهي. زموږ د ځای پته يې اغوئ ته ورکوله.

– نه لالا نه، په خدای که...

کريم د غلام ټليفون ور وښود:

– په دې کې هر څه شته. شازمان ورته وايي چېرته يئ؟ کريم لالا او ورېندار مو څنګه کړه؟

د کريم سترګې پټېدلې. سر يې وځنډه. چې ځان بيداره وساتي. ويې ويل:

– ای ای! خبره خلاصه ده کنه نو. وسلې کېدئ!

دواړه ورونه يودم د خپلو لونو شاته کړوپ شول. شاه زمان غږ کړ:

– ډزونکې! ورېره دې لګېږي.

دلاور غبرګه کړه:

– دا دواړه خو په جنګ کې درپسې درغلي. دونه ورباندې ګران يې ګران.

کريم نارې کړې:

– بل څوک وغولوئ! ودرېږئ! ولمه مو. ودرېږئ کنه نو!

هغوئ په شاتګ زينې ته لاړل. نجونې يې له ځان سره کشولې. کريم د تومانچې نښه نيولې وه. له چاردېوالۍ راووت. خطايي ډز يې وکړ. نجونو چيغې کړې. نازيې په چاردېوالۍ کې له زګېروي سره ککره راپورته کړه. شاه زمان او دلاور لونې نه خوشې کولې. کريم په يوه پښه ټوپونه ووهل. سترګو يې سياهي کوله. همداسې په زينه ورپسې وخوت. دواړه ورونه په حويلۍ کې له شنې پردې تېر شول. کريم له نوې ودانۍ ونه وت. د دروازې له څنګه يې کتل. يودم ضربه شوه. دده څنګ ته مرمۍ ولګېدلې.

هغه ژر شاته شو. د دلاور غږ راغی:

– لالا! لالا!

کريم ځواب ور نه کړ. بيا بيا ضربې شوې. د نازيې زګېروي راتلل. کريم په اندېښنه د تاکاوۍ په لور مخ وګرځاوه. يودم پاڅېد. د کړکۍ نه يې څو ډزې د حويلۍ د دروازې په لور وکړې. بېرته کېناست. له هغې خوا هم د ماشيګڼې ضربې شوې. دا هاغه ورونه وو چې ده ورباندې مکتب ووايه. ودونه يې ورته وکړل. کريم سلګۍ ووهلې. په زړه کې يې وويل «بخته! چې نور دې راته څه کرلي دي؟» د مېرمنې زګېروی ورته د ځنکدن په څېر ښکاره شو. په يوه پښه يې تاکاوۍ ته منډه کړه. نازيه له چاردېوالۍ راوتې او په منځ ميدان کې پرته وه. ويې خوځوله. هغې سترګې خلاصې کړې. ويې ويل:

– وی ح، پرې مې ده ح!

کريم يې څنګ ته کېناست. په مخ يې لاس ورتېر کړ. نرۍ شونډې يې ورپېدلې:

– پاڅېږه کنه نو؟

نازيې اوږد زګېروی وکړ. سره پرېوتله. د کريم شونډې مرۍ مرۍ شوې. په ژړا کې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ای نازیې! ته مه مړه کېږه! میرحمزه درسره دی کنه نو.

هغې لکه چې نه اورېدل. کریم یې په مخ لاس کېښود. نرمه یې وخوځوله. ویې ویل:

– ای! امدونه وه؟ آ؟ دې دونیا کې زموږ برخه امدونه وه؟ ای نازیې! اورې؟ زه نه وایمه، مرې خو هر څوک مري. سخته اغه ده چې ارمانجن مړ شي کنه نو.

کریم عمیق تنفس وکړ. زړه یې سست شو. په څنګ کې یې پرېوت. د هغې په څنګله یې سر کېښود. سترګې یې پټې کړې. بیا یې په خاورو خړه ږیره وخوځېدله:

– په یاد دې دي؟ تا ویلې بله ښځه وکه چې بچی راوړي! زه په قار شومه. ما ویلې موږ ژوند یو ازې د اولاد د پاره کوو؟ ځان ته یې نه کوو؟ تا خو امزما دپاره ویلې. زړه خو دې نه وکنه نو.

هغه سترګې وغړولې. نازیې ته یې وکتل. هغې له اوږدو سلګیو سره اوږده زورونه وهل. کریم په دمه دمه دوام ورکړ:

– زه دې خفه کړمه. هو کنه نو. تا فیکر کاوه، چې، ماته ټولې ښځې یو شی دي؟ نه کنه نو. ته خو مې د واده نه مخکې ام خوښېدلې. د ځانه راته ګرانه وې، د ځانه. خیر دی، مه یې منه. هو، د خلکو خبرو، طانو کترو زما ټول پام اولاد ته اړولی و. زه ځورېدلمه. ځمکه راته سور اور شوې وه. ما لیدلې. ته ام راسره سوزېدلې. خو کومک مې نشو کولی. خدای منې؟ په امغه حال کې ام ته راته د ټولې دونیا نه ګرانه وې. ځکه مې بله ښځه ونکړه کنه نو. خو خدای شته چې میرحمزه دې په نس شو زه بدل شومه. نه پوېږمه ولې؟ ځان او جهان خو پرېده د تانه ام راته اغه ډېر ګران شو...

کریم سلګۍ ووهلې. سر یې دروند شو. سترګې یې پټې کړې. دباندې ډزې یې لږې لږې اورېدلې. وبنګېد:

– ای ګرانې! اغې دونیا کې خو به درپواړه یو ځای شو...

په سترګو یې تیاره او خبرې یې په ستوني کې ورکې شوې.

ooooooooo

دواړو ورونو د کنډو څنګ ته شا لګولې وه. په بامونو مرمۍ تېرېدې راتېرېدې. شاه زمان شېبه په شېبه د لاس ساعت سترګو ته جګاوه. نجونې د نړېدلي دېوال د ټوټو ترمنځ نورې هم ننوتلې. شاه زمان د کریم د کور دننه وکتل. دلاور وپسېد:

– ای! لالا او ورېندار خپله مري. موږ ته ضرورت ام نشته ضرورت.

شاه زمان مخ ور واړاوه. تېغې سترګې یې برګې کړې:

– ته به پاتې شې؟ پینځه بچې کېږي کنه.

دلاور په افسوس سر وخوځاوه. شاه زمان وویل:

– چې څنګه یې اویلې ته راوباسو؟

موبایل یې وترنګېده. د جبار زنګ و. په جړ غږ یې وویل:

– شازمان یې؟

– هو.

– یو سات وخت لرئ.

ټلیفون بند شو. د شاه زمان سا اخیستل تېز شول. تېغې سترګې یې بې واره څرخېدلې. یو مهال په نجونو تم شوې. دلاور یې حرکات څارل. هغه نجونو ته اشاره وکړه چې دلته راشئ. دواړه په منډه ورغلې. ده وویل:

– تاسې به یو تاریخي کار وکئ! کریم کاکا دې تاسې ته څه نه وایي. دننه لاړې شئ! اغه مړ کئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نجونو خولې وازې پاتې وې. دلاور یو دم ورتا و شو:
– دا څه وايې؟ د مغزو ویرینګ دې خراب شوی ویرینګ.
– او غلی! په تاریخ کې شازادګانو خپل پلرونه وژلي. دا خو کاکا دی.
دلاور سر وځنډه:
– نه نه...
شاه زمان په قهر ورتا و شو:
– چاره څه ده؟ که داسې ونکو یو سات پسته به موږ ام تاریخ شو.
– کېنه تاریخ شو تاریخ شو! زه مې خپله لور نه پرېدمه نه.
– په تا لکه چې مانه ډېره ګرانه ده.
د ننه کریم هما غسې د نازیې په څنګله سر ایښی و. سترګې یې پټې وې. هغې شهوهل. ژر ژر یې سا واخېستله. سترګې یې خلاصې کړې. غټه ګوته یې د مېږه په اننګي ووهله. غږ یې کړ:
– و سړیه ح! د میرحمزه پلاره ح!
کریم یو دم نېغ کېناست. له خولې یې ووتل:
–آ؟ نازیې! څه دې ویلې کنه نو؟ میرحمزه څه شو؟
د هغې سترګې پټې وې. په زور وهلو کې یې ډبلې شونډې ورپېدلې:
– ما ویلې ح... ته څه ح! ماته مه ګوره ح!
کریم یوه شېبه کتل. بیا یې خپل مخ په ورغوو کې ونیو. ویې ویل:
– ته راپورې خاندې؟
– نه کنه ح. زه خو مرمه ح، ته خو به ژوندی یې کنه ح.
د دلاور غږ راغی:
– کریم لالا! کریم لالا! وسیمه او هاجره درته یو څه وايي. ویې نه ولې!
د کریم سترګې مړاوې مړاوې کېدلې. د زینې په لوریې واړولې. وسیمه او هاجره پښنه نیولې روانې وې. لاسونه یې شاته وو.
کریم غږ کړ:
– تېزې راځئ کنه نو.
خو هغوئ له هر قدم سره په بل قدم فکر کاوه. کریم شاته په ستنه سر لګولی و. بیا یې غږ کړ:
– پام پام کنه نو! پښو ته ګورئ! ونه ولېږئ!
هغوئ هم پلګیو ته وکتل. په پای کې ورسېدلې. بدن یې رېږدېده. سا یې تېزه تېزه اخېستله. کریم لاس اوږد کړ. ویې ویل:
– راځئ کنه نو!
خو هغوئ نه نژدې کېدلې. دی په ناستو لږ ور وسکېده. یو دم د دواړو په لاسونو کې تومانچې پیدا شوې. د کریم سا بنده شوه.
هغوئ په ماشو زور واهه. دی په بیړه شاته وسکېده. ځان یې په نازیې واچاوه. هغه یې ټوله پټه کړه. ډزې شوې. مرمې یو ې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې خوا ته ولګېدلې. ده شا ته وکتل. نجونو زېړ رنګ نیولی و. تومانچې په ځمکه پرتې وې. کریم لاسونه په ستنه ولګول، پاڅېد. په ټوپونو ورغی. دواړه یې له مټو ونیولې. نجونو هېڅ نه ویل. یو قرار یې کاکا ته کتل. له باندې څخه د دلاور غږ راغی:

– هاجرې! وسیمې! هاجرې! هاجرې!

د نجونو سترګې هم ونه رپېدلې. بیا بیا غږ ونه شول. کریم په لوړ غږ ځواب ورکړ:

– ژوندۍ دي.

مخ یې نجونو ته واړاوه:

– تاسې زه وژلمه؟

یوې هم ځواب ونه وایه. کریم دواړه مخته ټېلوهلې. په خپلو ټیکریو یې په ستنې پسې وتړلې. د نازیې ټلیفون یې راواخیست. زنګ یې وواهه. ویې ویل:

– ای! خبیثه! اورې؟ پینځه دیقې وخت درکومه. لاسونه جګ کړ دننه راشئ! که رانغلئ کنه نو، لورګانې مو وژنمه.

د هاجرې او وسیمې چونګس پورته شو. شاه زمان وویل:

– نه نه، ته دا کار نکوې.

– ولې زه درته نر نه ښکارمه؟ تاسې یې ماسره کولی شئ، زه یې نشمه کولی؟

د شاه زمان سترګې راووتلې. غږ یې کړ:

– ای ای ای! داسې ونکې! په خدای چې ټوټه ټوټه دې کمه.

– ما سات قید که. لاس دې خلاص کنه نو.

شاه زمان نارې کړې:

– ته ودرې! ته غوږ ونیسه! په خدای او رسول...

ټلیفون بند شو. دلاور وارخطا و. دېوال ته پناه کوپ کوپ نژدې ورغی چې په هوایي مرمۍ ونه لګېږي. ویې پوښتل:

– څه وایي څه وایي؟

– وایي تسلیم شئ که نه هاجره او وسیمه وژنمه.

دلاور نیغ ودرېد:

– ما تاته وویلې چې مکوه! مکوه! په خدای چې په هاجرې څه وشي، زه بیا تاسره ګورمه.

شاه زمان مړاوی و. ویې ویل:

– دادی وګوره! مادرته نه ویلې؟ ورور دی او ورور دی. دا یې ورور. وړې ماصومې ورېرې یې دي. اغوئ څه ګونا کړې؟

هاخوا کریم په هاجرې او وسیمې تومانچه ونیوله. هغوئ کریکې وهلې. نازیې سر لېږ جګ کړ. ویې ویل:

– وی ح خوشې ح! مه کوه ح!

– ته ودرېږه چې پوی شي کنه نو. چې بد سړی کېدل اسانه دي. ښه سړیتوب سخت دی.

هلته دلاور د لور کریکې اورېدلې. وارخطا و. شاه زمان یې له لاسه کش کړ:

– راځه چې ورشو کنه! څه ته ناست یې څه ته؟

– مه کړتېږه ورک شه! چې لاړ شو خو ما او تا ام وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خیر دی. چې لورکۍ مې خوشې کې لورکۍ مې.

شاه زمان په آرامه وویل:

– لېونی کېږه مه! عقل نه کار واخله. ته داسې وکه! ننوځه! کوټې ته مه ځه! پرې چې اغه راووځي! امدا چې راووت زه یې ولمه.

دلاور وویل:

– ښه او ښیار یې. خپله نه ځې. ما لېږې ما. که ومې ولي؟

– نه کنه. چې دواړه نه یو یوازې تا ته څه نه وايي. ځه مه وېرېږه! زر کوه! پینځه دیقې پوره کېږي.

شاه زمان د دېوال له شاځخه ښه نیولې وه. دلاور ننوت. له پردې تېر شو. ټوپک یې دزو ته تیار نیولی و. غږ یې کړ:

– کریم لالا! چېرته یې؟

له هغې خوا ځواب راغی:

– تاکاوۍ ته راځئ!

دلاور شاه زمان ته وکتل. هغه اشاره وکړه چې لاړ نه شې. ده غږ کړ:

– نه، هر څه چې وایې په اویلۍ کې یې ووایه په اویلۍ کې!

– تاسې نه غواړۍ چې لورګانې مو ژوندۍ اوسي کنه نو.

د هاجرې او وسیمې د ژړا غږ جګ شو. دلاور وویل:

– مکوه مکوه! درځمه.

ورو ورو وړاندې ورغی. د نوي کور سالون ته ځیر و. شاه زمان له قهره مخ واړاوه. دلاور په لیند ډوله زینه پورته شو. شاه زمان ورپسې و. دلاور سالون ته داخل شو. ورو ورو د تاکاوۍ د زینې سر ته ورغی. لاندې یې وکتل. څوک نه ښکارېدل. د هغه ټول پام په کونج کې ورې چاردېوالۍ ته و. په زینه یو قدم کېوت. شاه زمان هم ورپسې سالون ته ننوت. کریم په حویلۍ کې له کونجه تاو شو. د چپې پښې په ځای یې لرګی په ځمکه لګاوه. د نوې ودانۍ په زینه وخوت. شاه زمان د لرګي ټک ټک واورېد. مخ یې وګرځاوه. کریم تومانچه ورباندې نیولې وه. په شونډو یې ګوته کېښوده. شاه زمان لاسونه جګ کړل. دواړه په زینه تاکاوۍ ته روان شول. هلته کریم په دلاور غږ وکړ:

– الکه! شاته ونه ګورې! ټوپک کېده!

هغه همداسې وکړه. کریم نژدې ورغی. ویې ویل:

– مخو نه دېوال ته کئ!

د دلاور ټوپک یې په لرګي لېرې ټېلواهه. پلاستیکي رسۍ یې ورکړه. نرۍ شونډې یې ورپېدلې:

– د شازمان لاسونه شاته وتړه! کلک یې وتړې!

دلاور همداسې وکړل. کریم وویل:

– اوس ته شا واړاوه!

خپله یې د رسۍ په بل سر دده لاسونه وتړل. بیا یې کلک سوک په خوله کې وواهه. هغه ولوېد. دده خپله هم سر وګرځېد. شاته چپه شو. بېرته کېناست. سر یې وځنډه. سترګې یې ښې خلاصې ونیولې. پاڅېد. لرګی یې د دلاور ملا ته واړاوه. هغه چیغې وهلې، ده وارونه کول. نجونو هم په زوره زوره ژړل. کریم همدا کار له شاه زمان سره هم وکړ. دواړه په ځمکه پراته وو. له پزو یې وینې تللې. د کریم جامې په خولو کې لندې خیشتې وې. مخامخ د دېوال بیخ ته کېناست. د ټوپک خوله یې ور اړولې وه. ویې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما په تاسې ظلم کړی؟
دواړو سرونه وښنډل.
– ستاسې مال مې خوړلی؟
هغوئ بیا سر وښنډه. کریم غاښونه وچیچل. لاس یې په دېوال ولګاوه پاڅېد. ویې ویل:
– ولې؟ ولې کنه نو؟
د دلاور په وینو سرې شونډې وخوځېدلې:
– د اجي رسول د لاسه داجي رسول.
د کریم نظر د هغه په مخ تم شو. ویې ویل:
– ای څپلۍ مخیه! زه درته کمقله ښکارمه؟ د اجي رسول په دې کې څه کار دی کنه نو؟
شاه زمان د خولې وینې تو کړې. غبر یې ووت:
– د اغه په موږ قرض دی.
کریم له چیغې سره مخ تاو کړ:
– په ما پورې یې څه کنه نو؟
– یو سلو شل لکه دي.
کریم مکمل راوګرځېد. خپل تندی یې په ګوتو کېکاږه. ورو یې وویل:
– یو سلو شل لکه؟ هه، تاسې په دونه پیسو څه کول؟
شاه زمان غلی شو. دلاور غبر کړ:
– تاته مو ندي ویلي لالا. موږ په پوډریانو پوډر خرڅوو پوډر. څه وخت مخکې یو سړی راغی. ډېر پوډر یې په کار وه. خارج ته یې وړل. ښه ګټه پکې وه. موږ د اجي د کس نه په قرض واخېستل. پوډر مو اغه سړي ته وړل. په لاره کې پولیسو ونیولو. خدای فضل وکه اجي راپیدا شو اجي. موږ یې پولیسو نه خلاص کړو.
شاه زمان او دلاور په څلورو شول چې کېښي. کریم سر وښنډه:
– تاسې خره وئ چې داکار مو کاوه؟
دلاور سر وخوځاوه:
– خره نو څه ته وایې؟
شاه زمان پزه په اوږه وسولوله. ویې ویل:
– بیا موږ د ځمکو قوالې ورکړې. خو اغه کمې وې. یوه افته وخت یې راکړی و. ویلې یا به پیسې راوړئ یا مو وژنمه.
کریم له درده وخندل:
– لېوني دی؟ چې تاسې مړه کې پیسې به یې څنګه شي؟
دلاور ژر وویل:
– اغه امداسې کوي.
– دا جنګ کې یې پلار نشي راتللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه زمان سر ښکته واچاوه، ویې ویل:
– ته یې مه منه.
– تاسې خو ژوندي یئ کنه نو.
– نن پینځو بجو پورې وخت شته.
کریم شا واړوله. ویې ویل:
– چې مانه مو پته کړې وه بلا مې درپسې. مانه څه غواړئ مانه؟
– خو اجي ستا د ښار ځمکه غواړي.
دلاور غبرګه کړه:
– ویلې ویې وژنئ، ځمکه یې درته په میراث پاتې کېږي. قرض پې خلاصېږي.
– تاسې ام ومنله؟
– نه، موږ اول تاته وویلې تاته. تا رانکړه.
– تاسې خو داسې ونه ویلې کنه نو.
شاه زمان ټېغې سترګې بلې خواته واړولې:
– څنګه مو ویلي وه؟ که ته خبر شوی وې چې موږ پوه د ر خرڅو و...
هغه خبره نیمه پرېښوده. کریم سر وخوځاوه:
– چې جنګ شو تاسې ته خدای درکړه کنه نو. هر کار وکه څوک نه خبرېږي. چې غلام او بختیار مو څنګه راضي کړه؟
دلاور وویل:
– موږ خبر وو چې اغوئ په پیسو هر کار کوي هر کار.
د کریم زړه ډک شو. سلګۍ یې ووهلې. ویې ویل:
– موبارک! تاسې کامیابه شوئ. موبارک! نازیه ګۍ او میر حمزه مو ووژل.
دواړو ورونو د پرتې ورېندار په لور وکتل. کریم په سلګیو کې غږ واېست:
– په تاسې لورګانې څونه ګرانې دي؟ امداسې په ما ام ښځه او بچی ګران دي کنه نو... یو بچی و ... پیدا کېدو پورې پاتې نشو...
ژړا یې د خبرو مخه نیوله. عمیقه سا یې واخېستله. ویې ویل:
– زه په ژوند کې نور څه لرمه؟ په خوب کې، په ویښه، په لمانځه کې مې بچی لیده. تاسې اغه رانه...
هغه په چیغو چیغو وژړل. نازیه وسونګېدله. بیا په اړخ واوښتله. کریم په ټوپونو ورغی. غږونه یې ورباندې وکړل:
– نازیې! نازیې!
هغه وبنګېدله:
– وی ح، ژوندی یمه ح.
د کریم بدن په سلګیو ولړزېده. په پای کې یې ژوره سا واخېستله. لاړې یې تېرې کړې. مخ یې ورونو ته وګرځاوه. ویې ویل:
– که زه ستاسې او تاسې زما په ځای وای ما سره مو څه کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دواړو له خولې خبره نه وتله. کریم مرمۍ تېره کړه. هغوئ هک پک کتل. وسیمه او هاجره وسونګېدلې. کریم دواړه له ستنې خلاصې کړې. په غېږ کې یې کلکې ونیولې. په مخ مخ یې ښکل کړې. ویې ویل:

– لېونو! تاسې خو زما ورېرې یئ. زه نو تاسې وژنمه؟ ما په تاسې دا دوه خره نیول کنه نو.

نجونو کلکه غېږه ورکړه. په زوره زوره یې وژړل. د دلاور هم بغارې شوې. نارې یې کړې:

– خدای ته وګوره! بد شوي. مرګ زموږ سترګې نیولې. عقل کار نه کوي عقل. ای لالا! چې ته هرڅه وایې اغه کوو.

د شاه زمان هم او ښکې وبهېدلې. کریم غاښونه وچیچل. ټوپک یې د دلاور په تندي کېښود. هغه سترګې ژرژر رپولې. سا یې تېزه تېزه اخېستله. هاجره وسونګېدله. کریم هغه پرېښود. ټوپک یې د شاه زمان په تندي ونیو. د هغه ټېغې سترګې بېخي له پولو راووتلې. دا ځل د وسیمې سونګی وخوت. کریم ژور تنفس کاوه. له ټوپک لېرې کولو سره یې یو دم شا واړوله. په برابر غږ یې وویل:

– ورېندار مو شفاخانې ته ورسوئ! زه چې هرڅه لرمه ستاسې شوه.

دواړه ورونه هک پک شول. ډار او ژړا یې وتښتېدل. باور یې نه کاوه. کریم غږ کړ:

– که ما مېله مو قبوله وي زر کوئ کنه نو.

دواړو ژر ژر سرونه وښورول. کریم یې لاسونه خوشې کړل. درېواړه د نازیې سر ته ودرېدل. د هغې سترګې نیمې خلاصې وې. له سا اخېستلو سره یې اوږد زګېروی وخوت. ملا یې له ځمکې جګه کړه. بېرته درب ولګېدله. شاه زمان کریم ته کړ:

– که په شفاخانه کې مړه شوه؟

– تاسې یې ژوندۍ ورسوئ. زما جایداد ستاسې شو.

دلاور تاو شو چې ورېندار په شا کړي. کریم غږ کړ:

– کراچۍ شته.

هغه یې په کراچې کې کېږه سملوله. دواړو ورونو د سترګو په رپ کې له حویلۍ واېستله. کریم او نجونې هم ورپسې شوې. د کوڅې په سر کې میرګل له درېو تنو سره ولاړ و. هغه وپوښتل:

– ترورزیه! چېرته چېرته؟

شاه زمان وویل:

– ورېندار مو ده. شفاخانې ته یې بیایو.

– بس ایجازه نشته ترورزیه.

دلاور دلاس ساعت ژر سترګو ته ور وړاندې کړ:

– پینځه ویشت دیقې خو شته پینځه ویشت دیقې. دو نه وخت کې مکمل اینجن جګېږي.

میرګل ببرې وروځې بره کش کړې:

– نه ترورزیه. بس اینجن بیا په اغې دونیا کې جګوه! دونه وخت کې ایله ورسېږو.

– د اجي صیب پیسو دپاره دا کار کوو کنه.

– بس مخکې به مو کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم لرګی په ځمکه لګاوه راورسېد. د نازیې په پښنو یې چادري سمه کړه. پوښتنه یې کوله چې څه خبره ده؟ د دواړو ورونو رنګ پک الوتی و. شاه زمان ټلېفون راواخېست. ویې ویل:

– ته ودرېږه! د اجي صیب سره وغږېږمه. الو! اجي صیب! ... هو کار شوی وبوله. خو ورېندار مې باید شفاخانې ته ورسومه... نه، وخت پوره ندی... نه نه، خو د کریم لالا سره زموږ ماميله امداسې ده... نه اغې ته ضرورت نشته خپله یې راکوي... شل دیقو کې به کوشش وکو... نه، خو... کېږي...

ټېلېفون بند شو. میرګل وویل:

– ترورزیانو! بس مخته شئ!

شاه زمان یو قرار ور کتل. په پای کې یې په آرامه غږ واېست:

– ته ودرېږه! دا ورېندار خو کور ته بوځو کنه. دو نه وخت خو شته.

ټول بېرته حویلۍ ته ننوتل. په تاکاوۍ کې شاه زمان ټلېفون راواخېست. ژر ژر یې ګوتې ووهلې. غوږ ته یې ونیو:

– الو! قوماندان صیب سرور یې؟...شازمان یمه، مالېم شازمان... ما ویلې یو کار وکه!... مریض لرمه. عاجل دی. شفاخانې ته یې بیایو...نه، لګېدلی ندی. ښځه ده. په ماشوم مریضه ده... د اجي رسول کسان مې نه پرېدي... ته څنګه پکې نه یې؟...دا خو ستاسې تاریخي مسولیت دی چې د ظلم مخه ونیسئ... ګوره... ته غوږ ونیسه...

ټلفون بند شو. هغه بله شمېره ووهله. ویې ویل:

– الو! نورعلي! ... نورعلي شهید شو؟... ته څوک یې؟ ... الله ګل؟... شازمان خبرې کومه... خدای ته وګوره خوریه! کومک وکه!... مریض مې مري... هو ورېندار مې ده... د اجي رسول راباندې پیسې دي. اوس شفاخانې ته مو نه پرېدي... څنګه دې په اجي زور نه رسي؟... هو کریم اوستاذ ژوندی دی...

ټلفون بند شو. هغه له ځان سره سپکې سپورې وویلې. دروازه وټکېدله. میرګل نارې کړې:

– ترورزیانو راووځئ کنه! پینځه لس دیقې پاتې شوې.

د شاه زمان خوله وچه وه. دلاور په ډک ستوني وویل:

– خبره خلاصه ده خلاصه. هاجرې لورې! مور ته دې وایه بخشش کوه!

غټه زنه یې ولړزېدله. شونډې یې مرۍ مرۍ شوې. درېواړه سالون ته وختل. خو وسله یوازې له کریم سره وه. میرګل غږ کړ:

– بس راوځئ که درپسې درشو؟

کریم نارې کړې:

– الکه! دا زما کور دی کنه نو. که ننوتلئ ګیله د ځانه کوئ!

د میرګل مخ تک سور شو. ویې ویل:

– ترورزیه! بس ستا ام اجل راغلی.

خپلو کسانو ته یې امر وکړ چې په کور واوړي. بېر څټې د دېوال له سره سالون تر برېد لاندې ونیو. دوه تنه د کنډو له لارې په کور ننوتل. کریم لرګی لګاوه روان شو. فرش شوې کوټې ته لاړ. د کړکۍ له لارې یې دواړه د دېوال په بېخ کې وویشتل. دلاور د سالون له کړکۍ هر څه لیدل. سر یې په دواړو لاسونو کې ونیو. کېناست. ویې ویل:

– ځه خبره بېخي خرابه شوه. اوس د اجي بریکونه څوک نیسي څوک؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرګل د کنډو له ځنګه د خپلو کسانو مړي ولیدل. ځنګ ته ولاړ ببر ځتې کس ته یې وویل:

– ترورزیه! بس دا ګوډ خو سم لیونی دی.

ملګري یې غاښونه وچیچل. په کور یې دوامداره ضربه وکړه. دننه وسیمه په منډه سالون ته راوختله. د ضربو له امله ولوېدله. په پروتو یې غږ کړ:

– اله کاکا ښځه! کاکا ښځه!

کریم له لرګي سره په یوه پښه په زینه منډه واخېستله. د نازیې سر ته ودرېد. هغې به شتهواهه بیا به ارامه پرېوتله. لکه سا چې نه اخلي. ده ورباندې غږونه وکړل. خو هغې هېڅ ډول عکس العمل نه ښود. کریم په زوره زوره وژړل. نجونو هم ورسره چیغې وهلې.

شاه زمان او دلاور ورسېدل. کریم یې له متو ونیو. هغه لاسونه کش کړل. ویې ویل:

– لاړه! نازیه مې ارمانجنه لاړه کنه نو.

سلګۍ یې ووهلې. بیا یې غږ ووت:

– وه میرحمزه مې! وه ومې نه لیده کنه نو.

ښه یې چیغې ووهلې. وروسته یې سر ښکته واچاوه. شا یې له سلګیو سره غورځېدله. خو غږ یې نه خوت. شاه زمان او دلاور نا ارامه تاوېدل. کریم او ښکې پاکې کړې. د لرګي په مرسته پاڅېد. شاه زمان ته له لاس اوږدولو سره یې وویل:

– ته ټلیفون راکه!

حاجي رسول ته یې زنګ وواهه. په برابر غږ یې وویل:

– زه درته په خپل کور کې منتظریمه...هو، د ښار د ځمکې قواله درکومه.

دواړو ورونو غټې غټې کتلې. نازیې شتهوهل. زګېروي یې وختل. په کریم بیا د سلګیو حمله راغله. ورونو ته یې مخ واړاوه:

– ځئ! شاته دېوال سوری دی. تاسې نجونې وباسئ! زه اجي سره ماميله خلاصومه.

دلاور وویل:

– موږ به ام یو موږ.

– نه، چې تاسې نه یئ ښه ده.

شاه زمان غږ کړ:

– تا یوازې نه پرېدو.

کریم نازیې ته مخ کړ. ویې ویل:

– زه ام یوازې نه پاتې کېږمه. ځئ چې اغه اوس رسېږي کنه نو.

دواړه ورونه او نجونې د کړکۍ په لور روان شول. کریم ورپسې غږ کړ:

– ما ویلې موږ دواړه ځنګ په ځنګ خښ کئ!

شاه زمان او دلاور یو بل ته وکتل. د کریم غږ بیا راغی:

– که میرحمزه مړ...

ستونی یې داسې وپړسېد چې خبرې یې بندې شوې. بیا یې هڅه وکړه:

– که بچی مې مړ پیدا و... اغه ته په منځ کې قبر جوړ کئ... چې دواړو ته نزدې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د سلګیو حمله وربانديږ راغله. ورونو یې هیڅ ونه ویل. د وړې کړکۍ له لارې یې اول لوښې وایستلې. ورپسې خپله وختل. د ودانۍ شاته تاو شول چې په سوري د دیوال ووځي. میرګل وربانديږ ټوپک ونیو. وپسېد:

– تروزیانو! بس خبرې ونکړئ!

ooooooooo

کریم څوړند سر په حویلۍ کې کېناست. لرګی یې څنګ ته کېښود. چې زړه به یې تښتېده نو خوله به یې آسمان ته کړه. ژوره سا به یې واخېستله. د دیوال له کنډو څخه یې لمر ته وکتل. له هرې خوا د ماشیندارو غږونه راتلل. دا مهال د کلي په کوز سر کې ډزې ودرېدلې. کریم غوږ ونیو. فکر یې وکړ چې یوه خوا ماته شوه. ورو ورو نژدې ډزې هم بندې شوې. الوتکې لا هم ګرځېدلې. له کوڅې څخه د موټر غرهار راغی. تورلنډ کروزر له دوو پیک آپو سره د کور مخې ته ودرېد. د ګڼو پښو درب درب شو. په لسګونو وسله وال په دروازه ننوتل. د حویلۍ په بېلابېلو برخو کې ځای په ځای شول. حاجي رسول او جبار ترشنې پردې تېر شول. کریم شواړ ناست و. حاجي د نوي کور څوړند چت ته وکتل. په درند و قدمونو وړاندې راغی. جبار وویل:

– کریم او ستاذه څنګه یې؟

هغه ځواب ورنه کړ. جبار خپلو پرتو مړو ته د لاس اشاره وکړه:

– تا زما کسان ووژل.

کریم بیا ځواب ورنه کړ. میرګل د نوې ودانۍ د دیوال له کونجه کتل. څنګ ته یې د شاه زمان او دلاور لاسونه تړلي او په ځمکه پراته وو. هاجره او وسیمه یې سرونو ته ناستې وې. په خولو یې دسمالونه تاو وو. دلته حاجي په آرامه کریم ته وویل:

– کاش چې دا عقل دې مخکې پیدا کړی و قوربان. ستا ورونه زما دوستان دي. زه د دوستانو...

کریم یې په خبرو کې ولوېد:

– دوستان؟ ههههه...

– ولې دې وخندل قوربان؟

کریم غټ سر وښنده. خوله یې وچه شوې وه. نرۍ شونډې یې ورپېدې:

– سړی دوستان نه غولوي کنه نو.

– موږ کې غولول مولول نشته قوربان. سپینه مامدینه ده.

د کریم په تندي درد شو. سترګو یې سیاهي وکړه. څوک یې سم نه لیده. په مخ یې لاس کش کړ. سترګې یې لږې روښانه شوې. په دمه دمه یې وویل:

– تا زما ورونو ته دام ایښی و. د دروغو ماېله دې جوړه کړې وه. بیا دې پوډر ورکړي وه. خریدار ام ستا کس و، پولیس ام.

په کونج کې د میرګل تندي ګونجې وکړې. حاجي په هوا کې څرخکې ته کتل. غږ یې ووت:

– ستا کړتو ته وخت نلرمه. ماېله خلاصوه قوربان!

کریم دوام ورکړ:

– پوډر ام ېبرته تاته رسېدلي کنه نو.

– زه داسې بې غیرته نه یمه. ته قاضي یې که قرضدار؟

کریم مخ اسمان ته کړ چې تنفس ښه وکړي. غږ یې کړ:

– پولیس څه خبر شوه چې دوئ سره دونه ډېر پوډر دي؟ بیا یې ولې ستا په خبره خوشې کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حاجي زړه تنګ او مخ لا سور شو. ژوره سا یې واخیستله. ویې ویل:
– تاته زما زور ندی مالوم قوربان.
کریم خپله خبره نه پرېښوده. ویې ویل:
– او دا ټوله خواري دې زما د ځمکې دپاره کړې ده کنه نو.
میرګل له کونج څخه قهرجن کتل. حاجي وویل:
– ستا ځمکه ماته په دریاب کې څاڅکی دی.
– تا ام یو یو څاڅکی امداسې ټول کړی چې دریاب شي کنه نو.
د حاجي سترمې وپړسېدلې. مخ یې واړاوه. له بېرته تاوولو سره یې وویل:
– ځمکه راکوې که نه؟
د کریم سا بندېدله. په ټټر یې لاس کلک وسولاوه. ښه لویه سا یې واخیستله. په آرامه یې وویل:
– ځمکه نه، جنګلاوه.
د حاجي تندی ګونجې شو. کریم سر وخوځاوه:
– ما یو وخت یو کس ته کور جوړ کړی و. ډېر رانه خوشاله دی. د جنګ نه خبر شوی و. زنګ یې راته وواهه. هغه ستا د کارونو ټوله کیسه راته وکړه. جنګلاوه، هههه ښه نوم دې پېژ ایښی. سېلاو کې چې خلک لرګي نیسي سېلاوه ورته وایي. په جنګ کې چې ته مالونه لوټې جنګلاوه یې بولې.
حاجي غاښونه وچیچل:
– ګل احمد اجي و؟
کریم موسکی شو. حاجي له قهره کټ کټ وخندل. ویې ویل:
– اغه دې ام راباندې خمیره که. ای! ځه دا یې جنګلاوه. څه دې د لاسه پوره دي قوربان؟
– ایڅ، تا د ببرک کارمل د وخته چورول پیل کړي. وښه! د کارمل د وخته دې جنګلاوه نیول پیل کړي. د دولت او مجاهدو قوماندانان به دې شریکان کړه. بیا به اغوئ قصدن کورونه ویشتل. په لوډسپیکر کې به یې ام نارې وهلې چې کورونه پرېدئ. ورپسې به ستا کسان ورغلل. هر څه به یې یوړه.
حاجي رسول شونډې کېکاږلې:
– ښه مالومات یې درکړي.
– اغې دونیا کې به یو د شېرو جواب څنګه وایې کنه نو؟
– کوم شېرو؟
– ځان ناګاره مه نیسه کنه نو! لېونی شېرو یادومه. د اغه کور دې ام چور کړی و. بیا دې ټوله کورنۍ ویشتې وه. چې ستا راز چاته ونه وایي. اغه خدای ژوندی پاتې که. خو ستا طالې وې. لېونی شو.
– کړتې بندې که چې تا نه بل شېرو جوړومه. جنګلاوه مې راکه!
– درکومه یې؟ یوه خبره راته اجیبه ښکاري. دونه دارایي سره اوس ام د خلکو واړه واړه شیان په جنګلاوه کې وړې.
حاجي خپل زوم ته وکتل. په شونډو کې موسکی شو. سپینه ګردکۍ ږیره یې وخوځېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اغه کار چې یوازې ته یې کولی شې بېل خوند لري قوربان.

جبار کټ کټ وخندل. نورو کسانو یې له هرې خوا پخوهل. کریم نری، شونډې ویټې کړې. هوا ته یې اشاره وکړه. ویې ویل:

– کار دې وشو. جنګ دې ختم که کنه نو.

حاجي سر وښنډه. غږ یې ووت:

– ځان ته هوښیار وایې خو کمقل یې قوربان. صفا جان اغا ختم که. اغه ستا ملګري یې ام دولت ته تسلیم کړه.

د کریم تندی ګونجې شو. حاجي په ملنډو وموسل. ویې ویل:

– د اغه شرطونه دولت ومنل، نور یې نو څه کول؟

– ښه؟ دا زموږ کلی یې د خپلو شرطونو د پاره وران که؟

حاجي سر وخوځاوه:

– هر څوک خو تا غوندې کمقله ندي. ښه ځه خبره خلاصوه قوربان! ډېره اوږده شوه.

کریم کاغذونه جګ ونیول. شونډې یې ورپېډلې:

– دا زما د ښار د ځمکې قواله ده، او دا اقرار، چې په تامې خرڅه کړې ده. زما د ورونو قوالې راکه! دا واخله!

حاجي وخندل. خپل مالي کس جان محمد ته یې اشاره وکړه. هغه په آرامو قدمونو موټر ته روان شو. حاجي وویل:

– ته ډېر زړور یې قوربان.

کریم د هغه څېره سمه نه لیدله. شونډې یې ورپېډلې:

– ما کې ډار ته ځای ندی پاتې.

د جبار ټلیفون ته زنګ راغی. هغه غوږ ته ونیو. ویې پوښتل:

– څوک دي؟... پولیس؟... د باغ حجره کې یې کېنوئ! قدر یې وکئ! موږ اوس راځو.

جان محمد بېرته راغی. حاجي د کریم په لور اشاره وکړه. هغه ورسره کاغذونه تبادله کړل. حاجي پاڼې واړولې راواړولې.

سترګې یې تېرې او سا اخېستل یې تېز شول. چیغه یې کړه:

– دا خو قوالې ندي.

کریم له جیبه د غټې خولې تومانچه را اېستې وه. هوا ته یې ونیوله. ډز یې وکړ. مرمۍ له رڼا سره جګه شوه. حاجي غږ کړ:

– دا دې څه وکړه؟

مرمۍ سیخ د حویلۍ په منځ کې په شنې پردې راکېوتله. کریم له بې حاله پرېوتو سره وویل:

– دې نه پس جنګلاوه ختمه کنه نو. ههههه

سور غلیظ لوګی پورته شو. طیارو مخونه راوګرځول. حاجي منډه واخېستله. په جان محمد او جبار یې چیغه کړه:

– ځان باسئ!

ساتونکو یې هم په وارخطایۍ هوا ته وکتل او په حاجي پسې یې وځغاستل. دا مهال شېرو لېونی راپیدا شو. حاجي یې دروازې ته نژدې په غېږ کې کلک ونیو. له ځان سره وغومبېد «جنګلاوه، جنګلاوه...» حاجي زورونه وهل چې ځان ترې خلاص کړي.

ساتونکي هم ورپسې نښتي وو. خو شېرو نه خوشې کاوه. طیارې راورسېدلې. په کور یې ضربې وکړې. بمونه یې وغورځول. دا کار یې درې ځله تکرار کړ. ټوله فضا توره لوخړه شوه. طیارو بېرته مخونه وګرځول. ورکې شوې.

ooooooooooo

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام قضا و. د دېوالونو سيوري د زړو کنډوالو په شان برېښېدل. هرې خوا ته چيغې وې. خلک د موټرو د ځراغونو مخې ته تېرېدل راتېرېدل. شاه زمان او دلاور منډې وهلې. د کريم د حويلۍ دېوالونه په تور لنډکروزر او دوو پيک آپو دپاسه پراته وو. د ننه يې د حاجي رسول، شېرو او جبار تر جسدونو پښې واړولې. نوی او زوړ کور له ځمکې سره برابر وو. وزه د لويو کنډو شاوخوا تاوېدله. خاوند ته يې رمباړې وهلې. دوئ کونج په کونج وګرځېدل. خو کريم يې ونه موند. سترګې يې ډکې شوې. بېرته تېز ووتل. دلاور شترنګ ته کېناست. موټر تېز حرکت وکړ. دواړه په شفاخانه کې د ښځو برخې ته ودرېدل. د نيلي چپنې ترور يې مخه ونيوله. شاه زمان په برابر غږ وپوښتل:

– اغه ښځه چې موږ راوړې وه، اغه څنګه شوه؟

شاته ميرګل ځواب ورکړ:

– ترورزيه! وراره پيدا شو. ورېندار ام ښه ده.

دواړه ورونه په وازو سترګو ورتاو شول. ميرګل په خپل لاس کې د ماشوم جامو ته اشاره وکړه. نرسې د هغه له لاسه کڅوړه واخېستله. د تګ په مهال يې وويل:

– مو بارک! مو بارک! بېرته راځمه. پلار يې څوک دی؟ شېريني به راکوي.

د دوئ له سترګو او ښکې راغلې. درېواړه په حويلۍ کې تر څراغ لاندې په اوږدې چوکۍ کېناستل. مخته يې د کوړيو وېښتانو ځوان تېر شو. شونډې يې شکېدلې او سترګې يې پړسېدلې وې. دا زړګی و. هغه چې د جبار په تاکاوۍ کې کريم خپل ټلېفون ورکړ. د عاجلې برخې نرسې ورڅخه کڅوړه واخېستله. زړګي وپوښتل:

– څنګه دی؟

– دی نو. تشويش مکوه! مشر ورور دې دی؟

زړګي د بېرته تګ په مهال سر وخوځاوه:

– ورور نه ام راتېر دی.

هغه په حويلۍ کې په چوکۍ کېناست. تر سرک هاخوا دلاور په سلګيو کې غږ واېست:

– زوی يې ونه ليده زوی.

ميرګل سر وخوځاوه:

– ترورزيه! بس چې پوه شومه چې زه يې ام غولولی يمه، ما ويلې د اجي رسول وينې وڅکمه. د کريم اوستاذ د ښځې خبره وه. که نه اول ما مرداروه.

زړګی پاڅېد. تر سرک تېر شو. د پلې لارې په سر اوږدې چوکې ته ودرېد. ويې پوښتل:

– دزرين کلا کريم اوستاذ خو نه يادوئ؟

درېواړه نېغ ودرېدل. ميرګل وپوښتل:

– ترورزيه! ته اغه څه پېژنې؟

زړګي سر غمجن وښوراوه. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– کیسه اوړده ده. زه جبار اختطاف کړی ومه. کریم اوستاذ خدایي الته راغی. ماته یې موبایل پرېښود. ما مې پلار ته زنګ وواهه. پولیسو وباسلمه. زه د جبار د خبرو نه پوه ومه چې کریم اوستاذ وژني. ما ویلې چې ورسره کومک ونکمه نه ځمه. کور مې پیدا که. بمبار شوی و. ډېر خلک مړه وو. اغه ام ټوک ټوک پروت و. مګر سا یې اخېستله. زر مې شفاخانې ته راوه.

ټولو یو بل ته وکتل. یو ځای عاجلې برخې ته روان شول. شاه زمان په تګ کې وویل:

– موړ یې ګورو.

زړګي یې مخه ونیوله:

– مه ځئ! اېځوک نه پرېدي.

ooooooooo

کریم کړکۍ ته کتل. دباندې فضا تکه توره وه. په کوټه کې زګېروي ختل. د ټولو مریضانو په مخونو پسې د اکسیجن ماسکونه نښتي وو. دې د سر دپاسه اوسپنیزې لکړې ته سترګې واړولې. د سېروم له کڅوړې یو یو څاڅکی په نري پایپ کې تویېده. زړه یې ډوب ډوب کېده. سا یې په سختۍ اخېستله. لاس یې جګ کړ چې د اکسیجن ماسک له مخه لېرې کړي. لاس یې درونډ و. ویې لیدل چې سر تر پښو په سپینو لتو کې تاو دی. یو ازې د ګوتو زېږ سرونه یې ښکارېدل. نارینه نرس یې سر ته ولاړ و. کریم ماسک لږ کش کړ. خرېدو ته ورته غږ یې واېست:

– زړه مې تنګ دی کنه نو.

نرس وویل:

– ماسک مه کشوه! خیر دی. اوصېله وکه! ښه کېږې.

– زه نه ښه کېږمه.

نرس موسکی شو. له ورې الماری څخه یې دوا راواخېستله. ویې پوښتل:

– درد نشې تېرولی؟ اوس به سېروم کې درته دغه زوروره پیچکاري وکمه. دردونه به دې دسې ورک شي. لکه نه چې وه.

– زما درد په پیچکارۍ نه ورک کېږي.

نرس یې ډکو سترګو ته ځیر شو. ښځه نرسه راغله. نارینه ته یې غوږ کې څه وویل. هغه دوا بېرته په الماری کې کېښودله. د کریم چپرکټ یې د دروازې په لور ټېلواهه. نرسې ورسره د اکسیجن ډبه په ټایرونو کشوله. په لوی دهلېز کې روان وو. کریم نه پوهېده چې چېرته یې بیایي. کړس شو. دده چپرکټ جېټکه وخوړه. نرسان لېرې لاړل. کریم مخ وګرځاوه. نازیه یې څنګ ته په بل چپرکټ کې ولیدله. سورمخی غومبرور ماشوم ورسره په خواړه خوب ویده و. د کریم سترګې راووتلې. د اکسیجن ماسک یې له غټې ګردې پزې او ننوتې خولې جګ کړ. ویې پوښتل:

– میر حمزه؟ میرحمزه؟

نازیې سر وخوځاوه. د دواړو اوښکې وڅڅېدلې. کریم ماسک په مخ خوشې کړ. سر یې په بالښت کېښود. اوښکې یې له سترګو لکه له چینې راووتلې. ښه زیات اکسیجن یې واخېستل. بیا یې ماسک له خولې ښکته ونیو. مخ یې مېرحمزه ته کړ. په دیدن یې نه مړېده. د لاس په لته یې سترګې پاکې کړې. شاوخوا یې وکتل چې خلک دده خوشحالي ویني که نه. د نرسانو څنګ ته یې دواړه ورونه له میرګل او زړګی سره ولاړ وو. کریم د زوی په لور اشاره وکړه. خرېدو ته ورته غږ یې ووت:

– میرحمزه وینئ میرحمزه؟

هغوئ سرونه وخوځول. ورونه یې نږدې ورغلل. کریم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه به ستاسې احسان ابځکله پوره نه کمه کنه نو.

هغوئ په ډکو سترګو موسکي شول. کریم ماسک په مخ کېښود. ښه يې نفس واخېست. لاس يې وغځاوه. د زوی په مخ يې ګوته ووهله. دلاور ماشوم په غېږ کې امانت ورکېښود. خپله يې هم کلک کړی و. کریم هماغسې ترې لاس تاو کړ لکه په خوبونو کې چې يې تاووه. ټټر يې تود شو. پښې او لاسونه يې ور ښکل کړل. سلګۍ يې ووهلې. ماشوم ويښ شو. وچونګېد. کريم اشاره وکړه چې مور ته يې ورکړئ. بیا يې ماسک جګ کړ. مخ يې ورونو ته واړاوه. په خرېدلي غږ يې وويل:

– زما ټول جايداد ستاسې دی.

دلاور په سږمو کې وپشېد. اوښکې يې پاکې کړې. ويې ويل:

– اصل کې موږ بايد تاته خپل جايداد درکو. موږ ستا په مرګ پسې اخستې وه. او تا موږ د مرګه بچ کړو د مرګه.

میرحمزه په کريکو شو. خوله يې خوځوله. تې يې غوښت. نازيې ګرېوان ته لاس کړ. شاه زمان او دلاور بېرته لاړل. میرحمزه د مور په تي خوله خښه کړه. کريم په موسکا کتل. اوښکې يې يو قرار جاري وې. سا يې په سختۍ اخېستله. ويې ويل:

– شوکر! ته ژوندۍ يې.

– وی، بېخي جوړه يمه. خېټه يې راڅيرې کړې. بېرته يې ګنډلې ده. درد نشته. ته څنګه يې؟

– ما نه په دونيا کې ښه نشته کنه نو. خو... خلک مې تبا کړه.

نازيه يې سترګو ته ځير شوه. کريم ژوره سا واخېستله. د ننوتې خوله نرۍ شونډې يې ورپېدلې:

– په اصل کې په کلي کې جنګ ما واچاوه. خدای تعالی به د هر يو د درد او مرګ پوښتنه مانه کوي کنه نو.

نازيې سر وښنده. ويې ويل:

– وی، اوس شوی کار دی. زړه پې مه خوره!

– نه کېږي. امدا مې ځوروي کنه نو. ما ويلې په جنګونو کې ښه او بد وي. ښه جنګونه نېکمرغي راولي. خو کمقل ومه کنه نو. جنګ يوازې بدمرغي راولي.

نازيې میرحمزه سينې ته ښه نژدې کړ. ويې ويل:

– وی، ولې داسې وايې؟ تا خو ټوپک ته لاس ام ندی کړی.

– د ټوپک نه ځان ساتل اسانه دي کنه نو. ځان نه به دېوال تاو کې. د کرکې او نفرت نه ځان ساتل سخت دي. اغه د اوسپنې دېوالونو نه ام تېرېږي. او ما نفرت خپراوه.

– وی، يوازې ته خو نه وې.

– هو، صفاجان اغا ما غوندې ډېر روزلي، او وبه يې روزي. خو زه به د خپلې ګونا جواب وايمه کنه نو. امدې کې خراب يمه.

هغه موسکی شو:

– يو کار مې کړی. خلک مې د اجي رسول د جنګلاوې نه خلاص کړه. که خدای مې په امدې وبښي کنه نو.

هغه د میرحمزه په اوږه لاس کېښود. ويې ويل:

– اوس د مرګ نه نه وېرېږمه. د بخت سره جنګ مې وګټه. زموږ لوی ارمان پوره شو. دا دی میرحمزه دې غېږ کې دی.

نازيې اوښکې وڅڅولې. د ماشوم په سر يې لاس تېر کړ. پېړې شونډې يې وخوځېدې:

– هو، میرحمزه مې غېږ کې دی. ای دا زموږ زوی دی. ګورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم سر وښوراوه:

– تاسې مور او زوی دې پر ښایسته ښکارئ کنه نو.

نازیه په روانو اوښکو موسکۍ شوه. څادر یې په سر سم کړ. څه ته یې پام شو. ویې ویل:

– ای سړیه! دلته چادري نه پرېږدي.

کریم غټ سر وخنډه. نرۍ شونډې یې ورپېدلې:

– امدا څادر دې ښه دی.

نازیې باور نه کاوه. د کریم خرېږ و ته ورته غږ بیا ووت:

– تا رښتیا ویلې. نېکمرغۍ ته د رسېدلو نه د اغې ساتل گران وي.

هغه میرحمزه ته گوته ونیوله:

– ته به همت کوې. دا نېکمرغي به ساتې.

– ولې یو ازې زه؟

کریم سترگې ورجگې نه کړې. له لنډې لنډې سا سره یې خبرو ته دوام ورکړ:

– میرحمزه باندې مکتب ووایه! پوهنتون پې ووایه! سړی تې جوړ که! چې خپل بخت یې په خپل لاس کې وي. چې د بل په خوله روان نه وي کنه نو. دې وطن کې امدا د سړو کمی دی بس. ځکه خو هرڅوک پکې جنگ اچوي، هرڅوک جنگلاوه نیسي.

– شوکر ته یې. ته یې کوه!

دا ځل کریم سترگې ورجگې کړې. خبرې یې وغځولې:

– ته تکړه شه! غم ونکې! غم د څه دپاره؟ ستا ارمان امپوره دی. زما ام کنه نو.

نازیې سر وخوځاوه. ویې ویل:

– وی غم نه مې دې خدای وساتي! غم ولې وکمه؟

– وعده ده؟

نازیه یې غټو سترگو ته ځیر وه. پېړې شونډې یې ورپولې:

– وعده ده.

د کریم ټتر تود شو. د هوسایۍ او کامیابۍ احساس یې کاوه. سر یې آرام په بالښت کېښود. سینه یې په خوند له هوا ډکه او بېرته تشه کړه. په شونډو یې نرۍ موسکا خوره وه. نابېره یې ستونی بند شو. غڑس یې کاوه. هوا یې په بې اندازه زور کشوله. ماسک یې ژر په مخ پرېښود. خو ستونی یې خلاص نه شو. پښې او لاسونه یې ولړزېدل. نازیه وارخطا کېناستله. نرسانو ورمنډه کړه. کریم د سا اخېستلو په سختۍ کې سر جگ کړ. نازیې ته موسکی شو. لړزېدونکی لاس یې وخوځاوه چې وارخطا نه شي. هغې د سر په اشاره ومنله. کریم یودم بې خوځښته پرېوت. نازیې په ټول زور کریکه کړه.

ooooooooo

دوه کاله وروسته ماشي سراچه د ښار په گڼه گوڼه کې روانه وه. دلاور موټر چلاوه. شاه زمان په مخکې سیټ کې ناست و. شاته وسیمې او هاجرې له میرحمزه سره تخنول کول. د ماشوم خوږه خندا په ټولو ښه لگېدله. ترڅنگ یې نازیې تورڅادر په سر سم کړ. د مکتب د دویم صنف کتاب یې سترگو ته نیولی و. په زړه کې یې لوستل کول. میرحمزه وپرنجېده. هغې غږ کړ:

– وی لکه چې یخ وواهه. دا ښیښه خو جگه کئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلاور د ښيښې تښۍ ته کوتې وروړې. شاه زمان وويل:

– ورېنداري! جمع او منفي دې بس ده. نن نه پس درته ضرب ښيمه.

موټر د لس منزله بنګلې ښويه حويلۍ ته په زينتي کټاره ننوت. د لويې دروازې پيک يې په سپين ټوکر پټ و. دلاور پاس وکتل. ويې ويل:

– شيش محل دی شيش محل.

د بنګلې مخې ته خلک راټول و. اکثره له زرين کلا څخه راغلي وو. خو تر پيک لاندې کسان شتمن مېلمانه ښکارېدل. دوئ له موټره کېوتل. زړګی او سپينږيری پلار يې په سپينو جامو او تورو واسکټونو کې مخې ته ورغلل. سپينږيري وويل:

– نازيې خورې! دا دی ستا په خوښه مو هرڅه نن ورځې ته تيار کړه.

نازيې مننه وکړه. شاه زمان او زړګی هم ورسره د خلکو منځ ته لاړل. ميرګل ورته د سلام اشاره وکړه. سپينږيري د لويې دروازې مخ ته د زينو په سر لاسونه وپړکول. ويې ويل:

– ورونو هرکله راشئ! موږ تاسې ته د ښار د دې نوې ودانۍ د افتتاح لپاره زحمت درکړی. خو بايد ووايم چې دا ودانۍ له نورو فرق لري. د دې بنسټ د پيسو د ګټلو د اميد په اساس نه، بلکې د خواخوږۍ او انساني مينې په اساس اېښودل شوی. که خدای ښلي کريم استاد د اختطافچيانو څخه د زړګي په خلاصولو کې کومک نه وای کړی، نن به دا ودانۍ نه وه.

خلکو سرونه وخوځول. سپينږيري خبرو ته دوام ورکړ:

– د دې ځمکه د محترمې بي بي نازيې ده. او تعمير پکې موږ جوړ کړی دی. يانې دواړه پکې برابر شريکان يو. خبرې نه اوږدومه. د نازيې خورکۍ نه هيله کوو چې د تعمير د مخ دا نقاب لرې کې!

نازيې د زړګي په لارښوونه رسۍ کشه کړه. لوی ټوکر ځمکې ته پرېوت. د ودانۍ د پيک په سر غټ ليکل شوي وو «ميرحمزه پلازا» ټولو چکچکې وکړې. د نازيې په سترګو کې نم وځليد. مخ ته شوه. ويې ويل:

– خير ويسئ! خدای دې ستاسې راتګ تاسې ته په نېکو کارونو کې ايساب کې. دا د کريم ارمان و چې دلته امداسې بنګله جګه کې. اجي صيب او زړګی دې خير يوسي چې د اغه دا ارمان يې پوره که. نن د اغه د مرګ ټيک دوه کاله کېږي. خو د کريم اخري ارمان دا و چې موږ سړي ولرو. داسې سړي چې نېکمرغي وساتي او د جنګ مخه ونيسي. که داسې سړي ولرو بيا به دا بنګلې ډېر وخته پورې ولاړې وي. او که نه، چې هرڅونه جګې او کلکې يې جوړې کو بېرته به ورانېږي. زه به دې بنګلې کې يوازې داسې کارونه وکمه چې د کريم دا بل ارمان ام پوره شي. او اغو کليوالو ته به پکې کار پيدا کوم چې د زرين کلا په جنګ کې يې ضرر ليدلی.

د چکچکو شور جګ شو. لاروي ودرېدل. د بنګلې سيل يې کاوه. نازيې له شاه زمان څخه ميرحمزه واخېست. هغه د هاجرې او وسيمې چکچکو ته کټ کټ وخندل. خپله يې هم نازک لاسونه وټکول.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**